# اعمال د رسولانو

## د روحُ القُدس وعده

١
۱ اے تیوفیلوسه، ما په خپل اول کِتاب کښې ټول هغه
څۀ ولیکل چې عیسیٰ د هغې په کولو او ښودلو شروع وکړه،
۲ د هغۀ آسمان ته د پورته کېدو تر ورځې پورې عیسیٰ د
روحُ القُدس په وسیله خپلو غوره شوو رسولانو ته نور
هدایات ورکړل. ۳ هغۀ د خپل مرګ نه پس هغوئ ته ځان
څرګند کړو او هغوئ ته يې ډېر ثبوتونه پېش کړل چې هغه
ژوندے دے او تر څلوېښتو ورځو هغه هغوئ ته ښکاره کېدو
او هغوئ ته يې د خُدائ پاک د بادشاهۍ په حقله تعلیم
ورکولو. ۴ ترڅو چې هغه د هغوئ سره وو نو هغۀ هغوئ
ته حکم وکړو چې، "یروشلم مۀ پرېږدئ، بلکې د هغه وعدې
انتظار وکړئ چې زما پلار کړې ده، د کومې په حقله چې
تاسو زما نه اورېدلی دی. ۵ یحییٰ به په اوبو بپتسمه
ورکوله خو په یو څو ورځو کښې به تاسو ته په روحُ القُدس
بپتسمه درکړے شی."

## د حضرت عیسیٰ آسمان ته ختل

۶ نو کله چې هغوئ یو ځائ راجمع وُو هغوئ د هغۀ نه
تپوس وکړو چې، "مالِکه، ولې دا هغه وخت دے چې تۀ به د
بنی اِسرائیلو بادشاهی بیا قائمه کړې؟" ۷ عیسیٰ جواب
ورکړو چې، "دا ستاسو کار نۀ دے چې د هغه وختونو او
تاریخونو په حقله پوهه شئ کوم چې زما پلار په خپل اختیار

مقرر کړې دی. ۸ خو تاسو ته به د روحُ القُدس په نازلېدو
طاقت درکړے شی او تاسو به په یروشلم کښې او په ټوله
یهودیه او سامریه کښې او د دُنیا تر بله سره زما ګواهان یئ.“
۹ کله چې هغهٔ دا وفرمائیل او هغوئ لا ورته کتل، چې هغه
پورته کړے شو او یوه وریځ راغله او هغه یې د هغوئ د
سترګو نه پناه کړو. ۱۰ کله چې هغه آسمان ته بره روان وو
او مریدانو آسمان ته نېغ نېغ کتل نو ناګهانه دوه سړی په
سپینو جامو کښې د هغوئ په خوا کښې ودرېدل. ۱۱ هغوئ
ووئیل چې، ”اے د ګلیل خلقو، تاسو دلته ولې ولاړ یئ او بره
آسمان ته ګورئ؟ دغه عیسیٰ څوک چې ستاسو نه آسمان ته
بوتلے شو، هغه به هم په دې طریقه واپس راشی څنګه چې
تاسو هغه آسمان ته په تلو ولیدو.“

## د یهوداه په ځائ متیاس مقررول

۱۲ بیا هغوئ د زیتُونو د غرهٔ نه یروشلم ته واپس شول کوم
چې یروشلم ته نزدې دے او د یروشلم نه تقریباً یو کیلومیټر
لرې وو. ۱۳ کله چې هغوئ راورسېدل نو هغوئ هغه
بالاخانې ته لاړل چرته چې هغوئ دېره وُو. څوک چې هلته
موجود وو هغوئ کښې پطروس، یوحنا، یعقوب، اندریاس،
فیلیپوس، توما، برتلمای، متی، یعقوب د حلفئ زوئ، شمعون
ننګیالے او یهوداه د یعقوب زوئ وو. ۱۴ هغوئ ټول په یوه
مخه په دُعا سر وُو او د هغوئ سره ښځې هم وې چې په
کښې مریم د عیسیٰ مور او د هغهٔ ورونه هم شامل وُو. ۱۵
په دغو ورځو کښې پطروس د ایماندارانو په مینځ کښې
ودرېدو چې دا ټوله ډله تقریباً په شمېر کښې شپږ شلې وه،
۱۶ او وې وئیل، ”دوستانو، هغه پېشګویانې چې په صحیفو

کښې ليکلې دی ضرور به پوره شی کومې چې د داؤد په
خولهٔ روحُ القُدس د يهوداه په حقله کړې وې چې هغه به د
عيسیٰ د ګرفتارونکو دپاره مُخبر شی. ۱۷ هغه زمونږ د قبيلې
نه يو وو او په دې خِدمت کښې زمونږ سره ملګرے وو.“ ۱۸
د خپلې مخبرۍ د قيمت په بدله کښې، يهوداه يو پټے واخستو
او هلته سر د لاندې راپرېوتو، خېټه يې وشلېده او ټولې کولمې
يې بهر راووتلې. ۱۹ په يروشلم کښې هر چا ته د دې خبرې
پته ولګېده نو هغوئ په هغه پټی په خپله ژبه کښې حقلدما نوم
کېښودو، چې مطلب يې د وينې پټے دے. ۲۰ او پطروس
ووئيل چې، ”په زبور کښې دا ليکلی دی چې، د هغهٔ کور دې
وران شی او داسې څوک دې پاتې نهٔ شی چې په هغې کښې
اوسی. او د هغهٔ د مشرۍ مقام دې نورو خلقو ته حواله شی.
۲۱ نو په کار دے چې يو سړے د يهوداه په ځائ مقرر کړو
د چا چې زمونږ سره د مالِک عيسیٰ د خِدمت په ټول وخت
کښې راشه درشه وه، ۲۲ د يحيیٰ د بپتسمې نه تر هغه وخته
پورې چې هغه زمونږ نه پورته کړے شو. نو چې مونږ څوک
منتخب کړو هغه به مونږ سره د عيسیٰ د بيا ژوندی کېدو
ګواه وی.“ ۲۳ نو هغوئ دوه کسان خوښ کړل، يوسف چې
په برسبا مشهور وو او يوستوس هم ورته وئيلے شو او دوېم
متياس وو. ۲۴ بيا هغوئ دُعا وکړه او وې وئيل چې، ”اے
مالِکه، تهٔ د ټولو د زړونو نه خبر يې، مونږ ته دا وښايه چې په
دوئ کښې تا کوم يو غوره کړے دے ۲۵ چې دا خِدمت او
رسالت سمبال کړی کوم چې يهوداه پرېښودو او هغه هلته
لاړو چرته چې هغهٔ ته تلل په کار وو.“ ۲۶ بيا هغوئ خسنړے
واچولو او هغه د متياس په نوم راوختلو. نو بيا هغه د يوولسو
رسولانو سره شامل شو.

# د روحُ القُدس نازلېدل

٢ ١ د فسحې اختر نه وروسته د پنځوسمې ورځ لمانځلو
دپاره ايمانداران ټول په يو ځائ راجمع شوى وُو، ٢
ناګهانه د آسمان نه د تېز باد په شان آواز راغلو او په هغه ټول
کور کښې خور شو چرته چې هغوئ ناست وُو. ٣ او
هغوئ د اور په شان ژبې وليدلې چې په خپلو کښې جدا
شوې، او په هغوئ هر يو نازلې شوې. ٤ او هغوئ ټول د
روحُ القُدس نه معمور شول او په نورو ژبو يې خبرې شروع
کړې څنګه چې روحُ القُدس د خبرو طاقت ورکړو. ٥ هغه
وخت په يروشلم کښې د آسمان د لاندې د هر قوم نه راغلى
پرهېزګاره يهوديان اوسېدل. ٦ کله چې هغوئ دا آواز
واورېدلو نو ګڼه راجمع شوه او هغوئ په دې حېران شول
ځکه چې هغوئ هر يو په خپله خپله ژبه د هغوئ نه خبرې
اورېدلې. ٧ په سختې حېرانتيا سره هغوئ تپوس وکړو
چې، ”دا ټول ګليليان نۀ دى چې خبرې کوى څۀ؟ ٨ نو بيا
دا څنګه کېدے شى چې مونږ هر يو د هغوئ نه زمونږ په
مورنۍ ژبه خبرې اورو؟ ٩ يعنې پارتهيان، ميديان،
عيلاميان، او د مسوپتاميه اوسېدونکى، د يهوديه، کپدوکيه،
پونطوس، آسيه، ١٠ فروګيه، پمفوليه، مِصر، ليبيا د ضلعو
چې د کرينى طرف ته دى او هم رومى مسافران، ١١
يهوديان او نوې يهوديان شوى دواړه، کريتيان او عرب، مونږ
ټول اورو چې هغوئ د خُدائ پاک لوئ کارونه زمونږ په خپلو
ژبو کښې بيانوى.“ ١٢ هغوئ ټول حېران او پرېشانه وُو او
يو بل ته يې ووئيل چې، ”د دې څۀ مطلب دے؟“ ١٣ خو
ځينو په هغوئ پورې ټوقې وکړې او وئ وئيل چې، ”دوئ د

شرابو په نشه کښې دی.“

## د پطروس بیان

۱۴ بیا پطروس د نورو یوولسو تنو سره پاڅېدو او په اوچت
آواز يې ګڼې ته بیان وکړو، ”اے یهودیانو ملګرو او د یروشلم
اوسېدونکو، څهٔ چې زهٔ وایم هغه غور سره واورئ. ۱۵ دا
کسان د شرابو په نشه کښې نهٔ دی لکه څنګه چې ستاسو
خیال دے ځکه چې اوس خو لا د سحر نههٔ بجې دی. ۱۶
خو دا هغه څهٔ دی چې یوایل نبی د هغې په حقله وئیلی ؤو
چې، ۱۷ خُدائ پاک فرمائی، د دې ټولو کارونو کولو نه
وروستو به زهٔ خپل روح په ټولو خلقو نازل کړم. ستاسو
زامن او لوڼه به نبوت کوی. ستاسو مشران به خوبونه وینی،
او ستاسو ځوانان به رویا ګانې وینی. ۱۸ تر دې چې زهٔ به
په هغه ورځو کښې په خپلو نوکرانو سړو او ښځو دواړو خپل
روح هم نازل کړم او هغوئ به نبوت کوی. ۱۹ او زهٔ به په
آسمانونو او زمکه کښې حېرانونکی نښې یعنې وینه، اور او د
لوګی برجی ښکاره کړم. ۲۰ نمر به تور شی، او سپوږمۍ به
لکه د وینو تکه سره شی مخکښې د دې نه چې د مالِک خُدائ
د قیامت هغه لویه او هیبتناکه ورځ راورسیږی. ۲۱ خو
څوک چې د مالِک خُدائ په نوم مدد وغواړی هغه به بچ شی.
۲۲ اے د بنی اِسرائیلو خلقو، دا خبرې واورئ چې، عیسیٰ
ناصری یو سړے وو چې خُدائ پاک تاسو ته په معجزو او په
عجیبه کارونو او نښو سره د هغهٔ تصدیق وکړو، کومې چې
خُدائ پاک د هغهٔ په وسیله ستاسو په مینځ کښې وکړې، لکه
څنګه چې تاسو ته په خپله پته ده. ۲۳ دا سړے د خُدائ
پاک د خاص منصوبې او د پوهې په مطابق تاسو ته حواله

کړے شو او تاسو هغه د بې‌دينه خلقو په وسيله په سولۍ وخېژولو او مړ مو کړو. ۲۴ خو خُدائ پاک هغه بيا راژوندے کړو او د مرګ د تکليفونو نه يې خلاص کړو ځکه چې د دې امکان نۀ وو چې مرګ په هغۀ قبضه وکړی. ۲۵ حضرت داؤد د هغۀ په حقله فرمائی چې، ”زۀ په دې پوهېږم مالِک خُدائ همېشه راسره دے. هغه ما سره په خوا کښې دے نو زۀ به نۀ غورزېږم. ۲۶ نو ځکه مې زړۀ خوشحاله دے خوشحالېږم، ژوند کوم او په امان کښې اوسېږم، په دې وجه زما زړۀ خوشحاله دے او زما ژبه خوشحالی کوی، بلکې زما بدن به هم په اُميد کښې اوسی، ۲۷ ځکه چې تۀ به زما روح عالمِ ارواح ته پرې نۀ ږدې او نۀ به تۀ خپل قُدوس خاوره کېدو ته پرېږدې. ۲۸ تۀ به ما ته د ژوندون لارښودنه وکړې، د خپل حضور خوند به ما ته راکړې، تا سره د تل ژوندون خوشحالی به ما ته راکړې.“ ۲۹ زما دوستانو، زۀ به درته په اطمينان سره دا ووايم چې نيکۀ داؤد وفات شوے وو او ښخ کړے شوے وو او د هغۀ قبر تر نن ورځې دلته موجود دے. ۳۰ خو داؤد پېغمبر وو او هغۀ ته پته وه چې خُدائ پاک هغۀ سره وعده او قسم کړے دے چې د هغۀ د اولاد نه به هغه يو کس د هغۀ په تخت کښېنوی. ۳۱ هغه د مستقبل نه خبر وو نو هغۀ د مسيح د بيا ژوندی کېدو په حقله وئيل چې، نۀ به هغه عالمِ ارواح کښې پرېښودلے شی، او نۀ به د هغۀ بدن خاوره کېدو ته پرېښودلے شی. ۳۲ هم دغسې خُدائ پاک عيسیٰ بيا راژوندے کړو او مونږ ټول د دې حقيقت ګواهان يُو. ۳۳ نو بيا هغه د خُدائ پاک ښی لاس ته وخېژولے شو، هغۀ د پلار نه وعده کړے شوے روحُ القُدس حاصل کړو او په مونږ يې رانازل کړو کوم چې نن سبا تاسو

وینئ او اورئ. ۳۴ خو داؤد په خپله آسمان ته نهٔ وو ختلے
خو هغه هم وائی چې، ”مالِک زما مالِک ته وفرمائیل چې زما
ښی لاس ته کښېنه، ۳۵ ترڅو چې ستا دشمنان ستا تر پښو
لاندې کړم.“ ۳۶ نو ځکه دې ټول بنی اِسرائیل په دې پوهه
شی چې کوم عیسیٰ چې تاسو په سولۍ کړے وو خُدائ پاک
هم هغه مالِک او مسیح کړو.“ ۳۷ چې کله خلقو دا واورېدل
نو زړونه یې مات شول او پطروس او رسولانو ته یې ووئیل
چې، ”اے ورونړو، نو مونږ ته څهٔ کول په کار دی؟“ ۳۸
پطروس هغوئ ته ووئیل، ”توبه ګار شئ او تاسو هر یو د
خپلو ګناهونو د معافۍ دپاره د عیسیٰ مسیح په نوم بپتسمه
واخلئ او تاسو ته به د روحُ القُدس نعمت مِلاو شی. ۳۹
ځکه چې دا وعده ستاسو او ستاسو د اولاد دپاره ده او د
هغوئ ټولو دپاره ده څوک چې لرې اوسېږی او د هغوئ ټولو
دپاره چې زمونږ مالِک خُدائ پاک ځان ته رابللی دی.“ ۴۰
او پطروس په داسې نورو ډېرو خبرو د هغوئ ډاډګیرنه وکړه
او ورته یې ووئیل چې، ”خپل ځانونه د دې خرابې پیړۍ نه
وساتئ.“ ۴۱ چا چې د هغهٔ پېغام قبول کړو هغوئ ته بپتسمه
ورکړے شوه، او په هغه ورځ تقریباً درې زره کسان د هغوئ
د قبیلې سره ملګری شول. ۴۲ ټولو ایماندارانو خپل ځانونه
د رسولانو تعلیم، ملګرتیا، په شریکه روټۍ او د دُعا دپاره
وقف کړی وُو.

## د ایماندارانو په خپلو کښې ژوندون تېرول

۴۳ په هر چا یره وه ځکه چې رسولانو د خُدائ پاک په
وسیله معجزې او عجیبه کارونه کول. ۴۴ او ټول ایمانداران
په یو ځائ راجمع کېدل او په هر څهٔ کښې شریک وُو. ۴۵

او هغوئ خپل مال اسباب خرخولو او هر چا ته يې د حاجت
په مطابق پېسې ورکولې. ۴۶ هغوئ به هره ورځ په يو زړهٔ د
خُدائ په کور کښې راجمع کېدل او په کورونو کښې به يې په
شريکه روټۍ خوړله او خپل خوراک به يې په خوشحالۍ او په
صفا زړهٔ يو بل سره شريکولو. ۴۷ هغوئ د خُدائ پاک ثنا
وئيله، او ټول خلق ترې راضى وُو. هره ورځ څومره خلقو
چې خلاصون موندلو نو مالِک د هغوئ په ډله کښې شاملول.

## د پطروس يو شل ته شفا ورکول

۳ ۱ يوه ورځ ماسپښين درې بجې د عبادت په وخت
پطروس او يوحنا د خُدائ کور ته تلل. ۲ نو يو سړے چې
پيدائشى شل وو هغه د خُدائ د کور هغه دروازې ته راوستے
شو چې ورته ښکلې دروازه وائى. هغه به هره ورځ دې دپاره
راوستے شو چې د هغه خلقو نه خېرات وغواړى چې د
خُدائ کور ته ننوتل. ۳ چې کله هغهٔ پطروس او يوحنا د
خُدائ کور ته په ننوتو وليدل نو خېرات يې ترې وغوښتو. ۴
نو پطروس او يوحنا هغهٔ ته نېغ وکتل او پطروس ورته ووئيل،
”مونږ ته وګوره.“ ۵ نو هغه سړى دوئ ته په غور سره
وکتل او د خېرات طمع يې ترې کوله. ۶ خو پطروس ورته
ووئيل چې، ”ما سره سرهٔ زر يا سپين زر نشته خو څهٔ چې
ما سره دى هغه زهٔ تا له درکوم. د عيسىٰ مسيح ناصرى په
نوم پاځه او وګرځه.“ ۷ بيا پطروس هغه د ښى لاس نه
ونيولو، او د هغهٔ په ودرولو کښې يې مدد وکړو او سمدستى
يې په ښپو او ګيټو کښې طاقت پيدا شو. ۸ هغهٔ ټوپ کړو
او په خپلو ښپو ودرېدو او په ګرځېدو شو. نو بيا هغه د هغوئ

سره د خُدائ پاک کور ته ورننوتو، هغه په خپله روان وو او
ټوپونه يې وهل او د خُدائ ثناء يې وئيله. ٩ کله چې ټولو
خلقو هغه په تلو او د خُدائ پاک په ثنا وئيلو وليدلو ١٠ او
هغوئ وپېژندلو چې دا خو هغه سړے دے څوک چې به د
خُدائ د کور د ښکلې دروازې سره ناست وو او خير به يې
غوښتو، نو څهٔ چې دهٔ سره شوی وُو، هغوئ په دې حق
حېران شول.

## د خُدائ پاک په کور کښې د پطروس بيان

١١ هغه وخت چې هغه خير مار پطروس او يوحنا کلک
نيولی وُو نو ټول خلق په حېرانتيا او په منډه هغه ځائ ته
راغلل چې ورته د سليمان ډيوړۍ وائی. ١٢ چې کله پطروس
دا وليدل نو هغوئ ته يې ووئيل چې، ”اے بنی اِسرائيلو، تاسو
په دې ولې حېران شوئ او تاسو ولې مونږ ته ګورئ چې ګنې
دا سړے مونږ په خپل طاقت يا په خپلې دينداری د ګرځېدو
کړو؟ ١٣ خو دا د اِبراهيم، د اِسحاق او د يعقوب خُدائ
پاک، زمونږ د پلار نيکونو خُدائ پاک خپل خادِم عيسیٰ ته
جلال ورکړو. تاسو هغه د مرګ دپاره حاکمانو ته حواله کړو
او د پيلاطوس په وړاندې مو هغه رد کړو، اګر چې پيلاطوس
د هغهٔ د پرېښودو فيصله کړې وه. ١٤ خو تاسو يو مقدس
او صادق سړے رد کړو او د دې په ځائ مو د يو قاتِل د
خلاصولو دپاره زاری وکړه. ١٥ تاسو د ژوندون ورکولو
سردار ووژلو، خو خُدائ پاک هغه د مړو نه بيا ژوندے کړو.
مونږ د دې ګواهان يُو. ١٦ د عيسیٰ په نوم د ايمان په وسيله،
دا سړے چې تاسو يې وينئ او پېژنئ ورته طاقت ورکړے
شو. د عيسیٰ په نوم ايمان دې سړی ته مکمله شفا ورکړه او

تاسو ټول يې وينئ. ۱۷ او اوس زما ورونړو، ما ته پته ده چې
تاسو او ستاسو مشرانو دا کار په ناپوهۍ کښې وکړو، ۱۸
خو په دې طريقه خُدائ پاک هغه پېشګويۍ پوره کړې چې
هغۀ د ټولو نبيانو په وسيله کړې وې چې د هغۀ مسيح به
تکليف وزغمی. ۱۹ نو توبه وکړئ او خُدائ پاک ته
راوګرځئ چې ګناهونه مو معاف شی. ۲۰ نو د مالِک د
حضور نه به په تاسو د سکون وخت راشی او هغه به تاسو ته
بيا عيسیٰ چې مسيح دے درولېږی چې ستاسو دپاره مقرر
شوے دے. ۲۱ د دُنيا د هر څۀ د بيا نوې کېدو وخت پورې
هغه به په آسمان کښې پاتې وی څنګه چې خُدائ پاک د ډېر
وړاندې نه د مقدسو نبيانو په وسيله وعده کړې ده. ۲۲ ځکه
موسیٰ وفرمائيل چې، ”خو مالِک خُدائ پاک به تاسو ته زما
په شان يو پېغمبر راولېږی چې هغه به ستاسو د خپلو خلقو نه
وی او تاسو به د هغۀ تابعداری کوئ. ۲۳ هغه به زما په نوم
خبرې کوی او هر څوک چې د هغۀ د منلو نه اِنکار وکړی نو
سزا به ورکړم.“ ۲۴ حقيقت کښې سموئيل او ټول نبيان چې
د هغۀ نه پس راغلل هغوئ هم د دې موجوده حالاتو پېشګوئې
وکړه. ۲۵ او تاسو د نبيانو او د هغه وعدې وارثان يئ چې
خُدائ پاک ستاسو پلار نيکونو سره کړې وه. هغۀ اِبراهيم ته
وفرمائيل چې، ”د زمکې ټول قومونه به ستا د اولاد په وسيله
برکت ومومی.“ ۲۶ کله چې خُدائ پاک خپل خادِم عيسیٰ
راوچت کړو نو اول يې هغه تاسو ته درولېږلو چې تاسو له
برکت درکړی چې تاسو هر يو د خپلو بدو لارو نه واړوی.“

## پطروس او يوحنا جرګې ته حواله کول

۴ ۱ پطروس او یوحنا لا خلقو ته بیان کولو چې مشران
اِمامان او د خُدائ د کور د محافظانو آفسر او صدوقیان
هغوئ ته راغلل. ۲ هغوئ په دې ډیر خفه شول ځکه چې
رسولانو خلقو ته دا تعلیم او پیغام ورکولو چې څنګه عیسیٰ د
مړو نه را ژوندے شو دغه شان به مړی هم د هغهٔ په شان
راژوندی کیږی. ۳ هغوئ پطروس او یوحنا ګرفتار کړل او
په قیدخانه کښې یې تر بلې ورځې واچول، ځکه چې ماښام
وو. ۴ خو ډیرو کسانو چې دا کلام واوریدو، ایمان یې
راوړو او د سړو شمیر تقریباً پینځهٔ زره کسانو ته ورسیدو.
۵ په بله ورځ حاکمان، مشران او د شرعې عالمان په
یروشلم کښې راجمع شول، ۶ مشر اِمام اناس او کائفس،
یوحنا او سکندر او ورسره د مشر اِمام د خاندان نور خلق
هم هلته وُو. ۷ هغوئ پطروس او یوحنا د هغوئ وړاندې
راوستل او تپوسونه یې ترې وکړل چې، ”تاسو په کوم طاقت
یا د چا په نوم دا کار کړے دے؟“ ۸ بیا پطروس له روحُ
القُدس نه معمور شو او هغوئ ته یې ووئیل، ”اے د خلقو
حاکمانو او مشرانو. ۹ کهٔ چرې نن زمونږ نه د هغه نیک
کار تپوسونه کوئ چې د هغه ګوډ سړی سره مو څهٔ کړی دی
او دا تپوس کوئ چې هغه څنګه روغ شو، ۱۰ نو په دې پوهه
شئ تاسو او د بنی اِسرائیلو ټولو خلقو چې، دا سړے ستاسو
په وړاندې د عیسیٰ مسیح ناصری د نوم په وسیله روغ ولاړ
دے، څوک چې تاسو په سولیٔ کړو خو خُدائ پاک هغه د
مړو نه بیا راژوندے کړو. ۱۱ دا عیسیٰ ”هغه کاڼے دے چې
تاسو ګِلکارانو رد کړے وو او هغه د ګوټ سر کاڼے شو.“
۱۲ د بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه چې په ټوله دُنیا
کښې بل نوم هیچا ته نهٔ دے ورکړے شوے چې په هغې مونږ

خلاصون ومومو.“ ۱۳ کله چې دوئ د پطروس او یوحنا
زړۀ ورتیا ولیدله او دا هم ورته معلومه شوه چې دوئ عام او
بې‌علمه خلق وُو، نو هغوئ حیران شول او وې پېژندل چې دا
د عیسیٰ ملګری وُو. ۱۴ خو چې هغوئ هغه سړے روغ جوړ
د دوئ سره ولاړ ولیدلو نو هغوئ سره د دې خلاف د وئیلو
هیڅ نۀ وو. ۱۵ نو هغوئ ورته حُکم ورکړو چې د جرګې نه
وځئ او بیا یې په خپل مینځ کښې په دې صلاح مشوره شروع
کړه. ۱۶ هغوئ ووئیل چې، ”مونږ دې سړو سره څۀ وکړو؟
ځکه چې په یروشلم کښې هر چا ته پته ده چې یوه نا آشنا
معجزه دوئ کړې ده او مونږ د دې نه اِنکار نۀ شو کولے.
۱۷ خو د دې دپاره چې په خلقو کښې دا خبره نوره خوره
نۀ شی، مونږ ته په کار دی چې دې سړو ته خبردارے ورکړو
چې نور به په دغه نوم د هیچا سره خبرې نۀ کوی.“ ۱۸ بیا
یې هغوئ دننه راوبلل او حُکم یې ورکړو چې، ”د عیسیٰ په
نوم به هیڅ قسم خبرې یا تعلیم نۀ ورکوئ.“ ۱۹ خو پطروس
او یوحنا هغوئ ته په جواب کښې ووئیل، ”تاسو په خپله
اِنصاف وکړئ چې ولې د خُدائ پاک په نظر کښې دا خبره
ټیک ده چې مونږ د هغۀ په ځائ ستاسو ومنو. ۲۰ مونږ د
هغه څۀ په حقله د وئیلو نه نۀ شُو منع کیدے څۀ چې مونږ
لیدلی او اورېدلی دی.“ ۲۱ په دویم ځل یې سخت خبردارے
ورکړو او پرې یې ښودل. هغوئ دا فیصله ونۀ کړے شوه
چې دوئ ته څنګه سزا ورکړی، ځکه چې ټولو خلقو په هغه
شوی کار د خُدائ پاک ثنا وئیله. ۲۲ نو چې کوم سړی ته
په مُعجزانه طور شفا مِلاو شوې وه د هغۀ عُمر د څلوېښتو
کالو نه زیات وو.

## د ایماندارانو د زړۀ ورتیا دپاره دُعا

۲۳ کله چې پطروس او یوحنا آزاد کړے شول نو هغوئ
خپلو ملګرو له لاړل او هغه هر څۀ یې ورته ووئیل څۀ چې
مشرانو اِمامانو او مشرانو هغوئ ته وئیلی وُو. ۲۴ کله چې
هغوئ دا واوریدل نو هغوئ په جمع په اوچت آواز خُدائ
پاک ته دُعا وکړه او وئ وئیل، ”اے مالِکه، د زمکې آسمان
او سمندر او هر څۀ چې په دې کښې دی د هغې خالقه، ۲۵
دا تا د روحُ القُدس په وسیله زمونږ د نیکۀ داؤد په خولۀ
فرمائیلی وُو چې، ”قومونه ولې په قهر شول او اُمتونه ولې
بې‌فائدې سازشونه کوی؟ ۲۶ د دُنیا بادشاهان راپورته شول
او حاکمان د مالِک خلاف او د هغۀ د مسیح په خلاف یو
ځائ شول.“ ۲۷ په حقیقت کښې په دې ښار کښې
هیرودیس او پنطوس پیلاطوس دواړه د غیر یهودی قومونو او
د بنی اِسرائیلو خلقو سره ستا د پاک خادِم عیسیٰ چې تا
مسح کړے دے، خلاف یو ځائ شول، ۲۸ چې هغه هر څۀ
وکړی کوم چې ستا د لاس لاندې او ستا په حُکم د مخکښې
نه مقرر شوی وُو. ۲۹ او اوس اے مالِکه، د هغوئ دهمکیانو
ته غور وکړه او خپلو خادِمانو ته پوره زړۀ ورتیا ورکړه چې
ستا کلام بیان کړی. ۳۰ خپل لاس راوږد کړه چې شفا
ورکړی او معجزې نښې او عجیبه کارونه ستا د پاک خادِم
عیسیٰ د نوم په وسیله وکړی.“ ۳۱ کله چې هغوئ دُعا وکړه
نو په کوم کور کښې چې هغوئ راغونډ شوی وُو، هغه
وجرړیدلو او هغوئ ټول په روحُ القُدس معمور شول او د
خُدائ پاک کلام یې په زړۀ ورتیا بیان کړو.

## د ايماندارانو يووالے

۳۲ ټول ايمانداران په يو زړۀ وو او چا هم دا دعوىٰ نۀ کوله
چې دا د هغوئ ملکيت دے بلکې هغوئ سره چې څۀ هم وو
هغه يې شريک کړل. ۳۳ په ډېر لوئ قدرت سره رسولانو د
مالِک عيسىٰ د بيا راژوندى کېدو ګواهى ورکوله او په هغوئ
ټولو باندې د خُدائ پاک لوئ برکت وو. ۳۴ په هغوئ کښې
يو کس هم حاجتمند پاتې نۀ وو ځکه چې د چا سره چې کور
يا جائيداد وو هغه يې خرڅ کړل او د هغې قيمت يې راوړلو،
۳۵ او د رسولانو په حضور کښې به يې پېش کولو. بيا هغه
پېسې به يې هر هغه چا ته ورکولې د چا به چې ضرورت وو.
۳۶ نو يوسف نومې يو ليوى وو چې د قبرص اوسېدونکے
وو او رسولانو به ورته برنباس وئيلو چې معنىٰ يې ډاډ
ورکوونکے دے. ۳۷ او هغۀ خپل څۀ جائيداد خرڅ کړو. او
د هغې قيمت يې راوړو او هغه يې د رسولانو په حضور کښې
پېش کړو.

## حنانياس او سفيره

۵ ۱ خو يو بل سړے وو چې نوم يې حنانياس وو، هغۀ د
خپلې ښځې سفيره سره يو ځائ څۀ جائيداد خرڅ کړو. ۲
د خپلې ښځې په صلاح يې د قيمت څۀ حِصه د ځان سره
وساتله او څۀ يې راوړه او د رسولانو په حضور کښې يې پېش
کړله. ۳ خو پطروس ووئيل چې، ”حنانياس، دا شيطان
درباندې څنګه غالب شو چې تۀ روحُ القُدس ته دروغ وائې او
د زمکې د قيمت څۀ حِصه دې ځان ته پرېښوده؟ ۴ ترڅو
چې درسره وه دا ستا نۀ وه څۀ؟ هر کله چې دا خرڅه شوه

نو پېسې ستا نهٔ وې څهٔ؟ نو تا دا سوچ څنګه وکړو؟ تا نهٔ صرف خلقو ته بلکې خُدائ پاک ته دې دروغ ووئيل.“ ۵ کله چې حنانياس دا خبرې واورېدلې نو هغه سر د لاندې راپرېوتو او په ټکی مړ شو او چا چې دا خبره واورېدله نو هغوئ ټول يرې واخستل. ۶ بيا څو ځوانان راپاڅېدل د هغهٔ لاش يې کفن کړو، او د هغه ځائ نه يې بهر يوړو او دفن يې کړو. ۷ بيا درې ګېنټې پس د هغهٔ ښځه راغله، هغې ته پته نهٔ وه چې څهٔ شوی وُو. ۸ پطروس هغې نه تپوس وکړو چې، ”ما ته ووايه، تا او حنانياس ته د زمکې هم دومره قيمت مِلاو شوے وو؟“ هغې ووئيل چې، ”آو، هم دغه قيمت ملا شوے وو.“ ۹ بيا پطروس هغې ته ووئيل، ”نو بيا تاسو دواړو ولې د مالِک روح وآزمائيلو؟ ګوره هغه خلق په دروازه کښې ولاړ دی چا چې ستا خاوند ښخ کړو او هغوئ به اوس تا هم بهر يوسی.“ ۱۰ هم هغه وخت هغه د هغهٔ په پښو کښې سر د لاندې راپرېوتله او په ټکی مړه شوه. بيا ځوانان دننه راغلل هغوئ هغه مړه وليده نو هغوئ هغه بهر يوړه او د خاوند په خوا کښې يې ښخه کړه. ۱۱ هر چا چې د دې واقعې په حقله واورېدل نو په ټولو خلقو او په جماعت کښې سخته يره خوره شوه.

## د رسولانو معجزې او عجيبه کارونه

۱۲ اوس ډېرې معجزې او عجيبه کارونه د خلقو په مينځ کښې د رسولانو په وسيله وشو. او ټول ايمانداران به د سليمان په ډېوډۍ کښې راغونډېدل. ۱۳ نو چا هم د هغوئ سره د ګډون کولو جرأت نهٔ کولو، اګر چې خلقو د هغوئ ډېر عزت کولو. ۱۴ سره د دې ډېرو سړو او ښځو په مالِک

ایمان راوړو او د هغوئ په ډله کښې شامل شول. ۱۵ هم دغه شان خلقو بیماران په کټونو او درو باندې واچول او بهر کوڅو ته یې راوویستل په دې نیت چې کله پطروس په دې لاره تېرېږی چې د هغهٔ سورے په هغوئ پرېوځی. ۱۶ د خوا او شا کلو نه به ډېر خلق د یروشلم ښار ته راتلل، او خپل بیماران او هغه خلق به یې راوستل چې پیریانو به نیولی وُو، او هغوئ ټولو به شفا موندله.

## د رسولانو تکلیفونه

۱۷ بیا مشر اِمام او د هغهٔ ټول ملګری چې د صدوقیانو د قبیلې غړی وُو هغوئ د حسد نه ډک شول. ۱۸ هغوئ رسولان ګرفتار کړل او په جیل کښې یې بند کړل. ۱۹ خو د شپې د مالِک یوې فرښتې د جیل دروازې کولاو کړې، هغوئ یې بهر راوستل او ورته یې وفرمائیل، ۲۰ "لاړ شئ، د خُدائ په کور کښې ودرېږئ او خلقو ته د دې نوی ژوندون ټولې خبرې بیان کړئ." ۲۱ هغوئ د خُدائ کور ته سحر وختی ورننوتل څنګه چې ورته وئیل شوی وُو، او خلقو ته یې تعلیم ورکول شروع کړل. کله چې مشر اِمام او د هغهٔ ملګری راورسېدل نو هغوئ د بنی اِسرائیلو د قوم د مشرانو لویه جرګه راوبلله او د رسولانو د راوستلو دپاره یې څوک جیل ته ولېږل. ۲۲ خو چې سپاهیان جیل ته لاړل نو هغوئ رسولان هلته ونهٔ موندل، نو هغوئ واپس راغلل او مشرانو ته یې خبر ورکړو ۲۳ چې، "مونږ جیل مکمل بند او محافظان په دروازو کښې په خپلو ځایونو ولاړ ولیدل خو کله چې مونږ دروازه کولاو کړه نو دننه په کښې څوک هم نهٔ وُو." ۲۴ چې کله د خُدائ د کور آفسر او مشرانو اِمامانو دا واورېدل نو

هغوئ په دې حقله حېران شول او هغوئ په دې سوچ کولو
چې د دې نه پس به څۀ کېږى. ۲۵ بيا څوک راغلو او وئ
وئيل چې، ”ګورئ، کوم سړى چې تاسو په جيل کښې بند
کړى وُو هغوئ اوس لګيا دى د خُدائ په کور کښې خلقو ته
تعليم ورکوى.“ ۲۶ په دې د خُدائ د کور آفسر د سپاهيانو
سره ورغلو او رسولان يې واپس راوستل. هغوئ زور
استعمال نۀ کړو، ځکه هغوئ د دې نه يرېدل چې خلق به
دوئ سنګسار کړى. ۲۷ کله چې هغوئ رسولان راوستل نو
د جرګې د وړاندې يې ودرول او مشر اِمام ترې سخت
تپوسونه وکړل. ۲۸ هغۀ ووئيل، ”مونږ تاسو په سختئ سره
منع کړى وئ چې په دې نوم تعليم مۀ ورکوئ. خو تاسو ټول
يروشلم په دې تعليم ډک کړو او تاسو دا کوشش کوئ چې د
هغه سړى خون زمونږ په غاړه کړئ.“ ۲۹ خو پطروس او
نورو رسولانو جواب ورکړو چې، ”مونږ ته په کار دى چې د
بنى آدمو نه، بلکې د خُدائ پاک حُکم ومنو. ۳۰ زمونږ د پلار
نيکونو خُدائ پاک عيسىٰ بيا راژوندے کړو کوم چې تاسو په
سولئ دپاسه مړ کړے وو. ۳۱ بيا خُدائ پاک هغه اوچت
کړو او د سردار او خلاصونکى په طور يې خپل ښى لاس ته
کښېنولو دپاره د دې چې هغه بنى اِسرائيلو ته د توبې ويستو
موقع ورکړى او ګناهونه يې معاف کړى. ۳۲ او مونږ د دې
هر څۀ ګواهان يُو، او هم دغسې روحُ القُدس دے چې خُدائ
پاک يې هغوئ ته ورکوى څوک چې د هغۀ تابعدارى کوى.“
۳۳ کله چې مشرانو دا واورېدل نو هغوئ ډېر غصه شول او
غوښتل يې چې هغوئ مړۀ کړى. ۳۴ خو يو فريسى وو چې
نوم يې ګملىايل وو د شريعت اُستاذ وو او په خلقو کښې ډېر
عزتمند وو. هغه په جرګه کښې پاڅېدو او حکم يې وکړو چې

دا سړی دې لږې شيبې له بهر کړے شی. ۳۵ بيا هغهٔ جرګې
ته ووئيل چې، ”اے د بنی اِسرائيل خلقو. څهٔ چې دې سړو
سره ستاسو د کولو نيت دے په دې کار کښې د ډېر احتياط
نه کار واخلئ. ۳۶ ځکه چې څهٔ موده وړاندې تيوداس هم
پاڅېدو، دا دعویٰ يې کوله چې زهٔ هم څهٔ يم، او خوا او شا
څلور سوه کسان ورسره ملګری وُو، خو هغه قتل کړے شو
او د هغهٔ ټول ملګری خوارهٔ وارهٔ شول او ترې هيڅ هم جوړ
نهٔ شو. ۳۷ د هغهٔ نه پس د مردمشماری په ورځو کښې د
ګليل د صوبې يهوداه نومې سړے راوچت شو او ډېر خلق د
هغهٔ په لمسون سره باغيان شول، هغه هم هلاک شو او د هغهٔ
ټوله ډله خوره وره شوه. ۳۸ نو زهٔ په دې مسئله کښې تاسو
ته نصيحت کوم چې په دې خلقو غم غرض مهٔ ساتئ او
پرېږدئ چې لاړ شی. ځکه کهٔ چرې دا منصوبه يا کار د
انسانانو د خوا نه وی نو دا به په خپله ناکاميابه شی. ۳۹ او
کهٔ چرې دا د خُدائ پاک د طرفه وی نو تاسو دا خلق نهٔ شئ
منع کولے بلکې تاسو ته به دا پته ولګی چې تاسو د خُدائ
خلاف جنګ کوئ.“ نو هغوئ د ګملی‌ايل مشوره ومنله. ۴۰
هغوئ بيا رسولان دننه راوبلل او په کوړو يې ووهل، بيا يې
هغوئ ته حُکم ورکړو چې د عيسیٰ په نوم تعليم مهٔ ورکوئ،
نو په دې سره يې هغوئ پرېښودل. ۴۱ نو رسولان د جرګې
نه په دې خوشحالئ راووتل چې هغوئ د دې جوګه وګڼلے
شول چې د عيسیٰ د نوم دپاره بې‌عزته شول. ۴۲ او هره ورځ
هغوئ د خُدائ په کور او په خپلو کورونو کښې دا تعليم او
زيرے ورکولو چې هم دا عيسیٰ مسيح دے.

## اووهٔ کسان د خِدمت دپاره ټاکل

۶ ۱ په هغه ورځو کښې چې د مريدانو شمار زياتېدو
يونانی يهوديانو د عبرانی يهوديانو خلاف دا شکايت وکړو چې
د هغوئ د کونډو ښځو د روزمره خوراک په تقسيمولو کښې
لا پرواهی کيږی. ۲ نو هغه دولسو رسولانو ټول مريدان
رايوځائ کړل او وې وئيل چې، "دا زمونږ دپاره مناسب نهٔ
دی چې مونږ د خُدائ پاک د کلام خِدمت د خوراک څښاک
په بندوبست کولو کښې تير کړُو. ۳ نو اے ملګرو، اووهٔ
نېک کسان غوره کړئ چې هغه د روحُ القُدس نه او د عقل نه
معمور وی نو مونږ به د دې کارونو ذمه واری هغوئ ته په
حواله کړُو. ۴ او مونږ به خپل ځانونه دُعا او د کلام
خِدمت ته وقف کړُو." ۵ دا تجويز د ټولې قبيلې خوښ شو
او هغوئ ستِفانوس چې د ايمان او روحُ القُدس نه ډک وو، او
هم ورسره فيليپوس، پروخوروس، نيکانور، تيمون، پرمناس
او نيکلاس چې د انطاکی وو او يهودی شوے وو خوښ کړل.
۶ هغوئ دا کسان د رسولانو وړاندې پېش کړل او هغوئ
ورته دُعا وکړه او د هغوئ په سر يې خپل لاسونه کېښودل.
۷ د خُدائ پاک کلام خورېدو او په يروشلم کښې د عيسیٰ
د منونکو شمېر په تېزئ سره زياتېدو، او ډېرو اِمامانو هم
ايمان راوړو.

## د ستِفانوس ګرفتاريدل

۸ نو بيا ستِفانوس چې د فضل او قوت نه ډک وو هغهٔ د
خلقو په مينځ کښې لوئ لوئ معجزې او نښې ښکاره کړې.
۹ د غلامئ نه د آزاد شوو خلقو د عبادتخانې نه څهٔ مخالف

کسان راوچت شول چې د هغوئ سره د کرينی او اسکندريی
او د کلکيی او آسيه د صوبې يهوديان وُو. دې سړو د
ستِفانوس سره بحث شروع کړو. ١٠ خو هغوئ د هغهٔ د
حکمت او د روح د طاقتمندو خبرو په وړاندې ټينګ نهٔ شول.
١١ بيا هغوئ په پټه څهٔ خلق ولمسول چې دا ووائی چې،
”مونږ د ستِفانوس نه د موسىٰ او د خُدائ پاک خلاف د کُفر
خبرې اورېدلی دی.“ ١٢ هغوئ خلق او مشران او د شرعې
عالمان راوپارول. هغوئ ستِفانوس ونيولو او جرګې ته يې
پېش کړو. ١٣ هغوئ د دروغو ګواهان تيار کړل چې چا
داسې ووئيل چې، ”دا سړے همېشه د خُدائ د دې مقدس
کور او د موسىٰ د شريعت ګستاخی کوی. ١٤ ځکه چې
مونږ د دهٔ نه دا خبرې اورېدلی دی چې د ناصرت عيسىٰ به
دا ځائ وران کړی او موسىٰ چې مونږ له کوم رسمونه او
رِواجونه راکړی دی هغه به بدل کړی.“ ١٥ او په جرګه کښې
ناستو ټولو خلقو ستِفانوس ته نيغ کتل او هغوئ وليدل چې د
هغهٔ مخ لکه د فرښتې د مخ په شان ځلېدو.

## جرګې ته د ستِفانوس بيان

7 ١ نو بيا مشر اِمام د ستِفانوس نه تپوس وکړو چې، ”دا
اِلزامونه رښتيا دی څهٔ؟“

٢ نو ستِفانوس جواب ورکړو، ”اے وروڼو، او اے
مشرانو، زما خبره واورئ. د جلال مالِک خُدائ زمونږ نيکهٔ
اِبراهيم ته حاران ته د تلو نه مخکښې ښکاره شو چې هغه لا د
مسوپتاميه په مُلک کښې وو. ٣ خُدائ پاک ورته وفرمائيل
چې، ”خپل وطن او خپل خپلوان پرېږده او هغه مُلک ته لاړ

شه چې زهٔ يې درته ښايم." ۴ بيا هغه د کلدانيانو د مُلک نه
ووتو او په حاران کښې ديره شو. د هغهٔ د پلار د مرګ نه پس
خُدائ پاک هغه دې مُلک ته راوستو چرته چې اوس تاسو
اوسيږئ. ۵ خو خُدائ پاک ورته يو ګز قدرې زمکه هم د
وراثت په طور ورنهٔ کړه، خو خُدائ پاک ورسره دا وعده
وکړه چې دا به دهٔ ته او د دهٔ نه پس د دهٔ اولاد ته د وراثت په
طور ورکړی، اګر چې هغه وخت د اِبراهيم اولاد نهٔ وو. ۶
خُدائ پاک ورته هم داسې وفرمائيل چې، "ستا اولاد به په
پردی مُلک کښې مسافر شی، او هغوئ به غلامان شی او
څلور سوه کاله به پرې ظلم کيږی." ۷ خو خُدائ پاک
وفرمائيل چې، "زهٔ به هغه قوم له سزا ورکړم چې دوئ يې د
غلامانو په طور خِدمت کړے دے او د دې نه پس به هغوئ د
هغه مُلک نه راوځی، او په دې ځائ کښې به زما عبادت
وکړی." ۸ نو بيا خُدائ پاک اِبراهيم ته د سنت کيدو وعده
ورکړه. او د اِبراهيم نه اِسحاق پيدا شو او هغه يې د پيدايښت
نه پس په اتمه ورځ سنت کړو. وروستو د اِسحاق نه يعقوب
پيدا شو، او د يعقوب نه دولس زامن وشو چې وروستو د
دولسو قبيلو مشران شول. ۹ څکه چې مشرانو ورونړو د
يوسف سره کينه کوله، نو هغوئ هغه د غلام په طور په مِصر
کښې خرڅ کړو. خو خُدائ پاک د هغهٔ مل وو، ۱۰ او هغه
يې د خپلو ټولو تکليفونو نه بچ کړو. او خُدائ پاک هغهٔ ته
داسې فضل او حِکمت ورکړو چې د مِصر د بادشاه فِرعون
په وړاندې مقبول شو، نو هغوئ هغه د ټول مِصر او خپل
محل حاکِم مقرر کړو. ۱۱ بيا په ټول مِصر او کنعان کښې
قحط راغلو او سخته تنګسيا راغله او زمونږ د پلار نيکونو
سره د خوراک دپاره هيڅ څيز نهٔ وو. ۱۲ خو کله چې

یعقوب واورېدل چې هلته په مِصر کښې غله شته نو هغهٔ
زمونږ پلار نیکونه په اول ځل هلته ولېږل. ﴿١٣﴾ په دوباره تللو
یوسف خپلو ورونړو ته خپل ځان څرګند کړو او فِرعون ته د
یوسف د خاندان په حقله پته ولګېده. ﴿١٤﴾ د دې نه وروستو
یوسف خپل پلار یعقوب او خپلو ټولو رشته‌دارانو ته چې په
شمېر کښې ټول پينځهٔ اویا کسان وُو، مِصر ته د راتلو بلنه
ورکړله. ﴿١٥﴾ نو یعقوب مِصر ته لاړو، هم هلته زمونږ د پلار
نیکونو سره وفات شو. ﴿١٦﴾ د هغوئ لاشونه واپس شِکم ته
راوړلے شول او په هغه قبرستان کښې ښخ کړے شول، کوم
چې اِبراهیم د بنی همور نه په شِکم کښې په بیعه اخستے وو.
﴿١٧﴾ خو چې د اِبراهیم سره د خُدائ پاک د خپلې وعدې د
پوره کېدو وخت رانزدې شو نو په مِصر کښې زمونږ د قوم
شمېر ډېر زیات شوے وو. ﴿١٨﴾ بیا دا چې په مِصر کښې یو
بل بادشاه په تخت کښېناستو څوک چې د یوسف نه ناخبره
وو. ﴿١٩﴾ هغهٔ زمونږ د قوم سره ټګی وکړه او زمونږ پلار
نیکونه یې په ظلم دې ته مجبوره کړل چې هغوئ خپل د پیو
ماشومان بهر وغورزوی چې مړهٔ شی. ﴿٢٠﴾ هم په دغه وخت
موسیٰ پیدا شو. او هغه د خُدائ پاک نیازبین وو او تر درېو
میاشتو پورې هغه د خپل پلار په کور کښې وساتلے شو. ﴿٢١﴾
او کله چې هغه بهر وغورزولے شو نو د فِرعون لور په خپله
هغه راوچت کړو او د خپل زوئ په شان یې لوئ کړو. ﴿٢٢﴾
نو موسیٰ د مِصریانو د ټول حکمت او پوهې تعلیم حاصل
کړو او هغه په کارونو او کلام کښې ښهٔ قابل شو. ﴿٢٣﴾ کله
چې هغه د څلوېښتو کالو شو، نو د هغهٔ په زړهٔ کښې دا خیال
راغلو چې هغه د خپلو رشته‌دارو بنی اِسرائیلو سره مِلاوېدو
له لاړ شی. ﴿٢٤﴾ هغهٔ وکتل چې یو مِصری د یو بنی اِسرائیلی

سره ظلم کولو نو موسیٰ د هغهٔ د مدد دپاره په منډه ورغلو او
د هغهٔ بدل یې ترې واخستو او مړ یې کړو. ۲۵ د موسیٰ
خیال وو چې د دهٔ خپل خلق به پوهه شی چې خُدائ پاک
هغه د دوئ د خلاصون دپاره استعمالوی، خو هغوئ پوهه نهٔ
شول. ۲۶ بله ورځ موسیٰ دوه کسان ولیدل چې په جنګ
وو، هغهٔ د هغوئ د جګړې د ختمولو کوشش وکړو. موسیٰ
ورته ووئیل چې، ”دا ولې؟ تاسو خو وروڼه یئ، نو تاسو ولې
یو بل وهئ؟“ ۲۷ خو کوم سړی چې د هغه بل سره ظلم
کولو موسیٰ له یې دیکه ورکړه او وې وئیل چې، ”تهٔ چا په
مونږ حاکِم او منصف جوړ کړے یې؟ ۲۸ ولې تهٔ ما هم لکه
د پرونی مِصری په شان وژل غواړې څهٔ؟“ ۲۹ کله چې
موسیٰ دا واورېدل نو میدیان ته وتښتېدو او هغه هلته د
مسافرو غوندې اوسېدو او هم هلته خُدائ پاک دوه زامن
ورکړل. ۳۰ د څلوېښت کاله تېرېدو نه وروستو یوه فرښته د
سینا غرهٔ سره نزدې په صحرا کښې د سوزېدونکی بوټی په
لمبو کښې موسیٰ ته راښکاره شوه. ۳۱ کله چې هغهٔ دا
ولیدل نو هغه په دې لیدو حیران شو. او څنګه چې هغه د
نزدې لیدلو دپاره ورغلو نو هغهٔ د مالِک آواز واورېدو چې،
۳۲ ”زهٔ ستا د پلار نیکونو خُدائ پاک یم، د اِبراهیم او د
اِسحاق او د یعقوب خُدائ پاک یم.“ او موسیٰ د یرې نه په
رپېدو شو او ورته یې د کتلو جرأت نهٔ شو کولے. ۳۳ بیا
مالِک خُدائ ورته وفرمائیل ”نور نزدې مهٔ راځه. پېزار
وباسه، ځکه چې تهٔ په پاکه زمکه ولاړ یې. ۳۴ ما ولیدل چې
زما د خلقو سره په مِصر کښې څومره ظلم کېږی، ما د
هغوئ فریاد اورېدلے دے او زهٔ راغلم چې هغوئ له
خلاصون ورکړم. اوس راځه چې زهٔ تا واپس مِصر ته

ولېږم." ۳۵ دا هغه موسیٰ دے چې هغوئ په دې ټکو رد
کړے وو چې تهٔ چا زمونږ حاکِم او منصف جوړ کړے يې؟ د
هغه فرښتې په وسيله چې هغهٔ ته په بوټی کښې ښکاره شوې
وه هم هغه خُدائ پاک په خپله موسیٰ د هغوئ د حاکِم او
خلاصوونکی په توګه راولېږلو. ۳۶ هغهٔ هغوئ د مِصر نه
وويستل او بيا يې په مِصر او بحرِقُلزم او په صحرا کښې تر
څلوېښتو کالو پورې ډېر عجيبه کارونه او معجزې وښودلې.
۳۷ دا هغه موسیٰ دے چې بنی اِسرائيلو ته يې وفرمائيل،
"خو خُدائ پاک به تاسو ته زما په شان يو پېغمبر راولېږی
چې هغه به ستاسو د خپلو خلقو نه وی." ۳۸ موسیٰ په
صحرا کښې زمونږ د پلار نيکونو سره په يوه غونډه کښې وو
چې په هم هغه وخت هغه فرښتې ورسره خبرې کولې چې د
سينا په غرهٔ کښې دهٔ سره وه هغې مونږ ته د رارسولو دپاره
هغهٔ ته ژوندے کلام ورکړو. ۳۹ خو زمونږ پلار نيکونو د
هغهٔ مشری ونهٔ منله. هغوئ هغه رد کړو او د هغوئ زړهٔ وو
چې مِصر ته واپس لاړ شی. ۴۰ هغوئ هارون ته ووئيل چې،
"مونږ له داسې معبودان جوړ کړه چې زمونږ لارښودنه کوی.
ځکه کوم موسیٰ چې مونږ د مِصر نه راوويستلو، مونږ ته دا
پته نشته چې په هغهٔ څهٔ چل وشو." ۴۱ نو هغه وخت هغوئ
د سخی په شکل يو بُت جوړ کړو او هغه بُت ته يې قربانی
وکړه او په خپلو لاسونو جوړ شوی څيز ته يې خوشحالی
کوله. ۴۲ خو په داسې کولو خُدائ پاک د هغوئ نه نارضا
شو او هغوئ يې پرېښودل چې د آسمان د ستورو عبادت
وکړی لکه څنګه چې د نبيانو په کِتاب کښې ليکلی دی چې،
"اے بنی اِسرائيلو کله چې تاسو د څلوېښتو کالو دپاره په
بيابان کښې وئ نو ما ته مو کله قربانئ او نذرانې راوړی دی

څهٔ؟ ﴿۴۳﴾ خو تاسو خپل ځان سره نور معبودان د مولک زیارت او د رفان خُدائ ستورى او تصويرونه د عبادت کولو دپاره يوړل، نو په دې وجه به زهٔ تاسو د بابل نه بل خوا جلاوطن کړم.“ ﴿۴۴﴾ زمونږ د پلار نيکونو سره په صحرا کښې د ګواهۍ خيمه وه، او موسىٰ دا د خُدائ پاک په حکم د هغه نقشې په مطابق جوړه کړه کومه چې هغهٔ ته ښودلے شوې وه. ﴿۴۵﴾ زمونږ پلار نيکونو د يشوَع سره هغه خيمه راوړه، کله چې هغوئ د هغه قومونو په مُلک قبضه وکړه کوم چې خُدائ پاک د هغوئ نه مخکښې ووېستل. دا خيمه په هغه مُلک کښې د داؤد تر وخته پورې وه. ﴿۴۶﴾ د داؤد نه خُدائ رضا وو او هغهٔ د خُدائ نه دا سوال وکړو چې ما ته د يعقوب د خُدائ پاک د دائمى اوسېدو دپاره ځائ راکړه. ﴿۴۷﴾ خو د دې باوجود سليمان د هغهٔ دپاره کور جوړ کړو. ﴿۴۸﴾ اګر کهٔ خُدائ تعالىٰ د انسان په لاس جوړ شوې کور کښې نهٔ اوسى، لکه څنګه چې نبى اِشاره کړې ده، ﴿۴۹﴾ مالِک خُدائ فرمائى چې ”آسمان زما تخت دے او زمکه زما د پښو چوکۍ ده. نو بيا هغه کور چرته دے چې تاسو يې زما دپاره جوړَوئ؟ هغه ځائ کوم دے چرته به چې زهٔ آرام کوم؟ ﴿۵۰﴾ دا هر څهٔ ما په خپلو لاسونو نهٔ دى جوړ کړى؟“ ﴿۵۱﴾ تاسو باغيان يئ. ستاسو زړونه کافر شوى دى او رښتياو ته کاڼهٔ يئ. تاسو لکه د خپل پلار نيکونو هميشه د روحُ القُدس مخالفت کوئ. ﴿۵۲﴾ داسې يو نبى شته چې ستاسو پلار نيکونو نهٔ وى زورَولے؟ هغوئ خو هغه نبيان هم ووژل چا چې د صادق د راتلو پېشګوئې کړې وه. او اوس تاسو د هغهٔ مُخبرى وکړه او مړ مو کړو. ﴿۵۳﴾ تاسو ته د فرښتو په وسيله شريعت درکړے شو خو تاسو پرې عمل ونهٔ کړو.“

## د سټِفانوس سنګسار کېدل

۵۴ کله چې هغوئ دا واورېدل نو هغوئ ډېر غصه شول او
سټِفانوس ته يې غاښونه چيچل. ۵۵ خو سټِفانوس د روحُ
القُدس نه معمور وو، هغۀ بره آسمان ته وکتل او د خُدائ
پاک جلال يې وليدو او عيسىٰ يې وليدو چې د خُدائ پاک
ښى لاس ته ولاړ وو. ۵۶ هغۀ ووئيل چې، ”وګورئ، ما ته
آسمان پرانستے ښکارى او اِبن آدم د خُدائ پاک ښى لاس ته
ولاړ دے.“ ۵۷ په دې خبره هغوئ په زوره چغې کړې او
خپل غوږونه يې بند کړل. او هغوئ ټولو په هغۀ ورمنډه کړه،
۵۸ بيا يې هغه د ښار نه بهر وويستو او سنګسار يې کړو. او
ګواهانو خپلې جامې د ساؤل نومې يو ځوان سړى په پښو
کښې کېښودلې. ۵۹ کله چې هغوئ سټِفانوس سنګسارولو
نو سټِفانوس دُعا وکړه چې، ”اے مالِکه عيسىٰ، زما روح
قبول کړه.“ ۶۰ بيا هغه په ګونډو شو او په زوره يې چغې
کړې، ”مالِکه، دوئ په دې ګناه مۀ نيسه.“ او د دې وينا نه
وروستو يې ساه ورکړه.

## د جماعت سره د ساؤل ظلم کول

۸ ۱ او ساؤل هم په هغه کسانو کښې وو چې د سټِفانوس
په مرګ راضى وُو. هم په هغه ورځ په يروشلم کښې د
جماعت سره سخت ظلم شروع شو او د رسولانو نه بغېر ټول
ايمانداران د يهوديه او سامريه په علاقو کښې خوارۀ وارۀ
شول. ۲ او يو څو پرهيزګارانو سټِفانوس ښخ کړو او په
هغۀ يې وير او ژړا وکړه. ۳ خو ساؤل جماعت تباه کولو.

هغه کور په کور ورننوتو او نارینه او زنانه یې نیول او هغوئ
یې قیدخانې کښې اچول.

## په سامریه کښې د فیلیپوس بیان

۴ خو هغه ایمانداران چې خوارۀ وارۀ شوی وُو هغوئ چې
هر چرته تلل د کلام تعلیم یې ورکولو. ۵ نو فیلیپوس د
سامریه یو ښار ته لاړو او هلته یې خلقو ته د مسیح په حقله
بیان وکړو. ۶ کله چې هغه ګڼو خلقو د فیلیپوس خبرې
واورېدې او هغه معجزې یې ولیدې چې هغۀ وکړې نو هغوئ
ټولو د هغۀ بیان ته په غور سره غوږ کېښودلو. ۷ د ډېرو نه
پیریان په چغو راووتل او ډېر شل او ګوډ روغ جوړ شول.
۸ نو په هغه ښار کښې لویه خوشحالی وه. ۹ په هغه
ښار کښې شمعون نومې یو سړے وو چې د څۀ مودې نه یې
جادو کولو او د سامرېې ټول خلق یې حق حېران کړی وُو او
خپل ځان یې د لوئې مرتبې مالِک ګڼلو. ۱۰ او لویو او وړو
د هغۀ خبرې ډېر په غور اورېدلې او هغوئ وئیل چې، ”دا
سړے د خُدائ پاک هغه قُدرت دے چې ورته عظیم قدرت
وائی.“ ۱۱ هغوئ د هغۀ پیروی کوله ځکه چې هغۀ تر ډېرې
مودې هغوئ په خپل جادو حق حېران کړی وُو. ۱۲ خو کله
چې هغوئ د فیلیپوس په هغه زېری ایمان راوړو چې هغه د
خُدائ پاک د بادشاهۍ او د عیسیٰ مسیح د نوم په حقله
ورکولو نو ښځو او سړو بپتسمه واخستله. ۱۳ تر دې چې
شمعون جادوګر هم ایمان راوړو او بپتسمه یې واخستله او
هغه به فیلیپوس پسې هر چرته تلو او هغه به په هغه نښو او لویو
معجزو چې هغۀ ولیدې حق حېران وو. ۱۴ نو کله چې په
یروشلم کښې رسولانو واورېدل چې سامریانو د خُدائ پاک

کلام قبول کړو نو هغوئ پطروس او یوحنا هغوئ ته
ورولیږل. ۱۵ کله چې هغوئ ورسېدل هغوئ د دوئ دپاره
دُعا وکړه چې په دوئ روحُ القُدس نازل شی. ۱۶ ځکه چې
تر دې وخته په یو هم روحُ القُدس نازل شوے نهٔ وو. هغوئ ته
صرف د مالِک عیسیٰ په نوم بپتسمه ورکړے شوه. ۱۷ بیا
پطروس او یوحنا د هغوئ په سر خپل لاسونه کېښودل او
هغوئ روحُ القُدس حاصل کړو. ۱۸ کله چې شمعون ولیدل
چې د رسولانو د لاس په اېښودلو سره روحُ القُدس ورکړے
کیږی نو هغهٔ هغوئ ته پیسې وړاندې کړې، ۱۹ او وې وئیل
چې، "ما ته هم دا طاقت راکړئ چې زهٔ هم په چا لاس کېږدم
نو چې هغوئ هم روحُ القُدس حاصلوی." ۲۰ خو پطروس
جواب ورکړو، "ستا پیسې دې تا سره غرقې شی ځکه چې
ستا دا خیال دے چې د خُدائ پاک نعمتونه په بیعه اخستل
کیږی. ۲۱ په دې خِدمت کښې نهٔ ستا برخه شته نهٔ حِصه
ځکه چې ستا زړهٔ د خُدائ پاک په نزد صحیح نهٔ دے. ۲۲ د
دې بدو نه توبه وباسه او د مالِک خُدائ نه دُعا وغواړه ستا
چې کوم نیت دے شاید چې هغه یې درته معاف کړی. ۲۳
ځکه چې زهٔ وینم چې تهٔ د کینې نه ډک یې او د ګناه غلام
یې." ۲۴ نو شمعون جواب ورکړو چې، "تاسو د مالِک نه
زما دپاره دُعا وغواړئ، څهٔ چې تا ووئیل، هغه مصیبت په ما
رانهٔ شی." ۲۵ نو پطروس او یوحنا د ګواهئ ورکولو او د
مالِک د کلام اورولو نه وروستو هغوئ یروشلم ته واپس شول
او په لاره کښې یې د سامریې په ډېرو کلو کښې د زیری تعلیم
ورکولو.

# فیلیپوس او د ایتهوپیا خصی

۲۶ بیا د مالِک خُدائ فرښتې فیلیپوس ته وفرمائیل، ”د
جنوب په لاره لاړ شه کومه د بیابان لاره چې د یروشلم نه تر
غزې تلې ده.“ ۲۷ نو هغه روان شو او په لاره کښې یو د
ایتهوپیا خصی سره مِلاو شو، هغه د حبشې د کنداکی مَلِکې
د درباره خاص عهده دار او د هغې د ټولې خزانې اختیارمن
وو. هغه یروشلم ته عبادت له راغلے وو. ۲۸ او هغه کور ته
واپس په خپله جنګی ګاډۍ کښې په لار روان وو چې د
یشعیاه نبی صحیفه یې په کښې لوستله. ۲۹ نو بیا روحُ
القُدس فیلیپوس ته ووئیل چې، ”هغه ګاډۍ ته ورشه او
ورسره نزدې روان اوسه.“ ۳۰ نو فیلیپوس ګاډۍ ته ورمنډه
کړه، نو وې لیدل چې هغه سړی د یشعیاه نبی صحیفه
لوستله. فیلیپوس ترې تپوس وکړو چې، ”تهٔ چې څهٔ لولې د
دې په مطلب هم پوهېږې؟“ ۳۱ هغهٔ ورته ووئیل، ”زهٔ به پرې
څنګه پوهه شم ترڅو چې مې څوک د دې په مطلب پوهه نهٔ
کړی؟“ نو فیلیپوس ته هغهٔ دعوت ورکړو چې، ”ګاډۍ ته
راوخیژه او ما سره کښېنه.“ ۳۲ هغهٔ چې کومه صحیفه
لوستله هغه دا وه چې، ”لکه چې یو ګډورے د حلالولو دپاره
بوتلے شی، لکه چې یوه ګېډه د وړی کلولو والا په مخکښې
خاموشه وی، نو هم هغسې هغهٔ د خولې نه یوه خبره هم نهٔ
ویستله. ۳۳ هغه سپک کړے شو او ورسره اِنصاف ونهٔ
شو. او څوک به د هغهٔ د نسل بیان وکړی؟ ځکه چې د هغهٔ
ژوند د زمکې نه ختم کړے شو.“ ۳۴ او خصی فیلیپوس ته
ووئیل، ”مهربانی وکړه، دا راته ووایه چې نبی د چا په حقله
خبرې کوی؟ د خپل ځان یا د بل چا په حقله؟“ ۳۵ نو

فیلیپوس د صحیفې د دې برخې نه خبرې شروع کړې او هغۀ
ته یې د عیسیٰ په حقله زیرے ورکړو. ۳۶-۳۷ څنګه چې
هغوئ په لاره مزل کولو نو هغوئ ته په لار کښې اوبۀ په مخه
ورغلې او خصی ووئیل چې، "ګوره، دلته اوبۀ شته، نو ما د
بپتسمه اخستلو نه کوم څیز منع کولے شی؟" ۳۸ نو ورته د
ګاډۍ د ودرولو خواست وکړو، بیا فیلیپوس او خصی دواړه
لاندې اوبو ته کوز شول او فیلیپوس هغۀ له بپتسمه ورکړه.
۳۹ کله چې هغوئ د اوبو نه رابهر شُو نو د مالِک روح
سمدستی فیلیپوس د هغۀ نه غیب کړو او هغه د خصی د
سترګو نه پناه شو خو خصی په خوشحالۍ سره په خپله لاره
روان وو. ۴۰ خو ناګهانه بیا فیلیپوس اشدود نومې ښار ته
رسېدلے وو، نو ترڅو چې هغه قیصریه ته رسېدو نو په لاره
لاره یې په ټولو ښارونو کښې زیرے ورکولو.

## د ساؤل په حضرت عیسیٰ ایمان راوړل

٩ ۱ په دې دوران کښې ساؤل لا اوس هم د مالِک
مریدانو ته د قتل دهمکیانې ورکولې. هغه مشر اِمام له لاړو
۲ او دا خواست یې ورته وکړو چې د دمشق د عبادتخانو
په نوم اجازت نامه ورکړی کۀ هغه څۀ داسې ښځې یا سړی
پیدا کړی چې د دې لارې منونکی وی نو هغه به یې یروشلم ته
لاس تړلې راولی. ۳ هغه لا په لاره وو او دمشق ته ورنزدې
شوے وو چې ناګهانه د هغۀ نه ګېرچاپېره د آسمان نه رڼا
وځلېده. ۴ هغه په زمکه راپرېوتو او یو آواز یې واورېدو
چې ورته یې ووئیل، "ساؤله، ساؤله، تۀ ما ولې زوروې؟" ۵
ما جواب ورکړو چې، "مالِکه، تۀ څوک یې؟" بیا هغۀ ما ته

وفرمائيل چې، ”زهٔ عيسىٰ ناصرى يم چې تهٔ يې زوروې. ۶
خو اوس پاڅه او ښار ته لاړ شه او درته به وښودلے شى چې
تا ته څهٔ کول په کار دى.“ ۷ هغه سړى چې د ساؤل سره
په سفر کښې ملګرى وُو، هغوئ غلى ودرېدل. هغوئ آواز
واورېدو خو څوک يې ونهٔ ليدل. ۸ نو ساؤل د زمکې نه
راپورته شو، خو کله چې هغهٔ خپلې سترګې کولاو کړې نو څهٔ
ورته نهٔ ښکارېدل، نو د هغهٔ ملګرو هغه د لاسه ونيولو او
دمشق ته يې بوتلو. ۹ هغه تر درېو ورځو پورې ړوند وو او
خوراک څښاک يې نهٔ کولو. ۱۰ نو په دمشق کښې د عيسىٰ
يو مريد وو او نوم يې حنانياس وو. مالِک هغهٔ ته په رويا
کښې آواز وکړو، ”اے حنانياس.“ هغهٔ جواب ورکړو چې،
”مالِکه، زهٔ حاضر يم.“ ۱۱ مالِک هغهٔ ته وفرمائيل چې،
”پاڅه او هغه کوڅې ته لاړ شه چې ورته نېغه وئيلے شى او د
يهوداه په کور کښې د ترسس د يو سړى تپوس وکړه چې نوم
يې ساؤل دے، اوس هغه ما ته دُعا کوى. ۱۲ ساؤل رويا
وليدله چې حنانياس نومې سړے دننه راځى او د هغهٔ په سر
به خپل لاس کېږدى او نظر به يې راشى.“ ۱۳ خو حنانياس
جواب ورکړو چې، ”مالِکه، زهٔ د دې سړى او د هغهٔ د ټولو
ظلمونو نه خبر يم هغهٔ چې کوم ستا د مقدسينو سره په
يروشلم کښې کړى دى. ۱۴ او هغه د مشرانو اِمامانو نه دې
اختيار سره دلته راغلے دے چې هغه ټول خلق ګرفتار کړى
څوک چې ستا نوم يادوى.“ ۱۵ خو مالِک هغهٔ ته وفرمائيل
چې، ”تهٔ لاړ شه ځکه چې دا سړے ما غوره کړے دے څوک
چې به غېرو يهوديانو او د هغوئ بادشاهانو او بنى اِسرائيلو ته
زما نوم بيان کړى. ۱۶ او زهٔ به په خپله هغهٔ ته وښايم چې
هغه به زما د نوم د خاطره څومره تکليف وزغمى.“ ۱۷ نو

بیا حنانیاس روان شو او هغه کور ته ورننوتو او د ساؤل په
سر يې خپل لاس کېښودو او وې وئيل چې، ”زما وروره
ساؤله، کله چې تۀ دلته راروان وې کوم مالِک عیسیٰ چې تا
ته په لارې خپل ځان ښرګند کړو، هغۀ زۀ تا له رالیږلے یم
چې ستا نظر دوباره راشی او تۀ د روحُ القُدس نه معمور
شې.“ ۱۸ او سمدستی لکه د پوټکی په شان څیز د ساؤل د
سترګو نه لرې شو او هغه واپس بينا شو. بیا هغه پاڅېدو او
بپتسمه يې واخسته. ۱۹ او د روټۍ خوړلو نه پس د هغۀ په
وجود کښې طاقت راغلو. بیا ساؤل په دمشق کښې یو څو
ورځې د عیسیٰ مريدانو سره پاتې شو.

## په دمشق کښې د ساؤل بیان

۲۰ نو هغۀ سمدستی په عبادتخانو کښې بیان شروع کړو چې
عیسیٰ د خُدائ پاک زوئ دے. ۲۱ هغوئ ټولو چې د هغۀ
واورېدل نو حق حیران شول او وې وئيل چې، ”دا هغه سړے
نۀ دے چا چې په یروشلم کښې هغه خلق وژل چې د عیسیٰ
نوم به يې اخستلو؟ او ولې دے دلته د دې دپاره نۀ دے
راغلے چې دغه خلق ګرفتار کړی او مشر اِمام ته يې لاس
تړلی بوځی؟“ ۲۲ خو ساؤل په خبرو نور هم تکړه کېدو او د
دمشق یهودیان يې په خپلو مضبوطو دلائيلو خاموشه کول
چې عیسیٰ هم مسیح دے. ۲۳ د ډېرو ورځو تېرېدو نه
وروستو یهودیان راغونډ شول او د ساؤل د مرګ سازش يې
وکړو. ۲۴ هغوئ شپه او ورځ د ښار د دروازو څوکۍ کوله،
د دې دپاره چې هغه قتل کړی. خو ساؤل د هغوئ په سازش
پوهه شو ۲۵ او د هغۀ مريدانو هغه شپه په شپه د ښار په
دېوال په یوه بانګۍ کښې لاندې کوز کړو.

## ساؤل په یروشلم کښې

۲۶ کله چې ساؤل یروشلم ته راورسېدو نو هغۀ کوشش
وکړو چې مریدانو سره یو ځائ شی خو هغوئ ټول د هغۀ نه
یرېدل ځکه چې د هغوئ په دې یقین نۀ راتلو چې هغۀ ایمان
راوړے دے. ۲۷ خو برنباس هغه بوتلو او رسولانو له یې
راوستو. هغۀ هغوئ ته ووئیل چې، ساؤل په سفر کښې مالِک
څنګه ولیدو او مالِک هغۀ سره خبرې څنګه وکړې، او هغۀ په
دمشق کښې په زړۀ ورتیا سره د عیسیٰ په نوم بیان څنګه
وکړو. ۲۸ بیا ساؤل د هغوئ سره پاتې شو او په یروشلم
کښې د هغوئ سره آزاد ګرځېدو، او هغۀ ښۀ په زړۀ ورتیا د
مالِک په نوم بیان کولو. ۲۹ هغۀ د یونانی یهودیانو سره
بحث مباحثه کوله، خو هغوئ د هغۀ د وژلو کوشش وکړو.
۳۰ کله چې ایمانداران د دې نه خبر شول نو هغوئ هغه تر
قیصریه پورې بوتلو او ترسس ته یې ولېږلو. ۳۱ په دې
دوران کښې په ټوله یهودیه، ګلیل او سامریه کښې جماعتونه
په امن وُو او دا نور هم مضبوطېدل او د مالِک په یره کښې
یې د روحُ القُدس په مدد سره ترقی موندله او د هغوئ شمېر
زیاتېدو.

## اینیاس ته شفا ورکول

۳۲ پطروس په ټول مُلک کښې ځائ په ځائ ګرځېدو او هغه
د مقدسینو د لیدو دپاره د لدې کلی ته هم لاړو. ۳۳ هلته هغۀ
اینیاس نومې سړے ولیدلو چې د اتو کالو راسې په کټ کښې
شل پروت وو. ۳۴ پطروس هغۀ ته ووئیل چې، ”اینیاسه،
عیسیٰ مسیح تا له شفا درکوی. پاڅه او بستره دې ونغاړه.“

او اینیاس سمدستی پاڅېدلو. ۳۵ هغه خلق چې په لده او
شارون کښې اوسېدل هغوئ هغه ولیدو او په مالِک یې ایمان
راوړو.

## د ډورکاس بیا ژوندی کېدل

۳۶ په یافا کښې تبیتا نومې یوه مریده وه چې په یونانئ کښې
ورته ډورکاس یعنې هوسئ وائی، هغې همېشه نېک کارونه
کول او د غریبانانو مدد به یې کولو. ۳۷ په دغه وخت کښې
هغه ناجوړه شوه او مړه شوه او د هغې مړی له غسل
ورکړے شو او د هغې لاش یې پاس په بالاخانه کښې
کېښودو. ۳۸ د لدې کلے د یافا سره نزدې وو نو کله چې
مریدانو واورېدل چې پطروس په لده کښې دے، هغوئ
ورپسې دوه سړی ورولېږل او خواست یې ورته وکړو چې،
”مهربانی وکړه زر تر زره مونږ ته ځان راورسوه.“ ۳۹ نو بیا
پطروس هغوئ سره روان شو او کله چې هغه هلته ورسېدو
نو پاس بالاخانې ته یې بوتلو. نو ټولې کونډې ښځې پاس
بالاخانې ته راټولې شوې وې او په ژړا یې ورته هغه قمیصونه
او جامې وښودې کومې چې ډورکاس لا ژوندئ وه نو دوئ له
یې جوړې کړې وې. ۴۰ خو پطروس هغوئ ټولې کمرې نه
بهر کړې او هغه په سجده شو او دُعا یې وغوښته، بیا هغهٔ
مړې ښځې ته مخ راواړولو او وې وئیل چې، ”تبیتا، پاڅه.“
هغې خپلې سترګې وغړولې او چې پطروس یې ولیدلو نو نېغه
کېښناسته. ۴۱ پطروس هغې له لاس ورکړو او هغه یې په
پښو ودروله، بیا هغهٔ مقدسین او کونډې ښځې راوغوښتې او
هغوئ ته یې وښودله چې ژوندئ ده. ۴۲ دا خبره په ټوله یافا
کښې خوره شوه او ډېرو خلقو په مالِک ایمان راوړو. ۴۳ نو

پطروس څۀ وخت دپاره په یافا کښې د شمعون نومې موچی
سره پاتې شو.

## پطروس او کورنیلیوس

۱۰ ۱ په قیصریه کښې کورنیلیوس نومې یو سړے وو
چې د اِټالوی پلټنې صوبه دار وو. ۲ هغه او د هغۀ ټول
خاندان دینداره وو او د خُدائ پاک یره ورسره وه او هغۀ
خلقو ته ډیر په آزاد لاس سره خیراتونه ورکول او همېشه به
یې د خُدائ پاک عبادت کولو. ۳ یوه ورځ هغۀ د ماسپښین
درې بجې رویا ولیده چې په کښې یې د خُدائ پاک فرښته
صفا ولیدله چې هغۀ ته راغله او ورته یې ووئیل چې، "اے
کورنیلیوسه." ۴ نو کورنیلیوس په یرې سره هغې ته کتل او
تپوس یې ترې وکړو چې، "صاحبه، څۀ چل دے؟" فرښتې
جواب ورکړو چې، "ستا دُعاګانې او غریبانانو ته خیراتونه
خُدائ پاک قبول کړی دی. ۵ اوس یافا ته کسان ولېږه په
شمعون پسې چې پطروس ورته وائی. ۶ هغه د شمعون
چمیار کره دے چې کور یې د سمندر په غاړه دے." ۷
کله چې هغه فرښته چې دۀ سره یې خبرې وکړې رُخصت
شوه، نو کورنیلیوس خپل دوه نوکران او یو سپاهی چې
دینداره سړے وو راوبلل کوم چې د هغۀ ذاتی خِدمتګار وو.
۸ څۀ چې شوی وُو هغوئ ته یې بیان کړل او یافا ته یې
ولېږل. ۹ بله ورځ چې هغوئ لا په لاره وُو او ښار ته
ورنزدې وُو نو د غرمې په وخت کښې پطروس د دُعا دپاره
بره چت ته وختلو. ۱۰ هغه اوږے شو او غوښتل یې چې
څۀ وخوری، روټۍ لا په تیاریدو کښې وه چې هغۀ رویا

وليدله. ١١ نو هغهٔ په رويا کښې وليدل چې آسمان کولاو
شو او يو لوئ څيز لکه د غټ څادر په شان د څلورو ګوټونو
نه راځوړند زمکې ته راښکته کيږی. ١٢ په هغهٔ کښې هر
قسمه ځناور چينجی او ماران او مارغان وُو. ١٣ بيا يو آواز
د هغهٔ تر غوږه شو او ورته يې وئيل، ”پاڅه، پطروسه، دا
حلال کړه او وې خوره.“ ١٤ خو پطروس ووئيل چې، ”نه
مالِکه، نه. ما هيڅکله هم حرام او ناپاک څيزونه نهٔ دی
خوړلی.“ ١٥ او په دويم ځل بيا د هغهٔ هم دا آواز تر غوږه
شو او هغهٔ ته يې ووئيل، ”هر څهٔ چې خُدائ پاک، پاک کړی
دی، تهٔ هغې ته ناپاکه مهٔ وايه.“ ١٦ بيا درې ځله هم داسې
وشول نو بيا هغه څادر سمدستی آسمان ته پورته کړے شو.
١٧ پطروس لا د دې رويا په ليدلو غمژن وو چې د دې رويا
مطلب څهٔ دے، نو په هم دې وخت کښې کوم کسان چې
کورنيليوس هغهٔ ته ورليږلی وُو هغوئ د شمعون کور پيدا
کړو او بهر په دروازه کښې ولاړ وُو. ١٨ هغوئ آواز ورکړو
تپوس يې وکړو چې، ”شمعون چې ورته پطروس هم وائی،
دلته ميلمه دے؟“ ١٩ خو پطروس لا د هغه رويا په سوچ
کښې وو چې روحُ القُدس هغهٔ ته ووئيل چې، ”شمعونه، درې
سړی درپسې ګرځی. ٢٠ نو پاڅه او لاندې ورشه. تهٔ د هغوئ
سره بې‌تپوسه لاړ شه ځکه چې هغوئ ما درليږلی دی.“ ٢١
نو پطروس هغه سړو له لاندې راغلو او وې وئيل چې، ”زهٔ
هغه څوک يم چې تاسو ورپسې ګرځئ نو تاسو څهٔ له راغلی
يئ؟“ ٢٢ هغوئ جواب ورکړو چې، ”مونږ کورنيليوس
صوبه دار راليږلی يُو څوک چې ديندار او صادق سړے دے
او د يهوديانو ټول قوم د هغهٔ قدر کوی. هغهٔ ته يوې مقدسې
فرښتې ووئيل چې تا خپل کور ته راوغواړی چې ستا نه پيغام

واورى.“ ٢٣ نو پطروس هغوئ د مېلمستيا دپاره دننه
راوبلل. په بله ورځ هغه د هغوئ سره روان شو او ورسره د
يافا يو څو ملګرى هم لاړل. ٢٤ په بله ورځ هغه قيصريه ته
راورسېدو او کورنيليوس د هغوئ په طمع وو او خپل خپلوان
او نزدې دوستان يې رابللى وُو. ٢٥ کله چې پطروس ورننوتو
نو کورنيليوس ورسره مِلاو شو او ډېر په قدر سره يې ورته
سجده وکړه. ٢٦ خو پطروس هغه راوچت کړو او ورته يې
ووئيل، ”پاڅه، زۀ هم ستا په شان يو انسان يم.“ ٢٧ د هغۀ
سره په خبرو خبرو پطروس دننه لاړو او هلته ګڼ خلق
راجمع شوى وُو. ٢٨ هغۀ هغوئ ته ووئيل چې، ”تاسو ته ښۀ
معلومه ده چې د يهودى دپاره دا ناروا دى چې د غېريهوديانو
کور ته لاړ شى او ورسره څۀ تعلق وساتى، خو خُدائ پاک
اوس ما ته دا وښودل چې زۀ چا ته هم پليت يا ناپاک ونۀ
وايم. ٢٩ کله چې زۀ تاسو دلته راوغوښتم نو ځکه زۀ
بېعذره راغلم. اوس زۀ دا تپوس کولے شم چې تاسو زۀ ولې
راغوښتے يم؟“ ٣٠ کورنيليوس ورته جواب ورکړو چې،
”څلور ورځې مخکښې هم دا وخت درې بجې ما خپل کور
کښې دُعا کوله چې ناڅاپه يو سړے په پړقېدونکو جامو کښې
زما د وړاندې ودرېدو. ٣١ هغۀ ما ته ووئيل، اے
کورنيليوسه. ستا دُعاګانې او خېراتونه خُدائ پاک قبول کړى
دى. ٣٢ نو ځکه شمعون چې ورته پطروس وائى هغۀ پسې
يافا ته څوک ولېږه. هغه د سمندر په غاړه د شمعون چميار
په کور کښې مېلمه دے. ٣٣ نو ما سمدستى تا پسې پېغام
ورُونکى درولېږل نو دا ستا ډېره مهربانى ده چې تۀ دلته
راغلې. اوس مونږ ټول دلته د خُدائ پاک په حضور کښې په
دې طمع ناست يُو چې کوم کلام چې تاسو د مالِک نه

حاصل کړے دے هغه واورو."

## غېریهودیانو ته زیرے اورول

۳۴ نو پطروس داسې ووئیل چې، "زهٔ اوس په دې ښهٔ پوهه
شوم چې خُدائ پاک د چا طرفدارے هم نهٔ کوی. ۳۵ خو په
هر قوم کښې چې څوک د هغهٔ نه یرېږی او د صداقت کارونه
کوی خُدائ پاک د هغوئ نه رضا وی. ۳۶ تاسو ته د هغه
پېغام پته ده چې خُدائ پاک د بنی اِسرائیلو خلقو ته ولېږلو او
د عیسیٰ مسیح په وسیله یې د امن زیرے ورکړو، څوک چې
د ټولو مالِک دے. ۳۷ تاسو ته پته ده چې په ټوله یهودیه
کښې څهٔ وشول، دا واقعه د یحییٰ د بپتسمې د بیان نه
وروستو په ګلیل کښې شروع شوه، ۳۸ چې خُدائ پاک
څنګه عیسیٰ ناصری په روحُ القُدس او په قدرت مسح کړو.
نو بیا هغه هرې خوا ته ګرځېدو او د هغوئ ټولو سره یې ښهٔ
کول او شفا یې ورله ورکوله، چې د اِبلیس په قبضه کښې
وُو، ځکه چې خُدائ پاک د هغهٔ سره وو. ۳۹ مونږ د هغه هر
څهٔ ګواهان یُو چې عیسیٰ د یهودیانو په مُلک او په یروشلم
کښې وکړل. هغوئ هغه په سولۍ مړ کړو. ۴۰ خو خُدائ
پاک هغه په دریمه ورځ د مړو نه بیا راژوندے او خلقو ته
ښکاره کړو، ۴۱ هغه ټولو خلقو نه بلکې مونږه ګواهانو
ولیدو، چې خُدائ پاک د اول نه د دې دپاره غوره کړی یُو،
مونږ ورسره د بیا ژوندی کېدو نه پس خوراک څښاک هم
وکړو. ۴۲ او هغهٔ مونږ ته دا حُکم وکړو چې خلقو ته زما
بیان وکړئ او دا ګواهی ورکړئ چې هم دا عیسیٰ دے چې
خُدائ پاک د ژوندو او مړو دپاره د منصف په طور مقرر
کړے دے. ۴۳ د هغهٔ په حقله ټولو نبیانو دا ګواهی ورکړې

ده چې څوک هم په هغهٔ ایمان ساتی نو د هغهٔ د نوم په وسیله
به یې ګناهونو معاف شی.“

## په غېریهودیانو د روحُ القُدس نازلېدل

۴۴ د پطروس بیان لا جاری وو چې په هغوئ ټولو روحُ
القُدس نازل شو چا چې بیان اورېدلو. ۴۵ هغه ایمانداران
یهودیان چې د پطروس سره راغلی وُو هغوئ حق حېران
شول چې د روحُ القُدس نعمت په غېریهودیانو هم نازل شو.
۴۶ ځکه چې دوئ واورېدل چې هغوئ په غېرو ژبو کښې
خبرې شروع کړې او د خُدائ پاک لوئی یې بیانوله. بیا
پطروس ووئیل، ۴۷ ”اوس داسې څوک شته چې دا خلق په
اوبو د بپتسمې اخستلو نه منع کړی، چې په دوئ روحُ القُدس
داسې نازل شوے دے لکه څنګه چې په مونږ؟“ ۴۸ بیا هغهٔ
حُکم وکړو چې دوئ ته دې د عیسیٰ مسیح په نوم بپتسمه
ورکړے شی. بیا هغوئ پطروس ته ووئیل چې تاسو مونږ
سره د یو څو ورځو دپاره ایسار شئ.

## د پطروس یروشلم جماعت خبرول

۱۱ ۱ په ټوله یهودیه کښې رسولانو او ایماندارانو
واورېدل چې غېریهودیانو هم د خُدائ پاک کلام قبول کړو.
۲ نو کله چې پطروس یروشلم ته واپس شو نو یهودی
ایماندارانو په هغهٔ دا اِعتراض وکړو، ۳ او داسې یې وئیل
چې، ”تهٔ د غېریهودیانو کور ته لاړې او هغوئ سره دې روټئ
وخوړه.“ ۴ پطروس هغوئ ته هر څهٔ چې شوی وُو په
ترتیب سره بیان کړل چې، ۵ ”زهٔ د یافا په ښار کښې وم

او دُعا مې کوله چې بېهوشه شوم او رویا مې ولیده چې د یو
لوئ څادر په شان یو څیز د څلورو ګوټونو نه د آسمان نه
راښکته کېدو او ما پورې راورسېدو. ۶ ما په دې کښې
وکتل چې په کښې هر قسمه ځناور چینجی او ماران او
مارغان وُو. ۷ بیا یو آواز زما تر غوږو شو او راته یې
ووئیل، پاڅه، پطروسه. دا حلال کړه او وې خوره. ۸ خو
ما ووئیل چې، نه مالِکه، نه. ما هیڅکله هم حرام او ناپاک
څیزونه نهٔ دی خوړلی. ۹ خو د آسمان نه په دویم ځل آواز
راغلو، کوم څیزونه چې خُدائ پاک، پاک کړی دی هغې ته
حرام مهٔ وایه. ۱۰ داسې درې ځله وشول او بیا هغه هر څهٔ
دوباره آسمان ته پورته کړے شول. ۱۱ هم په دغه وخت
کښې درې سړی چې د قیصریه نه ما ته رالیږلے شوی وُو،
هماغه کور ته راغلل چرته چې زهٔ دیره وم. ۱۲ روحُ القُدس
ما ته وفرمائیل، بغیر د څهٔ وسوسې نه د دوئ سره لاړ شه. دا
شپږ ورونړه هم ما سره لاړل او مونږ د کورنیلیوس کور ته
لاړو. ۱۳ هغهٔ مونږ ته ووئیل چې څنګه یوه فرښته د هغهٔ په
کور کښې راښکاره شوه او ورته یې ووئیل چې، یافا ته
شمعون پسې څوک ولېږه چې ورته پطروس هم وائی. ۱۴
هغه به تا ته داسې کلام واوروی چې د هغې په وسیله به تهٔ او
ستا ټول ټبر خلاصون بیامومی. ۱۵ څنګه چې ما خبرې
شروع کړې نو روحُ القُدس په هغوئ داسې نازل شو لکه چې
په مونږ په شروع کښې نازل شوے وو. ۱۶ بیا ما ته هغه
رایاد شُو څهٔ چې مالِک فرمائیلی وُو چې، یحییٰ خو په اوبو
بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به د روحُ القُدس بپتسمه درکړے
شی. ۱۷ نو کهٔ خُدائ پاک هغوئ ته هم هغه نعمت ورکړی
چې مونږ ته یې راکړے وو کله چې مونږ په مالِک عیسیٰ

مسیح ایمان راوړو نو بیا زۀ څوک یم چې خُدائ پاک منع
کړم؟“ ۱۸ کله چې هغوئ دا واورېدل نو هغوئ نور
اِعتراضونه ونۀ کړل او هغوئ د خُدائ پاک ثنا ووئیله او وې
وئیل چې، ”خُدائ پاک غېریهودیانو ته هم د ژوند حاصلولو
دپاره د توبې موقع ورکړې ده.“

## په اَنطاکیه کښې جماعت

۱۹ د ستِفانوس د مرګ نه وروستو د ډېرو تکلیفونو په وجه
ایمانداران خوارۀ وارۀ شول او د هغوئ سر ان تر دې چې
فینیکې، قبرص او اَنطاکیه ته ورسېدلو او په دې وخت کښې
هغوئ صرف او صرف یهودیانو ته د خُدائ پاک کلام
اورولو. ۲۰ خو په هغوئ کښې څۀ خلق د قبرص او کرین
وُو چې اَنطاکیه ته لاړل او یونانیانو ته یې هم د مالِک عیسیٰ
په حقله زیرے اورولو. ۲۱ د مالِک لاس په هغوئ وو، او
ډېرو خلقو ایمان راوړو او مالِک ته راواوړېدل. ۲۲ دا خبره
د یروشلم جماعت ته ورسېده او هغوئ بیا برنباس اَنطاکیه ته
ولېږلو. ۲۳ کله چې هغه راورسېدو او د خُدائ پاک فضل
یې ولیدو هغه ډېر خوشحاله شو او هغوئ ټولو ته یې ډاډګیرنه
ورکړه او ورته یې ووئیل چې مالِک سره په وفادارئ او په
پوره زړۀ ټینګ ودرېږئ. ۲۴ برنباس یو ښۀ سړے وو د روحُ
القُدس نه معمور او ایمان یې مضبوط وو. او ډېرو خلقو په
مالِک باندې ایمان راوړو. ۲۵ بیا برنباس ترسس ته لاړو چې
ساؤل پیدا کړی. ۲۶ کله چې یې هغه پیدا کړو نو هغه یې
اَنطاکیه ته ولېږلو او پوره یو کال برنباس او ساؤل په شریکه
د جماعت خِدمت کولو او ډېرو خلقو له یې تعلیم ورکولو. په
اَنطاکیه کښې مریدانو ته په اول ځل عیسایان ووئیلے شُو.

٢٧ په هغه وخت کښې څهٔ نبيان د يروشلم نه اَنطاکيه ته
راغلل، ٢٨ چې په هغوئ کښې د يو نوم اګابوس وو، هغه
ودرېدو او د روحُ القُدس په وسيله يې پېشګوئي وکړه چې په
ټوله دُنيا کښې به يو سخت قحط راشی. او دا قحط د قيصر
کلوديوس په بادشاهۍ کښې راغلو. ٢٩ نو مريدانو فېصله
وکړه چې هر يو به د خپل طاقت په مطابق هغه ايماندارانو له
امداد ورلېږی چې په يهوديه کښې اوسيږی. ٣٠ هغوئ چنده
وکړه او مشرانو له يې د برنباس او ساؤل په ذريعه ورولېږله.

## د يعقوب قتل او د پطروس ګرفتاری

١٢ ١ تقريباً هم په هغه وخت هيروديس بادشاه د
جماعت څهٔ خلق ونيول او ظلم زياتے يې ورسره شروع
کړو. ٢ هغهٔ د يوحنا ورور يعقوب په تُوره شهيد کړو. ٣
نو کله چې هغه خبر شو چې يهوديان په دې کار خوشحاله
شول، نو پطروس يې هم ګرفتار کړو. دا واقعه د پتيرې روټۍ
د اختر په ورځو کښې وشوه. ٤ د ګرفتارولو نه وروستو يې
هغه په قيد کښې واچولو او د سپاهيانو څلور ډلو ته يې حواله
کړو چې د دهٔ څوکيداری کوی. د هيروديس دا خيال وو چې
د فسح د اختر نه وروستو به يې د خلقو په وړاندې فېصله
واوروی. ٥ نو هغهٔ پطروس په قيدخانه کښې وساتلو، خو
جماعت د پطروس دپاره په جوش سره د خُدائ پاک نه دُعا
غوښتله.

## د قيدخانې نه د پطروس آزادېدل

٦ په هم هغه شپه هيروديس د پطروس د بهر راوستو نه

وړاندې هغه د دوو سپاهيانو په مينځ کښې په دوو زنځيرونو
تړلے اوده پروت وو او د دروازې نه بهر څوکيدارانو د
قيدخانې څوکۍ کوله. ۷ چې ناڅاپې د مالِک خُدائ يوه
فرښته هلته ودرېده او په کوټۍ کښې رڼا وځلېده. هغې د
پطروس اوږه وخوځوله او را ويښ يې کړو او ورته يې
وفرمائيل، "زر شه، راپاڅه." نو په دې کښې زولنۍ د پطروس
د مړوندونو نه وغورزېدلې. ۸ بيا فرښتې هغهٔ ته ووئيل چې،
"ملابند وتړه او خپل پېزار په پښو کړه." پطروس هم هغه
شان وکړل. بيا فرښتې هغهٔ ته ووئيل، "خپله چُوغه واچوه او
ما پسې راځه." ۹ پطروس د کوټۍ نه بهر فرښتې پسې نېغ
روان وو، خو د هغهٔ دا خيال نهٔ وو چې ګنې دا رښتيا دی خو
د هغهٔ سوچ دا وو چې دا ګنې خوب دے. ۱۰ هغوئ د
وړومبې او دويمې څوکۍ نه واوړېدل او د اوسپنې هغه
دروازې ته راورسېدل کومه چې ښار ته وتې وه. دا د هغوئ
دپاره په خپله کولاو شوه او دوئ ترې نه ووتل. کله چې
هغوئ په کوڅه کښې روان وُو نو څهٔ ګورې چې فرښته د هغهٔ
سره نهٔ وه. ۱۱ بيا پطروس په خود کښې راغلو او هغهٔ خپل
ځان سره ووئيل چې، "اوس زما پوره يقين دے چې مالِک
خُدائ خپله فرښته ما ته رالېږلې ده او ما ته يې د هيروديس
او د يهوديانو د ټولو بدو منصوبو نه نجات راکړو." ۱۲ کله
چې هغه په دې پوهه شو نو بيا هغه د مريم کور ته لاړو چې د
يوحنا مرقوس مور وه. هلته ډېر ګڼ خلق راغونډ شوى وُو او
دُعا يې کوله. ۱۳ کله چې پطروس بهر دروازه وټکوله نو
روده نومې نوکره دروازې ته ورغله. ۱۴ نو چې هغې د
پطروس آواز وپېژندلو هغه دومره خوشحاله شوه چې د
دروازې خلاصولو په ځائ هغې دننه منډه کړه او هغوئ يې

خبر کړل چې، ”پطروس بهر په دروازه کښې ولاړ دے.“ ١٥
هغوئ هغې ته ووئیل چې، ”تهٔ لیونۍ یې.“ خو هغه په خپله
خبره ټینګه وه چې زهٔ رښتیا وایم. خو هغوئ ووئیل چې، ”دا
به ضرور د هغهٔ فرښته وی.“ ١٦ خو پطروس هم هغه شان
دروازه ټکوله او چې کله هغوئ دروازه کولاو کړه نو بیا د
هغهٔ په لیدو حق حیران شول. ١٧ خو پطروس هغوئ ته د
چپ کیدو اِشاره وکړه او ټوله قیصه یې ورته بیان کړه چې
مالِک هغه څنګه د قیدخانې نه بهر راوویستو. نو بیا هغهٔ
ووئیل چې، ”یعقوب او زمونږ نور وروڼه په دې واقعه خبر
کړئ.“ او بیا هغه بل ځائ ته روان شو. ١٨ چې سحر شو
نو سپاهیان په دې ډیر پریشانه وُو چې پطروس څهٔ شو؟ ١٩
کله چې هیرودیس هغه ښهٔ ولټولو او پیدا یې نهٔ کړو، بیا هغهٔ
د سپاهیانو نه بیان واخستو او د هغوئ د وژلو حُکم یې
ورکړو. د دې نه پس هیرودیس د یهودیه نه لاړو او د څهٔ
وخت دپاره په قیصریه کښې پاتې شو.

## د هیرودیس مرګ

٢٠ نو هیرودیس د صور او د صیدا خلقو ته په قهر وو نو په
دې وجه هغوئ ورته د صلحې دپاره جرګه ورولیږله ځکه چې
د هغوئ ښارونه د خوراک دپاره د هیرودیس د مُلک محتاجه
وُو. د سفارش کولو دپاره جرګې خپل ځان سره د بادشاه د
دربار ناظر بلستوس ملګرے کړو. ٢١ نو په یوه مقرره ورځ
هیرودیس خپل شاهی لباس واچولو، او په تخت کښیناستو او
هغوئ ته یې تقریر شروع کړو. ٢٢ او ګڼې چغې وهلې چې،
”دا خو د خُدائ آواز دے، نه چې د انسان.“ ٢٣ نو
سمدستی د مالِک خُدائ یوې فرښتې هیرودیس ووهلو، ځکه

چې هغهٔ د خُدائ پاک تمجيد ونهٔ کړو، او هغه چينجو وخوړو
او مړ شو. ۲۴ خو په هم دې وخت کښې د خُدائ پاک کلام
خوريدلو او ترقى يې کوله. ۲۵ بيا برنباس او ساؤل د خپل
خِدمت پوره کولو نه پس يروشلم ته واپس راغلل، او ځان
سره يې يوحنا راوستو، چې بل نوم يې مرقوس وو.

## د برنباس او ساؤل انتخابول

۱۳ ۱ د اَنطاکيه په جماعت کښې نبيان او اُستاذان وُو،
برنباس، شمعون چې په تور ياديږى، لوکيوس کرينى، مناهين
چې د هيروديس حاکِم سره يو ځائ لوئ شوے وو، او
ساؤل. ۲ کله چې هغوئ د مالِک عبادت کولو او روژه يې
نيولې وه نو روحُ القُدس ورته وفرمائيل، "برنباس او ساؤل
زما د هغه کار دپاره منتخب کړئ د څهٔ دپاره چې ما هغوئ
رابللى دى." ۳ نو د روژې نيولو او دُعا کولو نه پس هغوئ
د برنباس او ساؤل په سر خپل لاسونه کيښودل او رُخصت
يې کړل.

## په قبرص کښې د رسولانو بيان

۴ هغوئ دواړه د روحُ القُدس په وسيله وليږلے شول، او
هغوئ سلوکيه ته ښکته لاړل او بيا د هلته نه په سمندرى
جهاز کښې قبرص ته لاړل. ۵ کله چې هغوئ سَلميس ته
راورسيدل نو هغوئ د خُدائ پاک کلام د يهوديانو په
عبادتخانو کښې واورولو او د هغوئ سره يوحنا هم د مددګار
په توګه وو. ۶ هغوئ ټر پافُس پورې په ټوله جزيره کښې
وګرځيدل. هلته هغوئ يو يهودى جادوګر سره مِلاو شول،

چې د دروغو نبی وو او نوم يې بريسوع وو. ۷ هغه د
سرګيوس پولوس ګورنر ملګرے وو. ګورنر يو هوښيار
سړے وو. هغهٔ برنباس او ساؤل راوبلل ځکه چې هغهٔ
غوښتل چې د خُدائ پاک کلام واورى. ۸ خو جادوګر چې
په يونانۍ کښې ورته اِلِيماس وائى، د هغوئ مخالفت وکړو او
دا کوشش يې کولو چې ګورنر ايمان رانهٔ وړى. ۹ خو
ساؤل چې ورته پولوس هم وائى د روحُ القُدس نه معمور وو،
اِلِيماس ته يې نېغ کتل، ۱۰ او ورته يې ووئيل چې، ”اے د
اِبليس زويه، اے د صداقت دشمنه، اے ټګه او د شرارت نه
ډکه. ولې تهٔ د مالِک د نېغو لارو د کږولو نه نهٔ منع کيږې؟
۱۱ خو ګوره اوس، مالِک خُدائ ستا خلاف شو. تهٔ به ړوند
شې او د څهٔ وخت پورې به تهٔ د نمر رڼا نهٔ وينې.“ سمدستى
د هغهٔ په سترګو خړه راغله او په تَپو شو او بيا هغهٔ لاسونه
ټپول چې د لاس نه يې څوک ونيسى او بو يې ځى. ۱۲ کله
چې ګورنر دا هر څهٔ وليدل نو ايمان يې راوړو، ځکه چې هغه
د مالِک په حقله د تعليم په وجه ډېر متاثره شو.

## د پولوس رسول او برنباس بيان د پيسيديه په اَنطاکيه کښې

۱۳ پولوس او د هغهٔ ملګرى د پافُس نه په سمندرى جهاز
کښې پرګې ته لاړل چې په پمفوليه کښې ده. نو يوحنا ترې
جدا شو او يروشلم ته واپس لاړو. ۱۴ خو د پرګې نه هغوئ
پيسيديه اَنطاکيه ته لاړل. د سبت په ورځ هغوئ عبادتخانې ته
لاړل او کښېناستل. ۱۵ د شريعت او د نبيانو د صحيفو
لوستلو نه وروستو د عبادتخانې منتظيمينو هغوئ خبردار
کړل چې، ”ورونو، کهٔ تاسو سره د خلقو د ډاډه کولو دپاره

څهٔ کلام وی نو مهربانی وکړئ هغه بیان کړئ.“ ۱۶ نو
پولوس راوچت شو او خلقو ته يې د چپ کېدلو اِشاره وکړه،
او وې وئیل، ”اے بنی اِسرائیلو او غېریهودیانو تاسو څوک
چې د خُدائ پاک نه یرېږئ نو زما خبره واورئ. ۱۷ د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک زمونږ پلار نیکونه منتخب کړل او کله
چې لا هغوئ مهاجر وو نو د هغوئ نه يې په مِصر کښې یو
لوئ قوم جوړ کړو. او هغوئ يې د مِصر د غلامۍ نه په خپل
لوئ قُدرت سره را آزاد کړل. ۱۸ خو تر څلوېښتو کالو
پورې هغهٔ په صحرا کښې د دوئ چال چلن وزغملو. ۱۹ د
کنعان په مُلک کښې د اووهٔ قومونو بربادولو نه پس هغهٔ د
هغوئ زمکه خپلو خلقو له په میراث کښې ورکړه. ۲۰ او دا
تقریباً په څلور نیمو سوو کالو کښې سر ته ورسېدله. د هغې
نه پس هغهٔ د سموئیل نبی تر زمانې پورې هغوئ ته قاضیان
منتخب کړل. ۲۱ بیا هغوئ یو بادشاه وغوښتو، او خُدائ
پاک هغوئ له د قیس زوئ ساؤل ورکړو، چې د بنیامین د
قبیلې نه وو. او هغهٔ تر څلوېښتو کالو پورې حکومت وکړو.
۲۲ خو خُدائ پاک ساؤل لرې کړو او داؤد يې د هغهٔ په
ځائ بادشاه مقرر کړو، چې د چا په حقله چې خُدائ پاک
داسې وفرمائیل، ”د یَسی زوئ داؤد زما په نقش قدم روان
دے، هغه به زما ټوله رضا سر ته ورسوی.“ ۲۳ د دې سړی
د نسل نه خُدائ پاک د خپل قول په مطابق د بنی اِسرائیلو
دپاره خلاصونکے عیسیٰ راولېږلو. ۲۴ یحییٰ د عیسیٰ د
راتلو نه وړاندې د بنی اِسرائیلو ټولو خلقو ته بیان وکړو چې
توبه ګار شئ او بپتسمه واخلئ. ۲۵ کله چې یحییٰ خپل
خِدمت پوره کولو نو هغهٔ ووئیل چې، ”زهٔ هغه مسیح نهٔ یم
کوم چې ستاسو خیال دے، خو زما نه پس هغه څوک

راروان دے چې زۀ د هغۀ د پېزار د تسمو د پرانستلو جوګه
هم نۀ يم.“ ۲۶ زما ورونړو، تاسو چې د اِبراهيم اولاد يئ او
غېريهوديان چې د خُدائ پاک نه يره کوئ، مونږ ته د
خلاصون دا پېغام رالېږلے شوے دے. ۲۷ د يروشلم خلقو
او د هغوئ مشرانو عيسىٰ ونۀ پېژندلو، د هغۀ په مجرم کولو
هغوئ د نبيانو هغه کلام پوره کړو چې د هر سبت په ورځ به
تلاوت کېدو. ۲۸ سره د دې چې هغوئ سره د هغۀ د مرګ د
سزا څۀ ثبوت نۀ وو خو بيا يې هم پيلاطوس ته ووئيل چې
هغه قتل کړى. ۲۹ کله چې هغوئ هغه هر څۀ پوره کړل کوم
چې د هغۀ په حقله په صحيفو کښې ليکلى وُو نو هغوئ هغه د
سولۍ نه راکوز کړو او په قبر کښې يې کېښودلو. ۳۰ خو
خُدائ پاک عيسىٰ د مړو نه بيا راژوندے کړو. ۳۱ او کوم
خلق چې د هغۀ سره د ګليل نه يروشلم ته راغلى وُو، هغوئ
هغه تر ډېرو ورځو پورې وليدلو. هغوئ اوس زمونږ د قوم
خلقو ته د هغۀ ګواهان دى. ۳۲ او مونږ تاسو ته يې هغه
زېرے راوړو چې خُدائ پاک زمونږ د پلار نيکونو سره وعده
کړې وه. ۳۳ خُدائ پاک دا وعده زمونږ دپاره، چې مونږ د
هغوئ اولاد يُو، د عيسىٰ د مړو نه بيا ژوندى کولو سره پوره
کړله، لکه چې دا په دويم زبور کښې ليکلى دى چې، ”تۀ زما
زوئ يې او د نن نه زۀ ستا پلار شوم.“ ۳۴ او خُدائ پاک د
هغۀ سره د مړو نه د بيا راژوندى کولو وعده وکړه او په قبر
کښې خاورې کېدو ته يې پرې نۀ ښودو، او خُدائ پاک
وفرمائيل چې، ”زۀ به تاسو ته د داؤد سره وعده کړے شوى
پاک او حقيقى نعمتونه درکړم.“ ۳۵ بيا هغه د زبور په بل
ځائ کښې داسې فرمائيلى دى چې، ”تۀ به په خپل قُدوس د
خاورې کېدو ساعت رانۀ ولې.“ ۳۶ ځکه کله چې داؤد په

خپله پیړۍ کښې د خُدائ پاک د مرضۍ خِدمت پوره کړو نو
هغه مړ شو او د خپل پلار نیکونو سره ښخ شو او د هغهٔ بدن
خاورې شو، ۳۷ خو هغه څوک چې خُدائ پاک بیا د مړو نه
ژوندے کړو هغه خاورې نهٔ شو. ۳۸ نو ځکه زما ورونړو، زهٔ
غواړم چې تاسو پوهه شئ چې د عیسیٰ په وسیله تاسو ته د
ګناهونو د معافۍ اعلان کیږی. ۳۹ او هر څوک چې په
عیسیٰ ایمان راوړی، د هغهٔ په وسیله به د هغهٔ هره هغه ګناه
معاف شی کومه چې د موسیٰ په شریعت کښې معاف کیدے
نهٔ شوله. ۴۰ نو بیا خبردار شئ چې په تاسو کښې هغه څهٔ
رانهٔ شی څهٔ چې نبیانو وئیلی دی چې، ۴۱ وګورئ اے
سپکو خلقو، حېران او تباه شئ، ځکه چې زهٔ به ستاسو د
ژوند په دوران کښې یو داسې کار وکړم چې تاسو به پرې
یقین نهٔ کوئ کهٔ تاسو ته وئیلے شوی هم وی.“ ۴۲ کله چې
پولوس او برنباس د عبادتخانې نه بهر وتل نو خلقو ورته مِنت
زاری وکړه چې په راتلونکی سبت مونږ ته بیا د دې موضوع
په حقله خبرې وکړئ. ۴۳ نو چې کله ګڼه خوره شوه نو ډېر
یهودیان او نوې یهودیان شوی کسان پولوس او برنباس له
ورغلل او پولوس او برنباس دوئ ته مِنت وکړو چې د خُدائ
پاک په فضل کښې قائم پاتې شئ. ۴۴ په بل سبت تقریباً د
ښار ټول خلق د مالِک خُدائ کلام اورېدو ته راغونډ شول.
۴۵ خو چې یهودیانو دا ګڼه ولیده نو هغوئ د ډېر حسد نه
اور واخستو او د پولوس د خبرو مخالفت یې وکړو او وې
کنځلو. ۴۶ بیا پولوس او برنباس په ډاګه ووئیل چې، ”دا
ضروری وه چې اول دې تاسو بنی اِسرائیلو ته د خُدائ پاک
کلام واورولے شی، خو چې تاسو یې نهٔ قبلوئ او خپل
ځانونه د تل عُمری ژوندون لائق نهٔ ګڼئ، نو اوس مونږ

غېریهودیانو ته دعوت ورکوو. ۴۷ څکه چې مالِک مونږ ته
دا حُکم راکړے دے چې، زهٔ به تا د قومونو دپاره رڼا
وګرځوم نو چې دغه شان تهٔ زما خلاصون ټولې دُنیا ته
ورسوې.“ ۴۸ کله چې غېریهودیانو دا واورېدل نو ډېر
خوشحاله شول او د مالِک د کلام دپاره شُکر ګزار شول او
هغوئ څوک چې د تل عُمرې ژوندون دپاره غوره شوی وُو،
ایمان يې راوړو. ۴۹ نو په هغه ټول مُلک کښې د مالِک
خُدائ کلام خور شو. ۵۰ خو یهودیانو دینداري او عزتمندې
ښځې او د ښار مشران د پولوس او برنباس خلاف کړل، او د
هغوئ په تکلیف رسولو يې لاس پورې کړو او دغه شان يې
هغوئ د ښار نه بهر کړل. ۵۱ نو هغوئ د احتجاج په طور د
خپلو پښو نه د هغوئ خلاف دوړه وڅنډله او اِکونیوم ته لاړل.
۵۲ او مریدان د خوشحالۍ او روحُ القُدس نه معمور وُو.

## په اِکونیوم کښې زيرے اورول

۱۴ ۱ پولوس او برنباس په اِکونیوم کښې د یهودیانو
عبادتخانې ته لاړل. هلته هغوئ په داسې ښهٔ انداز سره خبرې
وکړې چې ډېرو یهودیانو او غېریهودیانو پرې ایمان راوړو.
۲ خو بې‌ایمانه یهودیانو د غېریهودیانو په ذهنونو کښې د
ایماندارانو خلاف نفرت پیدا کړو. ۳ خو د ډېرې مودې
دپاره پولوس او برنباس هلته پاتې شول او په زړهٔ ورتیا سره
يې د مالِک په حقله خبرې کولې، نو مالِک د هغوئ د معجزو
او نښو او عجیبه کارونو د قابلیت په ورکولو سره د خپل
کلام تصدیق وکړو. ۴ خو د ښار خلق په دوو ډلو تقسیم
شول، څینې د یهودیانو په طرف او څینې د رسولانو سره

شول. ۵ خو غېریهودیانو او یهودیانو په یو ځائ د ښار د حاکمانو سره داسې منصوبه جوړه کړه چې دوئ به هغوئ بې‌عزته او سنګسار کړی. ۶ نو هغوئ د دوئ د نیت نه خبر شول او د لوکاونیه ښارونو لستره او دربې ته او ګېرچاپېره مُلکونو ته یې هِجرت وکړو. ۷ او هلته یې مسلسل د زیری تعلیم ورکولو.

## په لستره او دربه کښې زیرے اورول

۸ په لستره کښې یو شل سړے وو چې پیدائشی ګوډ وو او هیچرې نهٔ وو ګرځېدلے. ۹ کله چې پولوس بیان کولو نو هغهٔ ورته غوږ ایښے وو، نو چې پولوس ورته د زړهٔ نه وکتل نو په دې پوهه شو چې د هغهٔ په جوړېدلو ایمان شته، ۱۰ نو هغهٔ ورته په زوره ووئیل، ”پاڅه او په خپلو پښو ودرېږه.“ نو هغه ایک دم پاڅېدو او روان شو. ۱۱ کله چې خلقو د پولوس دا کار ولیدو هغوئ په خپله مقامی ژبه کښې ووئیل چې، ”خُدایان د انسانانو په شکل کښې مونږ ته راکوز شوی دی.“ ۱۲ هغوئ برنباس ته د زیُوس معبود او پولوس ته د هِرمیس معبود خطاب وکړو ځکه چې پولوس د هغوئ مشرکلام اورونکے وو. ۱۳ د زیُوس اِمام چې د چا عبادتخانه د ښار نه بهر وه، هغهٔ د ښار دروازې ته غوَیان او هارونه راوړل ځکه چې هغهٔ او هغه ګڼې غوښتل چې هغوئ ورته قربانی پېش کړی. ۱۴ خو کله چې برنباس او پولوس په دې خبر شُو نو خپلې جامې یې وشلولې او خلقو ته یې ورمنډې کړې او چغې یې کړې چې، ۱۵ ”اے خلقو. تاسو ولې داسې کارونه کوئ؟ مونږ خو هم ستاسو په شان انسانان یُو. مونږ دا زیرے د دې دپاره تاسو له راوړو چې تاسو د دې

عبث بُتانو نه ژوندی خُدائ پاک ته راواوړئ چا چې
آسمانونه، زمکې، سمندرونه او په دې کښې هر څهٔ پېدا کړی
دی. ۱۶ په تېرو شوو زمانو کښې هغهٔ ټول نسلونه خپلې
خوښې ته پرېښې وو چې په کومه ځی. ۱۷ هغهٔ خپل وجود
په تاسو د رحم په وسيله ثابت کړو، يعنې په تاسو د آسمان نه
باران ورَوی او په خپل موسم کښې فصلونه درکوی، هغه
تاسو په خوراک مړوی او ستاسو زړونه خوشحالوی.“ ۱۸
په دې وينا سره رسولانو خلق خپل ځان ته د قربانۍ کولو نه
ډېره په ګرانه سره منع کړل. ۱۹ بيا د اَنطاکيه او اِکونيوم نه
څهٔ يهوديان هغه ځائ ته راغلل او خلق يې ځان سره ملګری
کړل. نو هغوئ بيا پولوس سنګسار کړو او د ښار نه يې بهر
راښکلو، د هغوئ خيال دا وو چې ګنې مړ دے. ۲۰ خو چې
کله مريدان د هغهٔ نه راتاو شول، نو هغه پاڅېدو او ښار ته
واپس دننه لاړو او په بله ورځ هغه د برنباس سره دربې ښار
ته لاړو.

## د شام اَنطاکيه ته واپس تلل

۲۱ په دربې کښې د زيری اورولو نه وروستو ډېر خلق د
عيسىٰ مريدان شول. بيا هغوئ لستره، اِکونيوم او اَنطاکيه ته
واپس لاړل. ۲۲ هغوئ د ايماندارانو زړونه مضبوط کړل او
ډاډګيرنه يې ورکړه چې په خپل ايمان ټينګ او قائم پاتې شی
او هغوئ ته يې ووئيل چې، ”د خُدائ پاک بادشاهۍ ته د
داخلېدو دپاره به مونږ ډېر تکليفونه زغمو.“ ۲۳ هغوئ په هر
جماعت کښې مشران مقرر کړل، او په روژه نيولو او دُعا
کولو سره يې هغوئ هغه مالِک ته وسپارل په چا چې يې
ايمان راوړے وو. ۲۴ بيا هغوئ د پيسيديه نه تېر شول او

پمفوليه ته راغلل. ۲۵ او کله چې هغوئ په پرګه کښې کلام
واورولو نو هغوئ لاندې اټالیې ته لاړل. ۲۶ د اټالیې نه هغوئ
اَنطاکيه ته په سمندرى جهاز کښې لاړل چرته چې هغوئ د
هغه کار دپاره د خُدائ پاک فضل ته وسپارلے شول کوم
چې دوئ اوس پوره کړو. ۲۷ کله چې هغوئ راورسېدل نو
هغوئ جماعت يو ځائ راجمع کړو، او د هغه هر څۀ نه يې
هغوئ خبر کړل چې خُدائ پاک د دوئ په وسيله کړى وُو،
او چې څنګه هغۀ غېريهوديانو ته د ايمان د راوړلو دروازه
کولاو کړې وه. ۲۸ او هغوئ هلته تر ډېره وخته پورې د
مريدانو سره پاتې شول.

## په يروشلم کښې جرګه

۱۵ ۱ بيا ځينې کسان د يهوديه نه راغلل او ايماندارانو
ته يې تعليم شروع کړو چې، ”کۀ تاسو د موسىٰ د شريعت په
مطابق سنت نۀ شئ نو خلاصون نۀ شئ موندلے.“ ۲ په
دې د پولوس او برنباس د هغوئ سره ډېر سخت بحث وشو
او جماعت دا فېصله وکړه چې پولوس او برنباس دې سره د
نورو ايماندارانو يروشلم ته لاړ شى چې په دې مسئله د
رسولانو او د نورو مشرانو سره خبرې وکړى. ۳ جماعت
هغوئ ولېږل او په فينيکې او سامريه ورواوړېدل او هغوئ د
غېريهوديانو د ايمان راوړلو خبرې کولې، نو په دې خبره ټول
ايمانداران ډېر خوشحاله شول. ۴ کله چې هغوئ يروشلم
ته راغلل نو ټول جماعت، رسولانو او مشرانو ورته تود
هرکلے وئيلو او بيا يې هغوئ د هغه هر څۀ نه چې خُدائ
پاک د هغوئ په وسيله کړى وُو، خبر کړل. ۵ بيا د

فریسیانو د فرقې څهٔ ایمانداران پاځېدل او وې وئیل چې، "دا
ضروری دی چې غېریهودیان سنت شی او ورته دې حکم
وشی چې د موسیٰ د شریعت پابندی کوئ." ۶ نو رسولانو
او مشرانو جرګه جوړه کړه چې په خپلو کښې په دې مسئلې
مشوره وکړی. ۷ د اوږد بحث نه پس پطروس پاځېدو او
هغوئ ته یې مخ راواړولو او وې وئیل چې، "اے زما ورونړو،
تاسو په خپله خبر یئ چې په اولو ورځو کښې خُدائ پاک په
تاسو کښې زهٔ خوښ کړم چې غېریهودیانو ته د زیری کلام
بیان کړم چې هغوئ ایمان راوړی. ۸ او خُدائ پاک چې د
هر څهٔ نه خبر دے، هغهٔ هغوئ ته د روحُ القُدس د ورکولو په
وسیله د دې تصدیق وکړو چې خُدائ پاک هغوئ هم قبول
کړی دی څنګه چې یې مونږ قبول کړی یُو. ۹ هغهٔ په هغوئ
کښې او په مونږ کښې څهٔ فرق ونهٔ کړو ځکه چې هغهٔ د ایمان
راوړلو په وسیله د هغوئ زړونه پاک کړل. ۱۰ نو اوس بیا
تاسو خُدائ پاک ولې آزمایئ او د دې مریدانو په اوږو داسې
جغ ولې ږدئ چې نهٔ خو مونږ او نهٔ زمونږ پلارانو نیکونو
وړلے شو؟ ۱۱ نه، زمونږ عقیده ده چې مونږ د مالِک عیسیٰ
د فضل په وسیله خلاصون موندلے دے او دغه شان دوئ
هم." ۱۲ په دې ټوله غونډه چپ شوله او برنباس او پولوس
ته یې غوږ کېښودو چا چې هغه نښې او معجزې بیان کړې
چې د دوئ په وسیله خُدائ پاک په غېریهودیانو کښې ښکاره
کړې وې. ۱۳ هغوئ چې خبرې بس کړې نو یعقوب ووئیل
چې، "اے زما ورونړو، ما ته غوږ کېږدئ. ۱۴ شمعون مونږ
ته ووئیل چې خُدائ پاک څنګه په اول ځل د غېریهودیانو نه
خلق د خپل ځان دپاره خوښ کړل. ۱۵ دا د نبیانو د کلام
سره هم سمون خوری لکه چې صحیفو کښې لیکلے شوی

دی چې، ۱۶ ”د هغې نه پس به زهٔ واپس راشم او د داؤد
نړېدلے کور به بیا آباد کړم، او زهٔ به دا بیا ودان کړم ۱۷ د
دې دپاره چې نور انسانان، یعنې غېریهودیان زما لټون وکړی
څوک چې ما رابللی او خپل کړی دی. مالِک خُدائ داسې
فرمائی، هغه چې دغه کارونه کوی، ۱۸ چې د پیړو راسې
معلوم دی.“ ۱۹ د دې دپاره زما فېصله دا ده چې مونږ هغه
غېریهودیانو ته تکلیف ورنهٔ کړُو څوک چې په خُدائ پاک
ایمان راوړی، ۲۰ بلکې په لیکلو ورته هدایت وکړُو چې بُتانو
ته پېش کړے شوې نذرانې او زناکارئ نه او د مُردار شوی
څاروی غوښې نه او د هغې د وینې نه ځان وساتئ. ۲۱ ځکه
چې د پخوا زمانې نه په هر ښار کښې د موسیٰ د شریعت
تعلیم ورکول کېدو او په هر سبت به په عبادتخانو کښې
تلاوت کېدو.“

## د جرګې پېغام

۲۲ بیا رسولانو او مشرانو د ټول جماعت په مشوره دا
فېصله وکړه چې په خپل مینځ کښې یو څو کسان خوښ
کړی او هغوئ اَنطاکیه ته د پولوس او برنباس سره ولېږی.
هغوئ په ورونړو کښې یهوداه چې برسبا ورته وائی، او سیلاس
چې په هغوئ کښې ډېر عزتمند وو، غوره کړل. ۲۳ او خط
یې ورکړو چې په کښې داسې لیکلے شوی وُو، ”مونږ
رسولان او مشران ستاسو ورونړه، تاسو غېریهودیانو
ایماندارانو ته چې په اَنطاکیه، شام، او کلکیه کښې یئ
سلامونه وایو. ۲۴ مونږ اورېدلی دی چې زمونږ ځینی کسان
زمونږ د حُکم نه بغېر درغلی دی او په خپلو خبرو یې تاسو
پرېشانه کړی یئ او ستاسو ذهنونه یې ګډوډ کړی دی. ۲۵

مونږ دا فیصله کړې ده چې خپل نمائنده ګان خوښ کړُو او
د خپلو خوږو ملګرو برنباس او پولوس سره یې تاسو له
درولیږو، ۲۶ چا چې خپل ځانونه زمونږ د مالِک عیسیٰ
مسیح د نوم دپاره په خطره کښې اچولی دی. ۲۷ د دې
دپاره مونږ یهوداه او سیلاس درلیږو او هغوئ به درته په خپله
دا خبرې تېرې کړی. ۲۸ دا زمونږ او د روحُ القُدس خوښه
ده چې د دې ضروری خبرو نه زیات په تاسو نور بوج وانۀ
چوُو. ۲۹ تاسو ته په کار دی چې بُتانو ته د نذر کړې قربانیٔ
نه، د هغې د وینې او د مُردار شوی ځاروی غوښې نه او د
زناکاریٔ نه ځان ساتئ. کۀ تاسو د دې څیزونو نه ځانونه بچ
ساتئ نو تاسو به ښۀ کوئ. وسلام.“ ۳۰ نو دغه شان دوئ
رُخصت کړے شول او اَنطاکیه ته لاړل. هلته هغوئ جماعت
یو ځائ جمع کړو او خط یې ورله ورکړو. ۳۱ کله چې
هغوئ دا خط ولوستلو نو هغوئ په دې تسلیٔ خوشحاله شول.
۳۲ یهوداه او سیلاس چې په خپله هم نبیان وُو، هغوئ
ایماندارانو ته د ډاډګیرنې او تکړه کېدو دپاره ډېر نصیحت
وکړو. ۳۳-۳۴ هلته د څۀ وخت تېرولو نه پس ایماندارانو
هغوئ په خیر سره خپلو استوونکو ته واپس ولیږل. ۳۵ خو
پولوس او برنباس په اَنطاکیه کښې پاتې شول او هلته یې د
ډېرو نورو سره د مالِک کلام اورولو او تعلیم یې ورکولو.

## د پولوس رسول او برنباس جدائی

۳۶ نو څو ورځې پس پولوس برنباس ته ووئیل چې، ”راځه
چې واپس لاړ شُو او ایماندارانو سره مِلاو شُو په هر هغه ښار
کښې چرته چې مونږ د مالِک کلام اورولے وو او د هغوئ د
حال نه ځان خبر کړُو.“ ۳۷ د برنباس دا خواهش وو چې

یوحنا چې ورته مرقوس وائی د ځان سره بوځی. ۳۸ خو
پولوس دا مناسب نۀ ګڼل چې هغه د ځان سره ملګرے کړی
ځکه چې یوحنا هغوئ په پمفولیه کښې ځانله پرېښے وُو او د
خِدمت په کار کښې یې دوئ سره ملګرتیا نۀ وه کړې. ۳۹ د
هغوئ اختلاف دومره زیات شو چې هغوئ د یو بل نه جدا
شول او برنباس مرقوس د ځان سره کړو او په سمندری
جهاز کښې قبرص ته روان شو. ۴۰ خو پولوس سیلاس
خوښ کړو او هغه په خپل سفر روان شو. ایماندارانو هغه د
مالِک فضل ته وسپارلو. ۴۱ هغه په شام او کلکیه ورتېر شو
او جماعتونو له یې ډاډګیرنه ورکړه.

## د پولوس رسول او سیلاس سره د تیموتیوس ملګرتیا

۱۶ ۱ پولوس دربې او لستره ته لاړو. هلته تیموتیوس
نومې یو مرید وو چې مور یې یهودنه وه او هغه ایمانداره وه
خو د هغۀ پلار یونانی وو. ۲ هغه د لستره او اِکونیوم په
ایماندارانو کښې ډېر نیک نامه وو. ۳ پولوس غوښتل چې
تیموتیوس د خپل ځان سره بوځی، او د هغه یهودیانو د
خاطره چې هلته اوسېږی هغوئ هغه سنت کړو ځکه چې
هغوئ ټولو ته پته وه چې د هغۀ پلار یونانی وو. ۴ څنګه
چې هغوئ د یو ښار نه بل ته تلل نو هغه فرمانونه چې
رسولانو او مشرانو پرې په یروشلم کښې فیصله کړې وه، هغه
یې ایماندارانو ته اورول چې عمل پرې وکړی. ۵ نو
جماعتونه په ایمان کښې ورځ په ورځ تکړه کېدل او د هغوئ
شمېر زیاتېدو.

## د مِکدونی سړی په حقله د پولوس رسول رویا

٦ نو هغوئ د فروګیه او ګلتیه په علاقو واوړېدل ځکه چې
روحُ القُدس هغوئ د آسیه په صوبه کښې د کلام اورولو نه
منع کړی وُو. ٧ کله چې هغوئ د موسیه سرحد ته
ورسېدل نو هغوئ کوشش وکړو چې بتونیه ته ننوځی خو د
عیسیٰ روح هغوئ پرې نۀ ښودل. ٨ نو هغوئ په موسیه تیر
شول او ترواس ته لاړل. ٩ د شپې پولوس رویا ولیدله چې
یو مِکدونی سړے ولاړ دے او دا مِنت ورته کوی چې،
”مِکدونیه ته راپورې وځه او زمونږ مدد وکړه.“ ١٠ کله چې
هغۀ دا رویا ولیده نو مونږ سمدستی کوشش وکړو چې
مِکدونیه ته لاړ شُو. زمونږ دا خیال وو لکه چې خُدائ پاک
راته وئیلی وی چې هغوئ ته زیرے ورکړُو.

## د فیلیپی لِدیه په حضرت عیسیٰ مسیح ایمان راوړل

١١ نو مونږ د ترواس نه په سمندری جهاز کښې سوارۀ شُو
او نېغ ساموتراکې ته او په بله ورځ نیاپولیس ته لاړو، ١٢ او
د هغه ځائ نه فیلیپی ته چې د مِکدونیه په ضِلع کښې لوئ
ښار دے او د رومیانو کالونی هم ده. مونږ په دې ښار کښې
د څو ورځو دپاره پاتې شُو. ١٣ د سبت په ورځ مونږ د ښار
د دروازې نه بهر د سیند غاړې ته لاړو چرته چې زمونږ دا
خیال وو چې خلق به د عبادت دپاره راټول شوی وی، مونږ
کښېناستو او هلته د راغلو ښځو سره مو خبرې وکړې. ١۴
په هغوئ کښې د یوې نوم لِدیه وو چې د قیمتی کاسنی رنګ
جامو سوداګره وه او د تواتیره د ښار اوسېدونکې وه. هغه د
خُدائ پاک عبادت کوونکې وه. مالِک د هغې زړۀ پرانستو او

هغې د پولوس کلام قبول کړو. ۱۵ کله چې هغې ته سره د
خاندانه بپتسمه ورکړے شوه نو هغې په مونږ زور واچولو او
وې وئيل چې، ”کهٔ تاسو ما د مالِک ايمانداره گڼئ نو راشئ
او زما په کور کښې مېلمانهٔ شئ.“ او هغې مونږ په پاتې کېدو
مجبور کړُو.

## پولوس رسول او سيلاس په قېدخانه کښې

۱۶ مونږ يوه ورځ چې عبادتخانې ته روان وُو نو يوه نوکره
مو وليدله چې پرې د غيب عالم روح ناست وو او هغې خپلو
مالِکانو ته د فال کتو په ذريعه ډېرې پېسې گټلې. ۱۷ هغه
نوکره پولوس او مونږ پسې راروانه وه او چغې يې وهلې، ”دا
د خُدائ تعالىٰ غلامان دی او تاسو ته د خلاصون لار ښائی.“
۱۸ هغې دا وينا ډېرې ورځې وکړه خو آخر پولوس تنگ
شو. هغهٔ هغه روح ته مخ راواړولو او ورته يې ووئيل چې، ”زهٔ
تا ته حُکم درکوم چې د عيسىٰ مسيح په نوم د دې نه بهر
شه.“ او هغه په هغه ځائ د هغې نه راووتو. ۱۹ خو کله چې
د جينۍ مالِکانو وکتل چې د دوئ د گټې اُميد ختم شو نو
هغوئ پولوس او سيلاس ونيول او په بازار کښې يې په
راښکلو حاکمانو ته راوستل. ۲۰ چې کله يې هغوئ د
منصفانو په وړاندې پېش کړل نو هغوئ ووئيل چې، ”دا
کسان زمونږ په ښار کښې گډېړ جوړوی او يهوديان هم دی.
۲۱ دوئ د هغه رسمونو تعليم ورکوی کوم چې مونږ روميانو
ته منل او عمل پرې کول روا نهٔ دی.“ ۲۲ گڼه هغوئ سره په
پولوس او سيلاس باندې د حملې کولو دپاره يو ځائ شوه او
منصفانو حکم وکړو چې د دوئ جامې وباسئ او په کوتکونو
يې ووهئ. ۲۳ د ښهٔ وهلو ټکولو نه پس يې هغوئ په قېدخانې

کښې واچول او د جېل مشر ته يې حکم وکړو چې په هغوئ
سخت نظر ساتی چې ونهٔ تښتی. ۲۴ د دې حکم په مطابق
هغهٔ هغوئ د قېدخانې په دننه حِصه کښې واچول او د هغوئ
پښو ته يې زولنئ واچولې. ۲۵ خو په نيمه شپه کښې پولوس
او سيلاس دُعا کوله او د خُدائ پاک ثنا يې وئيله او نورو
قېديانو ورته غوږ اېښے وو، ۲۶ چې ناګهانه داسې سخته
زلزله راغله چې د قېدخانې بنيادونه يې وخوځول. او
سمدستی ټولې دروازې کولاو شوې او د ټولو قېديانو زولنئ
پرانستے شوې. ۲۷ کله چې د جېل مشر راويښ شو او د
قېدخانې دروازې يې کولاو وليدلې نو دا خيال يې وکړو چې
قېديان به تښتېدلی وی، نو هغهٔ خپله تُوره راوويسته نو چې
ځنګه يې خپل ځان وژلو. ۲۸ خو پولوس تېزه چغه ورکړه
چې، "ځان ته نقصان مهٔ رسوه ځکه چې مونږ ټول دلته يُو."
۲۹ نو د جېل مشر ډيوه راوغوښته، ورمنډه يې کړه او په
رپېدو د پولوس او سيلاس په وړاندې پرېوتو. ۳۰ بيا هغهٔ
هغوئ بهر راوويستل او وې وئيل چې، "اے صاحبانو، زهٔ څهٔ
وکړم چې خلاصون حاصل کړم؟" ۳۱ هغوئ جواب ورکړو
چې، "په مالِک عيسىٰ باندې ايمان راوړه نو تهٔ او ستا خاندان
به خلاصون حاصل کړی." ۳۲ بيا هغوئ د مالِک کلام هغهٔ
ته او د هغهٔ د کور ټولو خلقو ته واورولو. ۳۳ د شپې په هم
هغه وخت د جېل مشر هغوئ ځان سره بوتلل او زخمونه يې
ورله ووينځل، نو په هم هغه ساعت هغوئ بيا هغهٔ ته سره د
خاندانه بپتسمه ورکړه. ۳۴ هغهٔ هغوئ خپل کور ته راوستل
او خوراک يې ورته کېښودو او هغه سره د خپله ټوله خاندانه
ډېر خوشحاله شو ځکه چې هغوئ په خُدائ پاک ايمان
راوړے وو. ۳۵ نو سحر وختی منصفانو آفسران د دې حکم

سره وروليږل چې، "هغه کسان پرېږدئ چې لاړ شی." ۳۶ نو
د جيل مشر پولوس ته دا خبر ورکړو او وئ وئيل چې،
"منصفانو دا خبر راليږلے دے چې تهٔ او سيلاس دې آزاد
کړے شی، نو اوس راوځئ او په خير لاړ شئ." ۳۷ خو
پولوس آفسرانو ته ووئيل چې، "باوجود د دې چې مونږ سره
د روم شهريت دے خو هغوئ مونږ د خلقو په وړاندې بې‌ګناه
بې‌خطا ووهلو. او مونږ يې قيد کړو او اوس مو په پټه وياسی
څهٔ؟ بلکل نه، هغوئ دې په خپله راشی او مونږ دې بهر
کړی." ۳۸ آفسرانو د دوئ دا خبره منصفانو ته ورسوله.
کله چې هغوئ دا واورېدل چې پولوس او سيلاس سره د روم
شهريت دے نو يرې واخستل ۳۹ او راغلل او معافی يې
ورنه وغوښته، او هغوئ يې رابهر کړل او مِنت يې ورته وکړو
چې د ښار نه لاړ شئ. ۴۰ د قيدخانې نه وروستو هغوئ د
لِديه کور ته لاړل او هلته د ايماندارانو وروڼو او خويندو سره
مِلاو شول او هغوئ ته يې ډاډګيرنه ورکړه او بيا ترې
رُخصت شول.

## په تِسالونيکيه کښې اله ګوله

۱۷ ۱ بيا پولوس او سيلاس په امفيپوليس او په اپولونيه
تير شول او تِسالونيکيه ته راغلل چرته چې د يهوديانو
عبادتخانه وه. ۲ او پولوس د خپل عادت په مطابق د
هغوئ عبادتخانې ته تلو او درې هفتې د هر سبت په ورځ د
هغوئ سره د صحيفو نه بحث مباحثه کوله. ۳ او دا يې
ورته تشريح او ثابت کړل چې مسيح به خامخا تکليفونه
زغمی او د مړو نه به بيا ژوندے راپاڅی. او هغهٔ ووئيل چې،

”کوم عیسیٰ چې زهٔ تاسو ته بیانوم، هم هغه مسیح دے.“ ۴
په هغوئ کښې ځینې راضی شول او د پولوس او سیلاس
سره ملګری شول او دغه شان د دې دیندارو یونانیانو یو څو
عزتمندې ښځې هم راضی شوې. ۵ خو یهودیانو د حسد له
کبله د ښهٔ بازاری بدمعاشانو په مدد، جلوس راوویستو او په
ښار کښې یې اله ګوله جوړه کړه. هغوئ د یاسون کور راګېر
کړو چې پولوس او سیلاس ولټوی او د خلقو ګڼې ته یې
راوباسی. ۶ خو چې هغوئ یې ونهٔ موندل نو یاسون او
ځینې نور ایمانداران یې د ښار منصفانو ته په زور راوستل او
دا چغې یې وهلې چې، ”هم دې کسانو ټوله دُنیا په عذاب اخته
کړې ده او اوس زمونږ ښار هم په عذابوی، ۷ او یاسون
هغوئ د ځان سره دېره کړی دی. هغوئ د قیصر ټول قانون
د پښو لاندې کړے دے او دا وائی چې دلته یو بل بادشاه دے
چې نوم یې عیسیٰ دے.“ ۸ کله چې خلقو او د ښار
منصفانو دا واورېدل نو وارخطا شول. ۹ نو هغوئ د
یاسون او نورو نه ضمانت واخستلو او پرې یې ښودل.

## پولوس رسول او سیلاس په بیریه کښې

۱۰ په هم هغه شپه ایماندارانو وروڼو پولوس او سیلاس
بیریه ته ولېږل. کله چې هغوئ راورسېدل نو د یهودیانو
عبادتخانې ته لاړل. ۱۱ دا یهودیان د تِسالونیکیه د یهودیانو په
نسبت آزاد خیاله وو، ځکه چې هغوئ کلام ډېر په اخلاص
قبول کړے وو او هره ورځ به یې د صحیفو په لوستلو غور
کولو ترڅو په دې پوهه شی چې د هغوئ تعلیم صحیح دے او
کهٔ نه. ۱۲ نو په دې وجه په هغوئ کښې ډېرو ایمان راوړو
او ورسره ښهٔ یونانیانې عزتمندې ښځې او سړی هم ملګری

شُو. ۱۳ خو چې د تِسالونيکيه يهوديانو ته دا پته ولګېده چې
پولوس په بيريه کښې هم د خُدائ پاک کلام بيانوى نو هغوئ
هلته هم راغلل چې ګڼه د هغوئ خلاف ولمسوى او را وې
پاروى. ۱۴ نو ايماندارانو وروڼو پولوس سمدستى ښکته
ساحل ته ولېږلو. خو سيلاس او تيموتيوس دواړه وروستو
پاتې شول. ۱۵ هغه کسان چې د پولوس د لارې ملګرى وُو
نو هغه يې اتينيه ته راوستو او په واپسئ کښې يې سيلاس او
تيموتيوس ته دا پېغام ورکړو، څومره زر چې کېدے شى ما
ته خپل ځان راورسوئ.

## پولوس رسول په اتينيه کښې

۱۶ بيا چې پولوس په اتينيه کښې د هغوئ په اِنتظار وو نو
زړۀ يې ډېر غمژن شو چې ښار يې له بُتانو نه ډک وليدلو. ۱۷
نو هغۀ به په عبادتخانه کښې د يهوديانو او ديندارو يونانيانو
سره بحثونه کول او دغسې به يې په بازارونو کښې هره ورځ
هغوئ سره کول څوک چې به هلته وُو. ۱۸ ځينې اِپيکورى
او ستُوئيکى فلسفيانو هم ورسره بحث وکړو او ځينو ووئيل
چې، ”دا بکواس کولو والا څۀ وئيل غواړى؟“ او نورو ووئيل
چې، ”داسې لګى چې دے د غېرو معبودانو بيان کوى.“ او دا
يې ځکه ووئيل چې هغۀ د عيسىٰ او د قيامت په حقله زيرے
اورولو. ۱۹ نو هغوئ هغه ونيولو او اريوپاګوس دربار ته يې
راوستو او ورته يې ووئيل چې، ”دا نوے تعليم کوم چې تۀ
ورکوې، مونږ په دې پوهولے شې څۀ؟ ۲۰ مونږ ته تۀ څۀ
عجيبه بيانونه رارسوې، خو مونږ په دې ځان پوهول غواړو
چې د دې مطلب څۀ دے.“ ۲۱ نو په هغه وخت کښې
اتينيانو او د هغه ځائ بهرنى خلقو سره په نوې سوچونو

باندې د تاويلو ماويلو نه بغير بله مشغولا نۀ وه. ۲۲ نو بيا
پولوس د اريوپاګوس د دربار په وړاندې ودرېدو او وې وئيل
چې، ”اے اتينيانو، زۀ وينم چې تاسو په هر لحاظ ډېر سرګرم
ايمانداران يئ. ۲۳ ځکه هر کله چې زۀ په ښار کښې
وګرځېدم او ما ستاسو د عبادت د څيزونو ننداره په غور
سره وکړه نو ما د نورو څيزونو سره يوه قربانګاه وليدله
چې دا پرې ليکلے شوې وُو چې، د نامعلومه خُدائ پاک
دپاره. تاسو چې د کوم څيز د نامعلوم په طور عبادت کوئ،
هم دغه څيز زۀ درته بيانوم. ۲۴ هغه خُدائ پاک چې دُنيا يې
پېدا کړه او په کښې يې هر څيز هم پېدا کړل، څوک چې د
آسمان او د زمکې مالِک دے هغه د بنی آدمو د لاس جوړو
شوو زيارتونو کښې نۀ اوسېږی. ۲۵ نۀ د بنی آدم لاس د هغۀ
خِدمت کولے شی او نۀ هغه د بنی آدم د څۀ څيز محتاج
دے، بلکې هغه په خپله ټولو بنی آدمو له ژوند، ساه او هر څۀ
ورکوی. ۲۶ هغۀ د دُنيا ټول قومونه چې د دُنيا په مخ
اوسېږی د يو انسان نه پېدا کړی دی. هغۀ د هغوئ ميعادونه
او د اوسېدو حدونه مقرر کړل. ۲۷ نو د هغۀ غرض دا وو
چې دوئ د خُدائ پاک لټون وکړی او کېدے شی چې په
لټولو يې بيامومئ. بېشکه چې هغه زمونږ د چا نه هم لرې نۀ
دے. ۲۸ ځکه چې په هغۀ کښې زمونږ ژوندون، حرکت او
وجود دے. لکه څنګه چې ستاسو خپلو ځينو شاعرانو وئيلی
دی، مونږ هم د هغۀ د نسل نه يُو. ۲۹ نو چې مونږ د خُدائ
پاک اولاد يُو نو بيا مونږ ته دا سوچ کول مناسب نۀ دی چې د
خُدائ ذات لکه د سرو زرو، د سپينو زرو يا د کاڼی د بُت په
شان وګڼو چې بنی آدم په خپله پوهه او هُنر سره جوړ کړی
وی. ۳۰ په تير وختونو کښې خُدائ پاک دا جهالت نظر

انداز کړے وو خو اوس هغه هر چرته ټولو بنی آدمو له حُکم
ورکوی چې توبه ګار شی. ۳۱ ځکه چې هغهٔ يوه ورځ مقرره
کړې ده په کومه چې به هغه د دُنيا عدالت په صداقت سره د
يو سړی په وسيله وکړی کوم چې هغهٔ غوره کړے دے، او
ټولو ته د دې ثبوت ورکولو دپاره چې هغه څوک دے چې د
مړو نه يې بيا راژوندے کړو." ۳۲ کله چې هغوئ د مړو نه د
بيا راژوندی کولو خبرې واورېدلې نو ځينو ورپورې ټوقې
شروع کړې خو نورو ورته ووئيل چې، "په دې حقله به مونږ
تا نه بيا خبرې واورو." ۳۳ نو دغه شان پولوس د خلقو د
مينځ نه ووتو. ۳۴ خو يو څو کسان ورسره شول او ايمان
يې راوړو چې په هغوئ کښې يو ديونيسيوس د اريوپاګوس د
دربار کس وو او ورسره دمريس نومې يوه ښځه او ځينې نور
کسان هم وُو.

## د پولوس رسول کورنتوس ښار ته تلل

۱۸ ۱ د دې نه پس پولوس د اتينيه نه روان شو او
کورنتوس ته لاړو. ۲ هلته هغه اکوله نومې يهودی سره مِلاو
شو چې د اصل نه د پونطوس وو او د ښځې نوم يې پرسکله
وه. هغه تازه تازه د اِټلی نه راغلے وو ځکه چې کلوديوس
ټولو يهوديانو ته حُکم ورکړے وو چې د روم نه ووځئ.
پولوس هغوئ سره د مِلاوېدو دپاره ورغلو. ۳ پولوس هلته
ورسره اوسېدلو او دوئ سره يې يو ځائ کار کولو ځکه چې
د دوئ هم د هغهٔ په شان د تمبوانو جوړولو کسب وو. ۴
هغهٔ به د هر سبت په ورځ د يهوديانو په عبادتخانې کښې بحث
مباحثه کوله او د هغهٔ کوشش دا وو چې يهوديان او يونانيان

خپل ځان ته راواړوی. ۵ کله چې سیلاس او تیموتیوس د
مِکدونیه نه راورسېدل نو پولوس خپل ځان په پوره توګه د
تعلیم دپاره وقف کړو او یهودیانو ته یې دا ګواهی ورکړه چې
عیسیٰ هم مسیح دے. ۶ خو چې کله یې هغوئ مخالفت
وکړو او بدرد یې ورته ووئیل نو هغهٔ احتجاجاً خپلې جامې
وشنډلې او هغوئ ته یې ووئیل چې، "ستاسو خون ستاسو په
غاړه، زهٔ ترې پاک یم. اوس به زهٔ غېریهودیانو ته لاړ شم."
۷ بیا هغه د عبادتخانې نه روان شو او د تیطیوس یوستوس
نومې سړی کور ته لاړو چې د خُدائ پاک عبادت کوونکے
وو او کور یې د عبادتخانې سره نزدې وو. ۸ کرسپوس چې
د عبادتخانې مشر وو سره د خپل مکمل خاندان په مالِک
ایمان راوړو، او ډېرو کورنتیانو چا چې د پولوس تعلیم
واورېدو ایمان یې راوړو او بپتسمه ورته ورکړے شوه. ۹
یوه شپه پولوس ته مالِک په رویا کښې وفرمائیل چې، "یرېږه
مه، خپل تبلیغ جاری ساته او خاموشه کېږه مه، ۱۰ ځکه
چې زهٔ درسره یم. او هیڅوک به درباندې د نقصان رسولو
دپاره حمله ونهٔ کړی ځکه چې په دې ښار کښې ډېر خلق
داسې دی چې زما دی." ۱۱ نو هغه هلته یو کال او شپږ
میاشتې پاتې شو او هغوئ ته یې د خُدائ پاک د کلام تعلیم
ورکولو. ۱۲ خو چې کله ګلیو د اخیه حاکِم شو نو یهودیانو
په شریکه په پولوس حمله وکړه او هغه یې عدالت ته پېش
کړو. ۱۳ هغوئ ووئیل چې، "دغه سړے په داسې طریقه
خلق د خُدائ پاک عبادت ته راړوی چې د شریعت خلاف
ده." ۱۴ څنګه چې پولوس جواب ورکولو نو په دې کښې
ګلیو یهودیانو ته ووئیل چې، "کهٔ چرې دا خبره د جرم یا د
سخت شرارت وی نو یهودیانو، ما به ستاسو شکایت مناسب

ګنډلے وو. ۱۵ خو چې دا ستاسو د لفظونو، نومونو او د
يهودى شريعت خبره ده، نو بيا تاسو په خپله ورسره پوهه
شئ، زۀ د داسې مسئلو منصف جوړېدل نۀ غواړم.“ ۱۶ او
هغۀ هغوئ د عدالت نه وشړل. ۱۷ بيا هغوئ ټولو سوستينس
راونيولو څوک چې د عبادتخانې سردار وو او هغه يې د
عدالت په وړاندې ووهلو. خو ګليو په دې کار هيڅ غوږ ونۀ
ګرولو.

## د پولوس رسول اَنطاکيه ته واپس راتلل

۱۸ پولوس د څۀ وخت دپاره هلته پاتې شو، بيا يې
ايماندارانو وروڼو نه رُخصت واخستو او په سمندرى جهاز
کښې شام ته روان شو او ورسره پرسکله او اکوله هم وُو. نو
په کِنخريه کښې هغۀ خپل سر وخرېلو ځکه چې هغۀ منښته
کړې وه. ۱۹ کله چې هغوئ اِفِسوس ته ورسېدل نو پولوس
پرسکله او اکوله هلته پرېښودل. خو کله چې هغه هلته وو نو
په عبادتخانه کښې يې د يهوديانو سره مناظره وکړه. ۲۰
هغوئ ورته د زيات وخت دپاره د پاتې کېدو خواست وکړو
خو هغۀ اِنکار وکړو. ۲۱ خو د اِفِسوس د خلقو نه يې په دې
خبره رُخصت واخستلو چې، ”کۀ د خُدائ پاک رضا وى نو
زۀ به بيا واپس تاسو له راشم.“ بيا هغه د هغوئ نه لاړو. ۲۲
کله چې هغه په قيصريه کښې د جهاز نه کوز شو نو هغه
يروشلم ته لاړو او د جماعت د خلقو سره مِلاو شو او بيا
اَنطاکيه ته واپس شو. ۲۳ هلته د څۀ وخت تېرولو نه پس
هغه په سفر روان شو او د ګلتيه او فروګيه په مُلک کښې
وګرځېدو او ټولو مريدانو ته يې ډاډ ورکړو.

## د اپولوس په اِفِسوس کښې بيان

۲۴ نو اپولوس نومې يو يهودى چې د اسکندريه اوسېدونکے
وو، اِفِسوس ته راغلو. او د هغۀ خبرې ډېرې خوږې وې او د
کِتابِ مقدس تکړه عالِم وو. ۲۵ هغۀ د مالِک خُدائ د لارې
تعليم حاصل کړے وو او په روحانى جوش سره يې خبرې
کولې او د عيسىٰ په حقله يې صحيح تعليم ورکولو. اګر کۀ
هغه صرف د يحيىٰ د بپتسمې نه واقف وو. ۲۶ هغۀ په
عبادتخانې کښې په زړۀ ورتيا سره خبرې شروع کړې. خو
چې کله پرسکله او اکوله د هغۀ خبرې واورېدلې نو هغوئ
هغه يو طرف ته کړو او د خُدائ پاک لار يې ورته په صحيح
تفصيل سره بيان کړه. ۲۷ او چې اپولوس وغوښتل چې
اخيه ته پورې وځى نو ايماندارانو هغۀ ته د تلو ډاډ ورکړو او
مريدانو ته يې وليکل چې د هغۀ هرکلے وکړى. نو چې هغه
هلته ورسېدو نو هغۀ د هغه چا ډېره چې د خُدائ پاک په
فضل يې ايمان راوړې د لوئ ښېګړې سبب شو. ۲۸ ځکه
چې هغۀ په مناظره کښې په ډېرو دليلونو سره يهوديان
لاجوابه کړل او د کِتاب مقدس نه يې دا ثابته کړه چې عيسىٰ
هم مسيح دے.

## پولوس رسول په اِفِسوس کښې

۱۹ ۱ څۀ وخت چې اپولوس په کورنتوس کښې وو نو
پولوس په دننو علاقو کښې وګرځېدو او اِفِسوس ته راغلو.
هلته هغۀ څو مريدان وليدل، ۲ هغۀ هغوئ ته ووئيل چې،
”د ايمان راوړلو په موقع په تاسو روحُ القُدس نازل شوے

ووٴ؟“ هغوئ جواب ورکړو چې، ”نه، مونږ ته خو دا پته هم
نشته چې روحُ القُدس څۀ څیز دے.“ ۳ بیا پولوس ووئیل
چې، ”تاسو ته د څۀ بپتسمه درکړې شوې وه؟“ هغوئ
جواب ورکړو چې، ”د یحیىٰ بپتسمه.“ ۴ پولوس ورته
ووئیل چې، ”د یحیىٰ بپتسمه خو د توبې بپتسمه وه. هغۀ خلقو
ته وئیل چې په هغه چا ایمان راوړئ څوک چې زما نه پس
راتلونکے دے، او هغه عیسىٰ دے.“ ۵ په دې اورېدو
هغوئ ته د مالِک عیسىٰ په نوم بپتسمه ورکړې شوه. ۶
کله چې پولوس خپل لاسونه د هغوئ په سر کېښودل نو په
هغوئ روحُ القُدس نازل شو او هغوئ په غېر ژبو خبرې
شروع کړې او پېشګویانې یې کولې. ۷ هلته هغوئ ټول
تقریباً دولس کسان وُو. ۸ تر درېو میاشتو پورې پولوس
عبادتخانې ته تلو او په زړۀ ورتیا به یې خبرې کولې او خلق
یې د خُدائ پاک د بادشاهۍ په حقله قائلول. ۹ خو ځینې
ډېر ضدناک وُو او ایمان راوړلو نه یې اِنکار وکړو او د
جماعت په وړاندې یې د خُدائ پاک لارې ته بدرد وئیل. نو
پولوس هغوئ نه لاړو او خپل مریدان یې د ځان سره بوتلل
او هره ورځ به یې د تورنوس په سکول هال کښې بحث کولو.
۱۰ تر دوو کالو پورې دا کار روان وو او داسې د آسیه د
صوبې ټولو اوسېدونکو یهودیانو او یونانیانو دواړو د مالِک
کلام واورېدو.

## د سکیوا زامن

۱۱ خُدائ پاک د پولوس په وسیله لوئې لوئې معجزې
وکړې، ۱۲ تر دې چې خلقو به خپل رومالونه او پېش بندونه
د پولوس د بدن سره لګول او هغه به یې په بیمارانو راښکل نو

هغوئ به د رنځونو نه رغېدل او پيريان به د هغوئ نه تښتېدل.
۱۳ بيا ځينې دم آچوونکی يهوديان چې سيلانيان وُو نو
هغوئ به هم د پيريانو د ايستلو دپاره د مالِک عيسىٰ نوم دغه
شان استعمالولو. هغوئ به وئيل چې، "تاسو ته د هغه عيسىٰ
په نوم حکم درکوو چې پولوس يې بيانوی رابهر شئ." ۱۴ د
سکيوا نومې يهودی مشر اِمام اووهٔ زامنو هم دا کار کولو.
۱۵ خو پيريانو جواب ورکړو او وې وئيل چې، "زهٔ عيسىٰ
پېژنم او پولوس هم پېژنم، خو تاسو څوک يئ؟" ۱۶ بيا هغه
پيريانو نيولی سړی په هغوئ ورټوپ کړو او ټول يې رالاندې
کړل او داسې يې وټکول چې هغوئ د هغهٔ کور نه برېنډ او
ژوبل شوی وتښتېدل. ۱۷ کله چې په اِفسوس کښې د دې
خبرې ټولو يهوديانو او يونانيانو ته پته ولګېده نو په هغوئ
ټولو يره راغله او د مالِک عيسىٰ د نوم لوئی يې بيان کړه. ۱۸
ډېرو کسانو چې ايمان يې راوړے وو، رامخکښې شول او په
خپله يې دا اِقرار وکړُو چې هغوئ جادوګری کوله. ۱۹ ډېرو
هغه جادوګرو چا چې جادوګری کوله خپل کتابونه يې راټول
کړل او د خلقو په وړاندې يې وسوزول. کله چې د دې
کتابونو د قيمت اندازه ولګولے شوه، نو دا د پنځوسو د
سپينو زرو د سيکو وو. ۲۰ دغه شان د مالِک کلام ډېر خور
او مضبوط شو.

## په اِفسوس کښې بلوه

۲۱ نو د دې نه پس پولوس د روحُ القُدس په هدايت دا
فيصله وکړه چې مِکدونيه او اخيه ته لاړ شی او بيا يروشلم ته
لاړ شی، او بيا هغهٔ ووئيل چې، "هلته د تلو نه وروستو ما ته
په کار دی چې زهٔ ضرور د روم ښار وګورم." ۲۲ نو هغهٔ

خپل دوه مدد کوونکی تيموتيوس او اِراستوس مِکدونيه ته
ولېږل او په دې دوران کښې هغه په خپله د څۀ وخت دپاره د
آسيه په صُوبه کښې پاتې شو. ۲۳ هم په دې دوران کښې د
خُدائ پاک د لارې په وجه سخت تکليف جوړ شو. ۲۴ هلته
ديميتريوس نومې يو زرګر وو چا به چې د ارتِميسې د زيارت
د سپينو زرو نمونې جوړولې او د ډېرو کاريګرو پرې ښۀ
روزګار روان وو. ۲۵ هغۀ هغوئ سره د دې روزګار نور
کاريګر او تاجران هم راغونډ کړل او وئ وئيل چې، ”اے
وروڼو، تاسو ته ښۀ پته ده چې زمونږ ټول آمدن هم د دې
تجارت نه دے. ۲۶ خو تاسو ګورئ او اورئ چې دې سړی
پولوس په خپلو خبرو ګڼ خلق، نۀ صرف په اِفِسوس کښې
بلکې په ټوله آسيه کښې واړول، په دې وينا سره چې د بنی
آدم د لاس جوړ شوی خُدايان هېڅ خُدايان نۀ دی. ۲۷ دلته
صرف دا خطره نۀ ده چې زمونږ کاروبار به بې‌قدره شی
بلکې د ارتِميسې زيارت به هيڅ خيز هم ونۀ ګڼلے شی او د
لوئ خُدائ ارتِميس هغه شان او شوکت به ختم شی چې
ټولې آسيه او دُنيا به يې عبادت کولو.“ ۲۸ کله چې هغوئ دا
خبرې واورېدلې نو هغوئ په غصه شول او شور يې جوړ
کړو چې، ”د اِفِسيانو ارتِميسه لويه ده.“ ۲۹ نو ټول ښار
ګډوډ شو او هغوئ د پولوس د سفر ملګری، د مِکدونيه
اوسېدونکی ګايوس او اريسترخوس ونيول او د تماشې ځائ
ته يې راوستل. ۳۰ پولوس هغه ګڼې ته تلل غوښتل خو
مُريدانو پرې نۀ ښودو. ۳۱ تر دې چې د آسيه د صوبې
مشرانو چې د پولوس دوستان وُو، هغۀ ته منت وکړو چې، ”د
تماشې ځائ ته لاړ نۀ شې.“ ۳۲ په دې دوران کښې په چغو
سورو کښې به چا څۀ وئيل او چا څۀ ځکه چې ټوله غونډه

ګډه وډه وه او ډېر په دې خبر هم نهٔ وُو چې هغوئ د څهٔ دپاره راجمع شوی دی. ۳۳ خو په غونډه کښې د ځینو کسانو دا خیال وو چې سکندر قصوروار دے ځکه چې یهودیانو هغه وړاندې رادیکه کړو. او سکندر خلقو ته د خاموشئ اِشاره وکړه او د ګڼې په وړاندې یې د خپلې دفاع کولو کوشش وکړو. ۳۴ خو کله چې هغوئ وپېژندو چې هغه یهودی دے نو تقریباً تر دوو ګینټو هغوئ ټولو یوه چغه ویستله چې، "د اِفِسیانو ارتِمیسه لویه ده." ۳۵ خو د ښار ناظمِ اعلیٰ ګڼه چپ کړه. هغهٔ ووئیل چې، "اے د اِفِسوس خلقو، څوک دی چې ورته دا پته نهٔ وی چې زمونږ د اِفِسوس ښار د لوئ ارتِمیسې د زیارت او د هغې یو مقدس کاڼے چې د آسمان نه راپرېوتے دے. ۳۶ نو چې د دې څیزونو نه اِنکار نهٔ شی کېدے، نو تاسو له په کار دی چې خاموشه شئ او په تادئ کښې څهٔ غلطی ونهٔ کړئ. ۳۷ دا کسان چې تاسو دلته راوستی دی، نهٔ خو دوئ د زیارت غلهٔ دی او نهٔ یې زمونږ د دیوی ګستاخی کړې ده. ۳۸ په دې وجه کهٔ چرې دیمیتریوس او د هغهٔ کسبګرو سره د چا خلاف شکایت وی نو عدالتونه کولاو دی او منصفان هم په کښې دی، پرېږدئ چې دواړه په خپلو کښې د یو بل خلاف شکایت وکړی. ۳۹ خو کهٔ تاسو بله کومه معامله راوړاندې کوئ نو د هغې فیصله به په قانونی مجلس کښې وشی. ۴۰ مونږ د نننئ شور شرابې په حق کښې د شکایت یره په ځان ومنله ځکه چې دا بېمقصده وه او مونږ سره د حکومت دپاره هیڅ جواب نشته." ۴۱ کله چې ناظمِ اعلیٰ دا خبره وکړه نو هغه ګڼه رُخصت شوه.

## د پولوس رسول مِکدونیه او یونان ته سفر

۲۰ ۱ هر کله چې اله ګوله ختمه شوه نو پولوس په
مريدانو پسې خبر ولېږلو او د ډاډګيرنې نه پس يې ترې
رُخصت واخستو او مِکدونيه ته لاړو. ۲ کله چې هغۀ په
هغه علاقو کښې سفر کولو نو ايماندارانو له يې ډاډګيرنه
ورکوله او هغه بيا يونان ته راغلو، ۳ چرته چې هغۀ درې
مياشتې تېرې کړې. هغه شام ته په سمندرى جهاز کښې تلو
چې يهوديانو د هغۀ خلاف يو سازش جوړ کړو نو هغۀ دا
فيصله وکړه چې د مِکدونيه په لاره واپس لاړ شى. ۴ هغۀ
سره د پرحوس زوئ سوپترس د بيريه نه، اريسترخوس او
سکندس د تِسالونيکيه نه، ګايوس د دِربے نه، تيموتيوس، او
ورسره تخيکوس او تروفيموس د آسيه نه، په سفر کښې
ملګرى وُو. ۵ هغوئ مخکښې لاړل او په ترواس کښې يې
زمونږ اِنتظار کولو. ۶ خو د پتيرې روټۍ د اختر نه
وروستو مونږ د فيليپى نه په سمندرى جهاز کښې روان شُو
او په پينځو ورځو کښې مونږ د هغوئ سره په ترواس کښې يو
ځائ شُو او هلته مونږ يوه هفته تيره کړه.

## د پولوس رسول په ترواس کښې آخرى ملاقات

۷ د هفتې په اوله ورځ مونږ د روټۍ دپاره راغونډ شوى وُو.
پولوس خلقو ته بيان شروع کړو ځکه چې بله ورځ هغۀ
غوښتل چې لاړ شى، نو تر نيمې شپې پورې يې خبرې وکړې.
۸ هلته پاس په بالاخانه کښې چرته چې مونږ راجمع وُو
ډيرې ډيوې بلې شوې وې. ۹ يو زلمے چې يوتخوس نوم
يې وو، په کړکۍ کښې ناست وو. د پولوس د خبرو په

اوږدېدو سره خوب ورله جوته ورکړه، او چې خوب يوړو نو د درېم چت نه ښکته زمکې ته پرېوتو. چې راوچت يې کړو نو هغه بيا مړ شوے وو. ١٠ خو پولوس ښکته ورکوز شو او هغه يې په غېږ کښې راوچت کړو او وې وئيل، "مهٔ يرېږئ، تر اوسه پورې ژوندے دے." ١١ بيا پولوس بالاخانې ته وختلو، او د عشاء ربانی د روټۍ ماتولو نه وروستو يې د هغوئ سره تر سحره پورې خبرې وکړې او بيا هغه رُخصت شو. ١٢ بيا هغوئ هغه زلمے خپل کور ته ژوندے بوتلو او هغوئ ټول بيا ښهٔ مطمئن وُو.

## د تروآس نه تر ميليتوس پورې سفر

١٣ نو مونږ مخکښې لاړو او په سمندری جهاز کښې سوارهٔ شُو او اَسوس ته روان شُو، هلته نه پولوس هم جهاز ته راختونکے وو. ځکه چې هغهٔ دا بندوبست او نيت کړے وو چې د وچې د لارې نه به لاړ شی. ١٤ کله چې هغه مونږ سره په اَسوس کښې يو ځائ شُو نو مونږ هغه په جهاز کښې سور کړو او ميتيلينے ته يو ځائ لاړو. ١٥ په هغه ورځ مونږ د هغه ځايه روان شُو او د خيوس جزيرې نه تير شُو. او په بله ورځ مونږ ساموس ته ورسېدو او په بل سبا مونږ ميليتوس ته ورسېدو. ١٦ ځکه چې پولوس دا فيصله کړې وه چې د اِفِسوس نه واوړی نو هغه به د آسيه په علاقه کښې د وخت تېرولو نه بچ شی، هغهٔ غوښتل چې څنګه هم کېدے شی چې د پنځوسمې اختر په يروشلم کښې تير کړی.

## د پولوس رسول د اِفِسوس مشرانو سره ملاقات

۱۷ نو پولوس د میلیتوس نه اِفِسوس ته خبر ولېږلو او د
جماعت مشران يې راوبلل چې هغهٔ سره مِلاو شی. ۱۸ کله
چې هغوئ ورله راغلل هغهٔ هغوئ ته ووئيل، "تاسو ته ښهٔ پته
ده چې د کومې ورځې نه چې ما د آسيه په زمکه اول قدم
کېښودو نو ما تاسو سره څنګه وخت تېر کړو. ۱۹ ما پوره
په عاجزئ او ژړا سره د مالِک خِدمت وکړو او د يهوديانو
سازشونه او آزمېښتونه چې په ما راغلل هغه مې وزغمل. ۲۰
تاسو ته پته ده چې ما هيڅ څيز هم چې ستاسو د ښېګړې
دپاره وو، پټ ونهٔ ساتلو، بلکې ما تاسو ته د خلقو په وړاندې
او کور په کور تعليم درکړے دے. ۲۱ ما يهوديانو او
يونانيانو دواړو ته ګواهي ورکړه چې د خُدائ پاک په وړاندې
توبه وباسئ او په مالِک عيسیٰ مسيح ايمان راوړئ. ۲۲ او
اوس د روحُ القُدس د غلام په توګه زهٔ يروشلم ته روان يم، او
هلته چې څهٔ ما ته پېښيږی د هغې نه هيڅ خبر نهٔ يم، ۲۳ خو
ما ته روحُ القُدس صرف دا يو خبردارے راکوی چې په هر
ښار کښې قېد او تکليفونه ستا انتظار کوی. ۲۴ خو زهٔ د
خپل ژوند هيڅ پرواه نهٔ ساتم، او زما خواهش صرف دا دے
چې خپله منډه سر ته ورسوم او هغه خِدمت پوره کړم چې
مالِک عيسیٰ ما ته سپارلے دے، يعنې چې د خُدائ پاک د
فضل د زيری په حقله خلقو ته ګواهي ورکړم. ۲۵ تاسو ټولو
او هغه چا ته چې ما د خُدائ پاک د بادشاهئ بيان کړے دے
اوس زهٔ په دې پوهېږم چې تاسو به کله هم زما مخ بيا ونهٔ
وينئ. ۲۶ نو ځکه زهٔ نن دا اِعلان کوم چې زما په غاړه د چا
د خُون ذمه واری هم نشته. ۲۷ ځکه چې ما تاسو ټولو نه د
خُدائ پاک مقصد او يوه خبره هم د بيانولو نه، نهٔ ده پټه
کړې. ۲۸ د خپل ځان او د هغه ټولې رمې خيال ساتئ کومه

چې روحُ القُدس ستاسو په حواله کړې ده او د خُدائ پاک د
هغه جماعت شپونتوب وکړئ کوم چې هغۀ د خپل زوئ د
وينې په قيمت په بيعه اخستے دے. ۲۹ ما ته پته ده چې
زما د تلو نه پس به په تاسو کښې داړونکى ليوان راشى او
رمه به په امان پرې نۀ ږدى. ۳۰ ستاسو په ډله کښې به هم
څۀ خلق داسې راپاځى چې رښتيا به په دروغو بدل کړى او په
دې به مريدان خپل ځان ته راواړوى. ۳۱ نو په دې وجه
خبردار اوسئ، او دا خبره ياد ساتئ چې ما تر درېو کالو
پورې شپه او ورځ په تاسو کښې هر يو ته په ژړا انګولا سره
تعليم درکړو. ۳۲ او اوس زۀ تاسو خُدائ پاک او د هغۀ د
فضل کلام ته حواله کوم، هغه کلام ته چې تاسو آبادوى او
تاسو ته په هغوئ ټولو کښې ميراث درکوى څوک چې پاک
دى. ۳۳ ما د چا نه هم د سپينو زرو او يا د سرو زرو يا د
جامو خواهش نۀ دے کړے. ۳۴ تاسو ټول په خپله ښۀ خبر
يئ چې ما په خپلو لاسونو کار کړے دے او د ځان او د
خپلو ملګرو حاجتونه مې پوره کړى دى. ۳۵ په دې هر څۀ
کښې ما تاسو ته مثال درکړو چې په دې طريقه مونږ ته په
کار دى چې د غريبانانو مدد وکړو او د مالِک عيسىٰ خبرې
ياد ساتو چې هغۀ په خپله فرمائيلى دى چې، د اخستو نه په
ورکړه کښې برکت ډېر دے.“ ۳۶ کله چې هغۀ خبرې ختمې
کړې نو پولوس د هغوئ ټولو سره خُدائ پاک ته په سجده
شو او دُعا يې وغوښته. ۳۷ بيا هغوئ ټولو وژړل او پولوس
له يې غاړه ورکړه او ښکل يې کړو. ۳۸ هغوئ په دې خبره
زيات خفه شول چې هغۀ ووئيل چې دوئ به بيا کله هم د هغۀ
مخ ونۀ وينى. بيا هغوئ ورسره تر کشتۍ پورې لاړل.

## د پولوس رسول یروشلم ته سفر

۲۱ ۱ کله چې مونږ د هغوئ نه رُخصت شُو او جهاز
روان شو، نو مونږ نېغ د قوس جزيرې ته راغلو او په بله ورځ
رودوس ته او د هغه ځائ نه پاترا ته لاړُو. ۲ هلته مونږ یوه
کشتۍ ولاړه ولیده چې فینیکې ته تیاره وه. مونږ وروختلو او
په هغې کښې مو سفر وکړو. ۳ مونږ په لاره کښې د قبرص
جزیره ولیده او ترې نه په ګس لاس تیر شُو. مونږ شام ته
سفر جارې وساتلو او په صور کښې کوز شُو ځکه چې هلته
یې د کشتۍ نه سامان کوزولو. ۴ مونږ مریدان وموندل او
هلته یوه هفته ورسره ایسار شُو. هغوئ د روحُ القُدس په
هدایت پولوس ته ووئیل چې، ”یروشلم ته مهٔ ځه.“ ۵ نو کله
چې زمونږ ورځې پوره شوې نو مونږ له هغه ځائ نه په خپل
سفر روان شُو. او هغوئ ټول سره د ښځو او بچو، مونږ سره
د ښار نه بهر راووتل او هلته مونږ د سمندر په غاړه په سجده
شُو او د خُدائ پاک نه مو دُعا وغوښتله. ۶ بیا مونږ یو بل
سره خُدائ په امانی وکړه او مونږ کشتۍ ته وختلو او هغوئ
خپل کور ته واپس لاړل. ۷ د صور نه زمونږ سفر جارې
وو او بیا مونږ پتولیمَس ته راغلو، او مونږ د ایماندارانو سره
مِلاو شُو او د هغوئ سره د یوې ورځې دپاره پاتې شُو. ۸
په بله ورځ مونږ روان شُو او قیصریه ته راغلو، او مونږ د
فیلیپوس مېلمانهٔ شُو چې د زیرې دعوت ورکوونکے وو. او
هغه د هغه اوو کسانو نه یو وو څوک چې د خوراک
تقسیمولو دپاره غوره کړے شوے وو. ۹ د هغهٔ څلور
پېغلې لوڼه وې چې نبوت به یې کولو. ۱۰ مونږ چې هلته یو
څو ورځو دپاره ایسار وُو نو د یهودیه نه اګابوس نومې یو نبی

راغلو. ۱۱ هغه مونږ له راغلو، او د پولوس ملابند يې
واخستو او په دې يې خپل لاس او پښې وتړل او وې وئيل
چې، ”روحُ القُدس دا وائى چې په يروشلم کښې به يهوديان په
دې طريقه د دې ملابند مالِک وتړى او هغه به غېريهوديانو ته
په حواله کړى.“ ۱۲ مونږ چې دا خبرې واورېدلې نو مونږ او
نورو مقامى ايماندارانو پولوس ته منت وکړو چې يروشلم ته
لاړ نۀ شى. ۱۳ خو پولوس جواب ورکړو، ”تاسو ولې ژاړئ
او زما زړۀ ماتوئ؟ ځکه چې زۀ نۀ يواځې تړلو ته، بلکې دې
ته هم تيار يم چې د مالِک عيسىٰ دپاره په يروشلم کښې شهيد
شم.“ ۱۴ بيا چې هغۀ ونۀ منل نو مونږ چُپ پاتې شُو او ومو
وئيل چې، ”د مالِک مرضى دې پوره شى.“ ۱۵ مونږ د دې
نه پس د تلو بندوبست وکړو او يروشلم ته روان شُو. ۱۶ د
قيصريه نه څۀ مريدان هم مونږ سره راغلل او مونږ يې د
مناسون کور ته راوستُو چې د قبرص اوسېدونکے وو او
پخوانے مريد وو او مونږ د هغۀ سره پاتې شُو.

## د پولوس رسول او يعقوب په يروشلم کښې ملاقات

۱۷ کله چې مونږ يروشلم ته راورسېدو ايماندارانو وروڼو
راته تود هرکلے ووئيلو. ۱۸ په بله ورځ پولوس مونږ سره د
يعقوب مِلاوېدو له لاړو او ټول مشران هم هلته موجود وُو.
۱۹ هغوئ سره د مِلاوېدو نه پس پولوس ورته هغه هر څۀ
چې خُدائ پاک د هغۀ د خِدمت په وسيله په غېريهوديانو
کښې کړى وُو يو يو په تفصيل سره بيان کړل. ۲۰ کله چې
هغوئ دا واورېدل نو هغوئ د خُدائ پاک ثنا ووئيله. بيا
هغوئ پولوس ته ووئيل، ”تۀ ګورې وروره چې په يهوديانو
کښې څومره په زرګونو کسانو ايمان راوړے دے او هغوئ

ټول د شريعت په حقله ښۀ سرګرم دی. ٢١ هغوئ ته ستا په
حقله وئيل شوی دی چې تۀ هغه ټولو يهوديانو ته چې په
غېريهوديانو کښې اوسی، دا تعليم ورکوې چې د موسیٰ نه
راواوړئ. او تۀ هغوئ ته وائې چې خپل بچی مۀ سنتوئ يا
زمونږ رِواجونه مۀ کوئ. ٢٢ نو مونږ څۀ وکړو؟ هغوئ به
يقيناً خبر شوی وی چې تۀ راغلے يې. ٢٣ نو تۀ هغه څۀ کوه
چې مونږ درته وايو. مونږ سره څلور سړی دی چې نذر يې
منلے دے. ٢٤ تۀ دوئ د ځان سره کړه او خپل ځان
ورسره پاک کړه، د هغوئ د سرکلی پيسې هم تۀ ورکړه، نو
چې دوئ خپل سرونه وخرائی. نو بيا به هر څوک پوهه شی
چې ستا په باب کښې وئيلے شوې خبرې رښتيا نۀ دی، بلکې
تۀ په خپله هم په شريعت عمل کوې او خيال يې ساتې. ٢٥
خو ترڅو چې د ايماندار شوو غېريهوديانو خبره ده مونږ
هغوئ ته خط ورلېږلے دے چې بُتانو ته د نذر کړې قربانۍ
نه، د هغې د وينې او د مُردار شوی ښاروی غوښې نه او د
زناکارۍ نه ځان ساتئ.“ ٢٦ نو پولوس په بله ورځ هغه څلور
سړی د ځان سره بوتلل او د هغوئ سره د ځان پاکولو نه
پس هغه د خُدائ کور ته لاړو چې د هغه تاريخ اعلان وکړی
په کوم چې د پاکېدو وخت پوره کېږی او د هر يو دپاره به
نذرانه ورکړی.

## د خُدائ په کور کښې د پولوس رسول ګرفتاری

٢٧ کله چې اووۀ ورځې پوره کېدې نو د آسيه صوبې
يهوديانو پولوس د خُدائ په کور کښې وليدلو. هغوئ ټوله ګڼه
ولمسوله او هغه يې ونيولو، ٢٨ او چغې يې کړلې، ”اے بنی
اِسرائيلو. زمونږ مدد وکړئ. دا هغه سړے دے چې هر چا ته

او هر چرته زمونږ د خلقو او زمونږ د شريعت خلاف تعليم ورکوی او زمونږ د خُدائ د کور بې‌حرمتی کوی. د دې نه لويه خبره دا ده چې هغهٔ يونانيان هم د خُدائ کور ته راوستی دی او دا پاک ځائ يې پرې پليت کړے دے.“ ۲۹ ځکه چې هغوئ په ښار کښې مخکښې نه د دهٔ سره د اِفِسوس تروفيموس ليدلے وو او دا يې سوچ وو چې پولوس هغه د ځان سره د خُدائ کور ته ننه ايستے دے. ۳۰ ټول ښار ناقلاره شو او خلق د هر طرف نه په منډه راغلل. هغوئ پولوس ونيولو او د خُدائ د کور نه يې بهر راښکو او سمدستی دروازې بندې شوې. ۳۱ هغوئ لا د هغهٔ د مرګ کوشش کولو چې د پلټنې کمان آفسر ته خبر راغلو چې په ټول يروشلم کښې اله ګوله ده. ۳۲ هغهٔ سمدستی سپاهيان او د هغوئ صوبه داران د ځان سره کړل او په منډه يې د الې ګولې ځائ ته ځان ورسولو. کله چې هغوئ کمان آفسر او سپاهيان وليدل نو د پولوس وهل ټکول يې بند کړل. ۳۳ کمان آفسر راوړاندې شو، هغه يې ګرفتار کړو او حُکم يې ورکړو چې، ”دوه زولنې ورته واچوئ.“ بيا هغهٔ تپوس وکړو چې، ”دا څوک دے او دهٔ څهٔ کړی دی؟“ ۳۴ په ګڼه کښې چا يوه چغه وهله او چا بله. او کله چې هغهٔ د الې ګولې په وجه اصل حقيقت معلوم نهٔ کړے شو نو حُکم يې ورکړو چې، ”دے قلعې ته دننه کړئ.“ ۳۵ کله چې پولوس پوړو ته ورسيدو نو د ګڼې د غصه کيدو په وجه هغه سپاهيانو په اوږو کړو، ۳۶ د خلقو ګڼه ورپسې وه او دا چغې يې وهلې چې، ”دے مړ کړئ.“

## د پولوس رسول د خپل ځان صفائی پيش کول

۳۷ څنګه چې يې پولوس قلعې ته بوتلو نو هغهٔ کمان آفسر ته
ووئيل چې، "زهٔ تا ته يوه خبره کولے شم؟" کمان آفسر ورته
ووئيل چې، "ښه. تا ته يونانی هم درځی؟ ۳۸ نو بيا تهٔ هغه
مِصری نهٔ يې چا چې څهٔ موده مخکښې بغاوت جوړ کړے
وو او څلور زره دهشتګرد يې د ځان سره بيابان ته بوتلی
وُو؟" ۳۹ پولوس جواب ورکړو چې، "زهٔ يهودی يم او د
کلکيه د ترسس يم، او د دغه اهم ښار مقامی اوسېدونکے يم.
ما ته اجازت راکړه چې دې خلقو ته خبرې وکړم." ۴۰ کله
چې هغهٔ ورله اجازت ورکړو نو پولوس په پوړو ودرېدو او
خلقو ته يې د چپ کېدو اِشاره وکړه. او کله چې خلق غلی
شول نو هغهٔ ورته په عبرانی ژبه کښې تقرير وکړو او وې
وئيل چې،

## د ګڼې په وړاندې د پولوس رسول صفائی پيش کول

۲۲ ۱ "اے مشرانو او کشرانو، غوږ شئ. زهٔ اوس
ستاسو په وړاندې خپله صفائی بيانوم." ۲ هر کله چې
هغوئ په عبرانی ژبه کښې د هغهٔ خطاب واورېدو نو هغوئ
ورته نور ښهٔ خاموش شول. بيا هغهٔ ووئيل، ۳ "زهٔ يهودی
يم، د کلکيه په ترسس ښار کښې پيدا شوے وم، او زهٔ دلته په
دې ښار کښې لوئ شوے يم او د ګملی‌ايل په شاګردئ کښې
مې د خپلو مشرانو د سخت شريعت تعليم حاصل کړو، زهٔ
هم لکه ستاسو په شان د خُدائ پاک په خِدمت کښې سرګرم
وم لکه څنګه چې نن تاسو ټول يئ. ۴ او د دې لارې

منونکی به ما تر مرګ پورې زورول، ښځې او سړی به مې دواړه ګرفتارول او په قیدخانه کښې به مې بندول. ۵ زما په باب کښې مشر اِمام او ټول اولسی مشران ګواهان دی. هغوئ ما ته په دمشق کښې خپلو یهودی ورونړو ته خطونه راکړی وُو او زهٔ دمشق ته هم دې دپاره تلے وم چې د هغه ځائ خلق ګرفتار کړم او د سزا دپاره يې دلته یروشلم ته راولم. ۶ کله چې زهٔ په لار دمشق ته ورنزدې شوم، د غرمې وخت وو چې ناڅاپی له آسمان نه یوه لویه شُغله له ما نه ګېرچاپېره وځلېده. ۷ زهٔ په زمکه راپرېوتلم او ما یو آواز واورېدو چې ما ته يې وئیل چې ساؤله، ساؤله، تهٔ ما ولې زوروې؟ ۸ ما جواب ورکړو چې مالِکه، تهٔ څوک يې؟ بیا هغهٔ ما ته وفرمائیل چې، زهٔ عیسیٰ ناصری یم چې تهٔ يې زوروې. ۹ زما ملګرو هغه رڼا ولیدله خو د هغهٔ آواز يې وانهٔ ورېدو چا چې ما سره خبرې کولې. ۱۰ نو ما ورته ووئیل چې مالِکه، زهٔ څهٔ وکړم؟ مالِک جواب راکړو چې پاڅه. او دمشق ته لاړ شه او هلته به تا ته ټول کارونه ووئیلے شی، کوم چې ستا دپاره مقرر شوی دی. ۱۱ هر کله چې زهٔ د رڼا شُغلې ړوند کړم نو زما ملګرو زهٔ د لاسه ونیولم او دمشق ته يې بوتلم. ۱۲ هلته حنانیاس نومې یو سړے وو چې په شریعت ټینګ ولاړ وو او د هغه ځائ په اوسېدونکو ټولو یهودیانو کښې ښهٔ نېک نام وو. ۱۳ هغه ما ته راغلو، ما سره خوا کښې ودرېدلو او راته يې ووئیل چې، اے ساؤله وروره، سترګې وغړوه. او هم هغه ساعت زهٔ بینا شولم او هغه مې ولیدلو. ۱۴ هغهٔ بیا ووئیل چې زمونږ د پلار نیکونو خُدائ پاک تهٔ دې دپاره غوره کړې چې د هغهٔ مرضی وپېژنې او د هغهٔ صادق خادِم ووینې او د هغهٔ آواز واورې. ۱۵ ځکه چې

تهٔ به ټولې دُنیا ته د هغهٔ ګواهي کوې چې څهٔ دې لیدلي او
اورېدلي دي. ۱۶ نو اوس تهٔ ولې سستي کوې؟ پاڅه بپتسمه
واخله او د هغهٔ د نوم په یادولو خپل ګناهونه پاک کړه. ۱۷
کله چې زهٔ یروشلم ته واپس راغلم او ما د خُدائ په کور
کښې دُعا کوله نو زهٔ بې‌خوده شوم. ۱۸ او عیسیٰ مې ولیدو
چې ما ته فرمائي چې زر کوه او سمدستي د یروشلم نه اوځه،
ځکه چې دوئ به زما په حقله ستا ګواهي قبوله نهٔ کړي. ۱۹
ما ورته ووئیل چې مالِکه هغوئ ته دا معلومه ده چې په هره
عبادتخانه کښې به ما هغوئ نیول او په کوړو به مې وهل د چا
به چې په تا ایمان وو. ۲۰ او کله چې ستا د ګواه ستِفانوس
وینه توئ شوله نو زهٔ په خپله هلته موجود وم او پرې راضي
وم او د هغوئ د جامو څوکۍ مې کوله چا چې هغه مړ کړو.
۲۱ بیا هغهٔ ما ته ووئیل، لاړ شه، ځکه چې زهٔ تا لرې لرې
غېر یهودي قومونو ته لېږم.“

## پولوس رسول او رومي کمان آفسر

۲۲ تر دې خبرو پورې هغوئ هغهٔ ته غوږ نیولے وو، خو بیا
هغوئ چغې کړې، ”د داسې سړي مخ دې ورک شي، دا د
پرېښودو قابل نهٔ دے.“ ۲۳ او هغوئ لا نورې چغې کړې،
خپلې جامې يې وشلولې او خاورې يې بره نوستلې. ۲۴ نو
کمان آفسر حُکم وکړو چې، ”پولوس قلعې ته واپس بوځئ،“
او هدایت يې ورکړو چې، ”په کوړو وهلو ترې بیان واخلئ او
دا وجه ترې معلومه کړئ چې د هغهٔ خلاف دا هنګامه ولې
راپورته شوې ده.“ ۲۵ خو کله چې هغوئ هغه د وهلو دپاره
وتړلو نو پولوس هلته ولاړ صوبه دار ته ووئیل چې، ”ولې دا
ستا دپاره جائز دي چې تهٔ یو مقامي رومي په کوړو وهې چې

جرم پرې ثابت نۀ وی؟“ ۲۶ کله چې صوبه دار دا واورېدل
نو هغه کمان آفسر ته ورغلو او هغۀ ته يې ووئيل چې، ”تۀ څۀ
کول غواړې؟ دا سړے خو مقامی رومی دے.“ ۲۷ کمان
آفسر پولوس له راغلو او تپوس يې ترې وکړو، ”ما ته ووايه
چې تۀ رښتيا مقامی رومی يې څۀ؟“ او هغۀ ووئيل چې، ”آو.“
۲۸ کمان آفسر ورته ووئيل چې، ”ما خو په لوئ قيمت دا
مقامی حق اخستے دے.“ پولوس ورته ووئيل ”خو دا زما
قومی حق دے.“ ۲۹ نو سمدستی هغه څوک چې د هغۀ نه
تفتيش کوونکی وُو د هغۀ نه وروستو شول، او کمان آفسر هم
ووېرېدو ځکه چې هغۀ ته پته ولګېده چې پولوس مقامی رومی
دے او هغۀ تړلے دے. ۳۰ په بله ورځ کمان آفسر غوښتل
چې صحيح معلومات تر لاسه کړی چې يهوديانو ولې په
پولوس اِلزام ولګولو. هغۀ پولوس آزاد کړو او مشرانو اِمامانو
او ټولې اولسی جرګې ته يې حُکم ورکړو چې، ”راټول شئ،“
بيا هغۀ پولوس ښکته راوستلو او د هغوئ په وړاندې يې
ودرولو.

## ۲۳

۱ پولوس جرګې ته په اوچتو سترګو وکتل او وې
وئيل چې، ”اے زما وروڼو، تر نن ورځې ما په صفا ضمير
سره د خُدائ پاک په وړاندې خپل ژوند تير کړے دے.“ ۲
بيا مشر اِمام حنانياس پولوس سره ولاړو خلقو ته حُکم
ورکړو چې، ”په خوله يې ووهئ.“ ۳ په دې پولوس هغۀ ته
ووئيل چې، ”خُدائ پاک به تا ووهی، اے مکاره، تۀ ناست يې
چې د شريعت په مطابق زما فيصله وکړې، او اوس تۀ د
شريعت خلاف زما د وهلو حُکم ورکوې څۀ؟“ ۴ خو
څوک چې نزدې ولاړ وو وئ وئيل چې، ”تۀ د خُدائ پاک د

مشر اِمام بې‌عزتی کوې څۀ؟“ ٥ او پولوس ووئیل چې،
”زما ورونړو، ما ته پته نۀ وه چې هغه مشر اِمام دے. ځکه
چې صحیفې وائی چې، تاسو د خپل قوم حاکِم ته بدرد مۀ
وایئ.“ ٦ بیا کله چې پولوس ته پته ولګېده چې په دوئ
کښې یوه ډله د صدوقیانو ده او بله د فریسیانو نو هغۀ په
جرګه کښې چغې کړې چې، ”اے زما ورونړو، زۀ یو فریسی
یم او د فریسی زوئ یم. زما اُمید دے چې مړی به بیا
راژوندی کیږی، نو په دې وجه زما تحقیقات کیږی.“ ٧ کله
چې هغۀ دا ووئیل نو د فریسیانو او صدوقیانو په مینځ کښې
اختلاف شروع شو او جرګه په مینځ دوه ځایه شوه. ٨
ځکه چې صدوقیان وائی چې نۀ قیامت نۀ فرښتې او نۀ روح
شته، خو فریسیان درې واړه منی. ٩ بیا لویه غوغا جوړه
شوه او د فریسیانو د فرقې ځینې د شرعې عالمان راپاڅېدل
او په کلکه یې ووئیل چې، ”مونږ په دې سړی کښې هیڅ
غلطی نۀ وینو. شاید چې یوې فرښتې یا روح ورسره خبرې
کړې وی.“ ١٠ کله چې بلوه زیاته شوه نو کمان آفسر
ویرېدو هسې نه چې دوئ پولوس ټوټې ټوټې کړی، نو هغۀ
سپاهیانو ته حُکم وکړو چې، ”لاندې لاړ شئ او هغه د هغوئ
نه په زور راولئ او قلعې ته یې دننه راولئ.“ ١١ په هغه شپه
مالِک پولوس ته ظاهر شو او ورته یې وفرمائیل چې، ”تکړه
شه، ځکه څنګه چې تا په یروشلم کښې زما په حق کښې
ګواهی کړې وه، نو هم دغه شان یې په روم کښې هم وکړه.“

## د پولوس رسول د قتل سازش

١٢ په سحر کښې یهودیان د یو سازش دپاره راغونډ شول او
خپلو کښې یې سره دا قَسم وکړو چې نۀ به څۀ خورو او نۀ به

څهٔ څښو ترڅو چې دوئ پولوس وژلے نهٔ وى. ۱۳ د
څلويښتو کسانو نه زيات په دې سازش کښې شامل وو. ۱۴
هغوئ مشرانو اِمامانو او د جرګې مشرانو له ورغلل او وې
وئيل چې، ”مونږ په خپلو کښې پوخ قَسم کړے دے چې تر
هغې به نهٔ څهٔ خورو او نهٔ څهٔ څښو ترڅو چې مونږ پولوس
مړ نهٔ کړُو. ۱۵ اوس دا ستاسو او د جرګې کار دے چې
کمان آفسر ته درخواست وکړئ چې هغه تاسو له لاندې
راولی په دې بهانه چې تاسو غواړئ چې د دهٔ د مقدمې
صحيح تحقيقات وکړئ. مونږ دې ته تيار يُو چې دلته د
رارسېدو نه وړاندې هغه قتل کړُو.“ ۱۶ خو د پولوس
خورييے د هغوئ د سازش نه خبر شو. نو هغه لاړو او قلعې
ته ننوتو او پولوس ته يې د هغوئ د سازش ووئيل. ۱۷ بيا
پولوس يو صوبه دار راوغوښتو او وې وئيل چې، ”دا ځوان
کمان آفسر ته بوځه، ځکه چې دے ورته څهٔ ضروری خبره
کوی.“ ۱۸ نو صوبه دار هغه د ځان سره بوتلو او کمان
آفسر له يې ور وستو. او وې وئيل چې، ”قېدی پولوس زهٔ
راوبللم او راته يې ووئيل چې دا ځوان تا ته درولم ځکه چې
دے تا ته څهٔ ضروری خبره کول غواړی.“ ۱۹ کمان آفسر
هغه د لاسه ونيولو، يو طرف ته يې کړو او تپوس يې ترې
وکړو چې، ”ما ته ووايه چې څهٔ خبره ده؟“ ۲۰ هغهٔ ووئيل
چې، ”يهوديانو سازش کړے دے چې تا ته عرض وکړی چې
سبا له تهٔ پولوس د جرګې په وړاندې پېش کړه او د دوئ
بهانه دا ده چې د هغهٔ د مقدمې پوره پوره تحقيقات کوُو. ۲۱
نو تهٔ د هغوئ خبره مهٔ منه ځکه چې د هغوئ د څلويښتو
کسانو نه زيات سړی په هغهٔ د حملې کولو دپاره ناست دی،
هغوئ دا قَسم کړے دے چې ترڅو چې هغوئ پولوس مړ نهٔ

کړی، تر هغې به نۀ څۀ خوری او نۀ څۀ څښی. اوس هغوئ
تيار دی خو ستا د حکم اِنتظار دے.“ ۲۲ نو کمان آفسر
هغه ځوان رُخصت کړو او ورته يې حکم ورکړو چې، ”چا ته
ونۀ وائی چې تا ما ته دا اِطلاع راکړې ده.“

## د پولوس رسول ګورنر فِليکس ته لېږل

۲۳ بيا کمان آفسر خپل دوه صوبه داران راوغوښتل او دا
حُکم يې ورکړو چې، ”نن شپه نهۀ بجې قيصرِيه ته د تلو دپاره
دوه سوه فوجيان، اويا د آسونو سوارۀ او دوه سوه نېزه
بازان تيار کړئ. ۲۴ پولوس له هم د سورلۍ بندوبست
وکړئ چې هغه پرې سور شی او هغه صحيح سلامت فِليکس
ګورنر ته ورسوی.“ ۲۵ هغۀ يو خط هم ورته داسې وليکلو
چې، ۲۶ ”د کلوديوس لسياس نه معزز ګورنر فِليکس ته
سلام. ۲۷ دا سړے يهوديانو نيولے وو او هغوئ وژلو خو
چې زۀ خبر شوم چې هغه مقامی رومی دے، نو زۀ سپاهيانو
سره ورغلم او دے مې بچ کړو. ۲۸ ما دا غوښتل چې دا
جُرم معلوم کړم چې هغوئ پرې د کوم اِلزام لګولے دے. نو
ما پولوس د هغوئ جرګې ته بوتلو. ۲۹ زۀ پوهه شوم چې په
دۀ باندې د دوئ د شريعت د مسئلو په حقله اِلزام وو، خو
څۀ داسې جُرم پرې نۀ وو چې دۀ ته پرې د قيد يا د مرګ سزا
ورکړے شی. ۳۰ کله چې زۀ خبر شوم چې د دۀ خلاف
سازش جوړ شوے دے، نو ما دے سمدستی تا له درولېږلو
او مدعيانو ته مې هم حکم ورکړو چې د دۀ په خلاف خپله
مقدمه تاسو ته وړاندې کړی.“ ۳۱ نو د حُکم په مطابق
فوجيانو پولوس بوتلو او د شپې يې انتيپترس ښار ته راوستو.
۳۲ په بله ورځ هغوئ د آسونو سوارۀ د هغۀ سره د مخکښې

تلو دپاره پرېښودل او هغوئ قلعې ته راواپس شول. ۳۳ کله
چې هغوئ قيصريه ته راغلل نو خط يې ګورنر له ورکړو او
پولوس يې هم د هغۀ په وړاندې پېش کړو. ۳۴ خط يې
ولوستو، هغۀ د پولوس نه تپوس وکړو چې تۀ د کومې صوبې
اوسېدونکے يې. او کله چې ګورنر خبر شو چې هغه د کلکيه
اوسېدونکے دے، ۳۵ هغۀ ووئيل چې، ”زۀ به ستا مقدمه هله
اورم کله چې ستا مدعيان راورسی.“ بيا هغۀ حُکم وکړو چې
هغه دې د هيروديس په قلعه کښې وساتلے شی.

## په قيصريه کښې د فِليکس په وړاندې د پولوس رسول مقدمه

۲۴ ۱ پينځۀ ورځې پس مشر اِمام حنانياس سره د
مشرانو او ترطولوس نومې وکيل راغلے او هغوئ د ګورنر په
وړاندې د پولوس خلاف مقدمه پېش کړله. ۲ کله چې
پولوس راوغوښتے شو نو ترطولوس مقدمه داسې شروع
کړه، وئيل يې چې، ”صاحبه، ستا په وجه مونږ په پوره امن
ژوند تېروو او ستا د خيال کولو په سبب په دې صوبه کښې
د ترقۍ کارونه روان دی. ۳ صاحِبه، مونږ دا خبره په هر
ځائ او هر چرته په پوره شُکر ګزارۍ سره منو. ۴ زۀ
ستاسو زيات وخت اخستل نۀ غواړم، خو زۀ درته مِنت کوم
چې په مهربانۍ سره زما يو څو خبرې واورئ. ۵ دا سړے
زمونږ دپاره ناسور دے چې په ټوله دُنيا کښې د يهوديانو په
مينځ کښې فتنه خوروی. او دے د ناصريانو د فرقې مشر
دے. ۶ دۀ د خُدائ د کور د بې‌حرمتۍ کوشش هم وکړو،
نو بيا مونږ هغه ګرفتار کړو. ۷ خو لسياس کمان آفسر په

مینځ کښې راغلو او دا سړے یې په زبردستئ سره زمونږ د لاسه وويستو. ۸ کۀ تۀ په خپله د هغۀ نه تپوس وکړې نو تۀ به د هغه هر څۀ نه خبر شې چې مونږ پرې اِلزام لګولے دے.“ ۹ يهوديان هم ورسره په اِلزام لګولو کښې متفِق شول او وئ وئيل چې دا ټولې خبرې رښتيا دی.

## د پولوس رسول د فِليکس په مخکښې دِفاع کول

۱۰ بيا ګورنر پولوس ته د جواب ورکولو اِشاره وکړه، نو پولوس داسې جواب ورکړو چې، ”زۀ د دې نه خبر يم چې د ډيرو کالونو راسې تۀ د دې قوم قاضی يې، نو ځکه زۀ په اطمينان سره خپله دفاع کوم. ۱۱ تۀ د دې خبرې په خپله معلومات کولے شې چې تقريباً دولس ورځې هم نۀ کيږی چې زۀ يروشلم ته عبادت له تلے وم. ۱۲ زۀ دوئ د چا سره د خُدائ په کور کښې يا په عبادتخانې کښې يا په ټول ښار کښې په بحث کولو يا د خلقو په بلوه کولو نۀ يم ليدلے. ۱۳ او نۀ دوئ تا ته زما خلاف دا اِلزام ثابتولے شی. ۱۴ خو زۀ تا ته اقرار کوم چې زۀ د هغه لارې پيروی کوم چې دوئ ورته فرقه وائی او زۀ د خپل پلار نيکونو د خُدائ پاک عبادت کوم. زۀ په هغه هر څۀ ايمان لرم چې د شريعت په مطابق وی او د نبيانو په صحيفو کښې ليکلی وی. ۱۵ زۀ د خُدائ پاک نه اُميد کوم هغه اُميد چې دوئ يې هم منی چې نيک او بد دواړه به بيا له مړو نه راژوندی کيږی. ۱۶ په دې وجه زۀ پوره کوشش کوم چې د خُدائ پاک او د خلقو په وړاندې مې ضمير صفا وی. ۱۷ د يو څو کالونو د غير حاضرئ نه پس زۀ خپل قام ته د خيرات ورکولو او د نذرانو پيش کولو دپاره راغلے يم. ۱۸ کله چې ما دا کول نو دوئ زۀ د خُدائ په

کور کښې ولیدلم چې د پاکوالی رسم مې پوره کولو. ما سره نۀ څۀ ګڼه وه او نۀ کومه اله ګوله وه. خو د آسیه د صُوبې څۀ یهودیان هلته وُو. ١٩ کۀ د هغوئ زما خلاف څۀ شکایت وی نو هغوئ دې د اِلزام لګولو دپاره تاسو ته حاضر شی.
٢٠ یا دا چې دا کسان ووائی چې جرګې ته د پېش کولو نه وړاندې هغوئ په ما کښې څۀ قصور لیدلے وو، ٢١ سېوا د دې نه چې ما هلته د دوئ په وړاندې په اوچت آواز دا خبره وکړه چې نن ستاسو په وړاندې د مړو د بیا ژوندی کېدلو په بابت زما فېصله کیږی.“ ٢٢ بیا فِلیکس څوک چې د دې لارې د عقیدې نه ښۀ خبر وو، په دې وینا مقدمه ملتوی کړه چې، ”کله چې لسیاس کمان آفسر دلته راشی نو زۀ به ستا د مقدمې فېصله واورم.“ ٢٣ بیا هغۀ صوبه دار ته حُکم ورکړو چې، ”پولوس په قېد کښې وساتئ خو سختې ته یې مۀ نیسئ او د دۀ په دوستانو کښې هیڅوک هم د دۀ د ضرورتونو پوره کولو نه مۀ منع کوئ.“

## د پولوس رسول نظر بند کېدل

٢٤ څو څو ورځې پس فِلیکس د خپلې ښځې دروسیله سره راغلو څوک چې یهودنه وه. نو پولوس یې راوغوښتو او په عیسیٰ مسیح د ایمان راوړلو په حقله یې خبرې ترې نه واورېدلې. ٢٥ او څنګه چې هغۀ په صداقت او په نفس قابو ساتلو او د راتلونکی عدالت په حقله بیان شروع کړو نو فِلیکس ویرېدو او وې وئیل چې، ”اوس لاړ شه. کله چې زۀ اوزګار شم نو بیا به دې راوغواړم.“ ٢٦ هم په دغه وخت کښې هغۀ طمع کوله چې پولوس به ورته رشوت ورکړی او په دې وجه یې هغه څو ځله راوغوښتو او ورسره یې خبرې

وکړي. ۲۷ چې دوه کالونه تېر شول نو د فِلیکس په ځائ
پروکیوس فِستوس مقرر شو. او فِلیکس د یهودیانو د
خوشحالولو دپاره پولوس په قید کښې هم هغه شان
پرېښودلو.

## د پولوس رسول قیصر ته اپیل

۲۵ ۱ قیصریه صوبې ته د رسېدو نه درې ورځې پس
فِستوس ګورنر یروشلم ته لاړو. ۲ هلته ورته مشرانو
اِمامانو او د یهودیانو مشرانو د پولوس خلاف مقدمه پېش
کړه. ۳ او خواست يې ورته وکړو چې د پولوس خلاف په
مونږ دا مهربانی وکړه چې هغه یروشلم ته ولېږه، په حقیقت
کښې هغوئ په لاره د هغهٔ د وژلو سازش کړے وو. ۴
فِستوس په جواب کښې ووئیل چې، "پولوس په قیصریه
کښې قېدخانه کښې دے، او زهٔ په خپله هلته زر ورروان یم.
۵ نو ستاسو څهٔ مشران دې راسره لاړ شی او کهٔ د هغهٔ
خلاف څهٔ غلطی ثابته شی نو دعویٰ دې پرې وکړی." ۶
هغه هغوئ سره د لس اتهٔ ورځو نه زیات پاتې نهٔ شو، بیا هغه
قیصریه ته لاړو او په بله ورځ په عدالت کښې په خپله کُرسیٔ
کښېناستو او د پولوس د حاضرولو حکم يې وکړو. ۷ کله
چې هغه حاضر شو نو د یروشلم نه راغلی یهودیان د هغهٔ نه
راچاپېره شول او په هغهٔ يې سخت رنګارنګ اِلزامونه ولګول،
خو هغه يې ثابت نهٔ کړے شول. ۸ خو پولوس په خپلې
صفائی کښې ووئیل چې، "ما د یهودیانو د شریعت، د خُدائ
د کور یا د قیصر په خلاف څهٔ جرم هم نهٔ دے کړے." ۹
خو فِستوس د یهودیانو د خوشحالولو دپاره د پولوس نه

تپوس وکړو چې، ”ولې ته يروشلم ته تلل غواړې چې هلته په
دې مقدمه کښې زما په وړاندې پيش شې؟“ ۱۰ خو پولوس
ووئيل چې، ”نه، زۀ د قيصر په عدالت کښې ولاړ يم او زما
مقدمه دې هم دلته پيش کړے شی. او تا ته دا ښۀ پته ده چې
ما خو د يهوديانو خلاف هيڅ جرم نۀ دے کړے. ۱۱ کۀ
چرې زۀ ګناه ګار يم او داسې څۀ جرم مې کړے وی چې د
مرګ د سزا لائق وی نو زۀ د مرګ نه د تښتېدو کوشش نۀ
کوم. خو کۀ چرې زما خلاف اِلزامونو کښې څۀ حقيقت نۀ
وی نو څوک هم ما دوئ ته نۀ شی سپارلے. زۀ قيصر ته اپيل
کوم.“ ۱۲ بيا فِستوس د خپلو مشرانو سره د مشورې نه پس
پولوس ته جواب ورکړو چې، ”تا قيصر ته اپيل کړے دے،
نو تۀ به قيصر ته لاړ شې.“

## د فِستوس د اګريپا بادشاه سره مشوره کول

۱۳ د څو ورځو تېرېدو نه پس اګريپا بادشاه او بِرنيکی
قيصرِيه ته راغلل چې فِستوس ته هرکلے ووائی. ۱۴ هغوئ
هلته ډيرې ورځې پاتې شول نو فِستوس د پولوس مقدمه
بادشاه ته وړاندې کړه او وې وئيل چې، ”مونږ سره يو سړے
دے چې فِليکس په قېدخانه کښې پرېښے دے. ۱۵ کله چې
زۀ په يروشلم کښې وم نو مشرانو اِمامانو او د يهوديانو
مشرانو ما ته د هغۀ په حقله اِطلاع راکړه او د هغۀ خلاف يې
د سزا د حکم کولو سوال وکړو. ۱۶ ما هغوئ ته جواب
ورکړو چې دا د روميانو دستور نۀ دے چې مجرم د هغۀ
مدعيانو ته وسپارى ترڅو چې مجرم ته د مدعيانو په مخامخ
د صفائی پيش کولو موقع ورنۀ کړی. ۱۷ نو کله چې هغوئ
ما سره دلته راغلل نو ما وخت ضائع نۀ کړو او په بله ورځ په

عدالت کښې کښېناستم او د هغه سړی د حاضرېدو حکم مې
وکړو. ۱۸ کله چې د هغهٔ مخالفين خبرو ته پاڅېدل نو
هغوئ داسې اِلزام پېش کړو چې زما په خيال خاطر کښې
ترې نه طمع هم نهٔ وه. ۱۹ خو د هغې په ځائ هغوئ خپل
دينی بحث شروع کړو او د دوئ اختلاف په دې خبره وو چې
يو مړ کس دے چې نوم يې عيسیٰ دے، خو د پولوس وينا دا
ده چې هغه مړ نهٔ دے، ژوندے دے. ۲۰ خو کله چې زهٔ د
دې مسئلې په حل پوهه نهٔ شوم نو ما ورته دا ووئيل چې کهٔ تهٔ
غواړې چې يروشلم ته لاړ شې او هلته ستا مقدمه پېش کړے
شی. ۲۱ خو پولوس اپيل وکړو چې هغه دې د قيصر د
فېصلې دپاره دلته وساتلے شی، نو ما حکم وکړو چې تر
هغې دې هغه دلته وساتلے شی ترڅو چې يې زهٔ قيصر ته
ولېږم.“ ۲۲ بيا اګرپيا فِستوس ته ووئيل چې، ”زهٔ د دې
سړی خبرې په خپله اورېدل غواړم،“ هغهٔ جواب ورکړو چې،
”سبا به تهٔ د هغهٔ خبرې واورې.“ ۲۳ نو په بله ورځ اګرپيا او
بِرنيکی په شان او شوکت سره عام دربار ته رانوتل چې
ورسره لوئ آفسران او د ښار خاص مشران وُو. بيا فِستوس
د هغهٔ د پېشۍ حکم وکړو او پولوس دننه حاضر کړے شو.
۲۴ بيا فِستوس ووئيل چې، ”اے اګرپيا بادشاه او موږ سره
موجودو ټولو حاضرينو، تاسو دا سړے وينئ د چا په حقله
چې ټولو يهوديانو دلته او په يروشلم کښې ما ته خواست
کړے دے او دا چغې يې وهلې چې دے نور د ژوندی پاتې
کېدو قابل نهٔ دے. ۲۵ خو ما ته پته ولګېده چې دهٔ داسې څهٔ
نهٔ دی کړی چې ورته دې د مرګ سزا ورکړے شی. او کله
چې هغهٔ قيصر اعظم ته اپيل وکړو نو ما د هغهٔ د لېږلو
فيصله وکړه. ۲۶ خو ما سره د دهٔ په حقله څهٔ داسې پوخ

اِلزام نشته چې قيصر ته يې وليکم، نو ځکه ما دے ستاسو ټولو په وړاندې او خاص د بادشاه اګريپا په وړاندې پېش کړو، نو چې د دۀ تفتيش کولو نه پس زۀ څۀ وليکم. ٢٧ ځکه چې ما ته دا نامناسب ښکارى چې د يو قېدى خلاف څۀ ښکاره جرم نۀ وى او هغه بادشاه ته ولېږلے شى."

## د پولوس رسول د اګريپا بادشاه په وړاندې خپله صفائى پېش کول

٢٦ ١ بيا اګريپا پولوس ته ووئيل چې، "تا ته د خپل ځان په حقله د خبرو کولو اجازت دے."

بيا پولوس خپل لاس اوچت کړو او خپله صفائى يې داسې پېش کړله چې، ٢ "اے اګريپا بادشاه. زۀ خپل ځان خوش قِسمته ګڼم چې ستا په وړاندې ولاړ يم او د خپل ځان په حقله د هغه ټولو اِلزامونو صفائى پېش کوم چې يهوديانو راباندې لګولى دى. ٣ او خاص تۀ د يهوديانو د رِواجونو او اختلافاتو نه ډېر ښۀ واقف يې نو ځکه تا ته مِنت کوم چې زما خبرې په تسلۍ سره واوره. ٤ زما د ځوانۍ نه زما ژوندون ټولو يهوديانو ته معلوم دے چې د شروع نه ما ژوند د خپلو خلقو سره او په يروشلم کښې تير کړے دے. ٥ دوئ ما د ډېر وخت نه پېژنى او کۀ غواړى نو دا تپوس هم کولے شى چې زۀ يو فريسى يم کومه چې زمونږ د مذهب د ټولو نه سخته فرقه ده. ٦ او اوس زۀ د هغه وعدې په اُميد دلته د فيصلې دپاره ولاړ يم کومه چې زمونږ د پلار نيکونو سره خُدائ پاک کړې وه. ٧ بلکې زمونږ دولس قبيلې د هغې

وعدې د پوره کېدو په طمع کښې شپه او ورځ پوره په جوش
او جذبې سره عبادت کوی. اے بادشاه سلامته، هم په دې
وجه يهوديان په ما اِلزامونه لګوی. ۸ نو دا خلق ولې دا
خبره ناممکنه ګڼی چې خُدائ پاک مړی بيا راژوندی کوی؟
۹ خو په حقيقت کښې ما اول هم دا خبره ضروری ګڼله
چې د عيسىٰ ناصری د نوم خلاف ډېر څۀ کارونه وکړم. ۱۰
او په يروشلم کښې ما هم دغه شان وکړل، د مشرانو اِمامانو
په واک او اختيار مې ډېر مقدسين قېدخانو ته واچول او کله
چې به په هغوئ د مرګ فتویٰ لګېدله نو زما رائ به هم
ورسره وه. ۱۱ ما په ټولو عبادتخانو کښې هغوئ ته سزا
ورکوله او کوشش مې دا وو چې دوئ په دې مجبور شی چې
کُفر ووائی او زۀ هغوئ ته دومره ډېر غصه وم چې د هغوئ د
زورولو پسې به نورو مُلکونو او ښارونو ته هم تلم.

## د پولوس رسول د ايمان راوړلو بيان

۱۲ دغسې په دې سوچ سره زۀ د مشرانو اِمامانو په اختيار
او حکم د دمشق په سفر روان وم. ۱۳ نو اے بادشاه
سلامت، کله چې زۀ په غرمه کښې په لاره روان وم نو ما د
آسمان نه يوه رڼا وليدله چې د نمر نه هم زياته تېزه وه، دا
زما او زما د ملګرو نه ګېرچاپېره وځلېده. ۱۴ کله چې مونږ
ټول په زمکه پرېوتلو نو ما په عبرانی ژبه کښې يو آواز
واورېدلو چې ما ته يې داسې ووئيل چې، ”ساؤله، ساؤله، تۀ
ما ولې زوروې؟ موږی ته لته ورکول به تا ته ګران پرېوځی.“
۱۵ ما جواب ورکړو چې، ”مالِکه، تۀ څوک يې؟“ بيا هغۀ ما
ته وفرمائيل چې، ”زۀ عيسىٰ ناصری يم چې تۀ يې زوروې.
۱۶ خو اوس پاڅه، او نېغ په خپلو پښو ودرېږه. زۀ د دې

دپاره تا ته ښکاره شوم چې تا خپل خِدمتګار او ګواه مقرر
کړم. او چې دُنیا ته تهٔ د دې څیزونو ګواهي ورکړې کوم چې
تا ولیدل او څهٔ چې به وروستو زهٔ تا ته ښکاره کړم. ۱۷ زهٔ
به تا د خپلو خلقو او د غېریهودیانو نه بچ کړم، چا ته چې زهٔ
تا لېږم ۱۸ چې د هغوئ سترګې کولاو کړې، او هغوئ د
تیارې نه رڼا ته او د شېطان د اختیار نه خُدائ پاک ته
راواړوې، چې هغوئ ته د ګناهونو نه معافي مِلاو شی. او د
هغوئ سره ورته ځائ مِلاو شی څوک چې په ما د ایمان
راوړلو په وسیله مقدس شوی دی.“

## د پولوس رسول د یهودیانو او د غېریهودیانو په وړاندې ګواهي ورکول

۱۹ نو ځکه اے اګریپا بادشاه، زهٔ د دې آسماني رویا نه
نافرمانه نهٔ شوم. ۲۰ زهٔ د ټولو نه اول د دمشق اوسېدونکو
ته راغلم او بیا یروشلم ته لاړم او د یهودیه ټولې علاقې او
غېریهودیانو ته مې هم دا اعلان وکړو چې دوئ دې توبه ګار
شی او خُدائ پاک ته دې رجوع وکړی. او داسې عملونه دې
وکړی چې د دوئ توبه ترې ښکاره شی. ۲۱ په دغه وجه
یهودیانو زهٔ د خُدائ په کور کښې ونیولم او زما د وژلو
کوشش یې وکړو. ۲۲ خو تر ننه پورې خُدائ پاک زما مل
دے، نو ځکه زهٔ دلته ستاسو په وړاندې ولاړ یم او لویو او
وړو ته دا ګواهي ورکوم د څهٔ چې نبیانو او موسیٰ پېشګوئې
کړې ده، د دې نه بغیر نور څهٔ نهٔ وایم، ۲۳ یعنې دا چې
مسیح به ضرور سختې وزغمی او هغه به د مړو نه اول بیا
راژوندے شی، او په داسې کولو سره به هغه زمونږ خلقو او

غېرِيهودیانو دواړو ته د رڼا اِعلان وکړی.“

## د پولوس رسول اګرِيپا ته د ايمان راوړلو اپيل

٢٤ لا پولوس په خپله صفائی کښې خبرې کولې چې
فِستوس په اوچت آواز ووئيل چې، ”پولوسه، تۀ ليونے يې،
ستا ډېر عِلم تۀ ليونے کړے يې.“ ٢٥ خو پولوس ووئيل
چې، ”اے معزز فِستوسه، زۀ ليونے نۀ يم، څۀ چې زۀ وايم
هغه د اعتماد قابل او رښتيا دی. ٢٦ بادشاه په دغه خبرو
ښۀ خبر دے او هغۀ سره زۀ په زړۀ ورتيا خبرې کوم. زۀ دا
يقين ساتم چې دا واقعې د هغۀ نه پټې نۀ دی، ځکه چې دا څۀ
پټه واقعه نۀ ده. ٢٧ نو اے اګرِيپا بادشاه، ولې تۀ په نبيانو
ايمان ساتې؟ ما ته پته ده چې ستا په هغوئ ايمان شته.“ ٢٨
اګرِيپا پولوس ته ووئيل چې، ”په لږ وخت کښې به تۀ ما قائل
کړې چې عيسائی شم؟“ ٢٩ پولوس جواب ورکړو چې، ”زر
يا وروستو، زۀ د خُدايه دا دُعا کوم چې نۀ يواځې تۀ بلکې
هغوئ ټول چې نن زما خبرې اوری، هغوئ دې بغېر د زولنو
نه زما په شان شی.“ ٣٠ بيا بادشاه او هغۀ سره ګورنر، او
بِرنيکی او ټول چې ورسره ناست وو هغوئ پاڅېدل. ٣١
او چې هغوئ تلل نو يو بل ته هغوئ ووئيل چې، ”دې سړی
داسې څۀ کار نۀ دے کړے چې د مرګ يا د قيد لائق وی.“
٣٢ خو اګرِيپا فِستوس ته ووئيل چې، ”کۀ دې سړی قيصر
ته اپيل نۀ وے کړے نو دے آزادېدے شو.“

## د پولوس رسول روم طرف ته سفر

٢٧ ١ کله چې دا فيصله وشوه چې مونږ به اِټلی ته په

سمندرى جهاز کښې ځو نو پولوس او څۀ نور قېديان د
قيصر د پلټنې يو صوبه دار يوليوس ته وسپارلے شول. ٢
بيا مونږ د ادرمتيم ښار په يوه کشتۍ کښې کښېناستو چې د
آسيه د صوبې بندرګاهو ته تلو او په سمندر کښې روان شُو.
زمونږ په ملګرو کښې د تِسالونيکيه يو مِکدونى سړے وو چې
نوم يې اريسترخوس وو. ٣ په بله ورځ مونږ په صيدا کښې
کوز شُو او يوليوس ډېر په مهربانۍ پولوس ته اجازت ورکړو
چې خپلو دوستانو ته ورشى نو چې هغوئ د هغۀ ضرورتونه
پوره کړى. ٤ چې د هلته نه روان شُو نو په سمندر کښې د
تېزې سيلۍ په وجه مونږ د قبرص د جزيرې په ژۍ ژۍ کښې
لاړو ځکه چې هلته هوا کمه لګېده. ٥ د کلکيه او د پمفوليه
د سمندر نه د تېرېدو نه وروستو مونږ په لکيه کښې ميره
نومې ښار ته راغلو. ٦ هلته صوبه دار د اسکندريه يو جهاز
وموندلو چې اِټلى ته روان وو او مونږ يې په کښې سوارۀ
کړو. ٧ تر ډېرو ورځو پورې مونږ ډېر ورو ورو تلو او
کنيدوس ته په ډېر تکليف ورسېدو. او چې هوا زمونږ مخالف
وه نو مونږ د کريت په ژۍ ژۍ کښې سلمونې ته لاړو. ٨ په
مشکل سره مونږ د سمندر په غاړه تلو، بيا مونږ يو ځائ ته
راغلو چې نوم يې ښائسته بندرګاه وه چې د لسيه ښار سره
نزدې وو. ٩ اوس کافى وخت تېر شوے وو او په سمندرى
سفر تلل خطرناک وُو ځکه چې روژه هم تېره شوې وه. نو
پولوس هغوئ ته دا مشوره ورکړه ١٠ او وې وئيل چې،
”اے عزتمندو، ما ته ښکارى چې دا سفر به خطرناک وى او
دا به يو لوئ نقصان وى، نۀ صرف د جهاز او د سامان بلکې
زمونږ د ژوند تاوان به هم وى.“ ١١ خو پولوس چې څۀ
ووئيل نو صوبه دار د هغې په ځائ د مالکى او د جهاز د

مالِک رایه زیاته بهتره وګڼله. ۱۲ ځکه چې هغه بندرګاه د ژمي د موسم د تېرولو دپاره مناسب نۀ وه نو ډېرو خلقو د سمندر د سفر رایه خوښه کړه او اُمید یې وو چې فنیکس ته به ورسیږی او هلته به ژمے تیر کړی، دا د کریت د جزیرې یوه بندرګاه ده چې مخ یې جنوب مغرب ته او شمال مغرب ته دے.

## په سمندر کښې طوفان

۱۳ کله چې د جنوب نه نرۍ هوا راوالوته نو هغوئ ګُمان وکړو چې هغوئ خپل مقصد تر سره کولے شی، نو لنګر یې پورته کړو او غاړې ته نزدې د کریت په ژۍ ژۍ کښې روان شول. ۱۴ خو ډېر وخت نۀ وو تېر شوے چې یوه طوفانی هوا د جزیرې نه راوالوته چې ورته شمال مشرقی هوا وائی. ۱۵ نو چې جهاز ګېر شو او په طوفان کښې مخکښې نه شو تلے، نو مونږ ورته لاره ورکړه او هوا سره روان شُو. ۱۶ مونږ د کاوده نومې یوې ورکوټې جزیرې په ژۍ ژۍ کښې لاړو او هلته مو په مشکل سره د جهاز کِشتۍ قابو کړه. ۱۷ جهاز ته یې د خېژولو نه وروستو د حفاظت دپاره کشتۍ په پړو وتړله، بیا هغوئ په دې یرېدل چې هسې نه د سرتیس په شګو کښې ونښلی، نو هغوئ سمندر ته لنګر ورکوز کړو او جهاز یې د هوا په مخ روان کړو. ۱۸ په بله ورځ چې ډېر سخت طوفان وو نو هغوئ د جهاز نه بوج کمولو دپاره سامان غورزول شروع کړل. ۱۹ او په دریمه ورځ یې د جهاز آوزار په خپلو لاسونو وغورزولو. ۲۰ کله چې تر ډېرو ورځو، نۀ نمر ښکارېدو او نۀ ستوری، بلکې سخت طوفان چلېدو نو آخر زمونږ د بچ کېدو ټول اُمید هم ختم شو. ۲۱

هغوئ د ډېرو ورځو نه بې‌خوراکه وُو، نو پولوس د هغوئ په
مينځ کښې ودرېدو او وې وئيل چې، ”اے عزتمندو، تاسو ته
په کار وو چې د کريت نه د سفر د نۀ کولو په حقله زما خبره
مو منلے وے، نو د دې نقصان او تاوان نه به بچ شوی وئ.
۲۲ خو اوس زۀ درته نصيحت کوم چې زړونه مۀ بائيلئ
ځکه چې په تاسو کښې به هيڅ څوک هم مړ نۀ شی خو
صرف جهاز به غرق شی. ۲۳ ځکه چې بيګاه د هغه خُدائ
پاک د چا چې زۀ يم او د چا چې زۀ عبادت کوم، د هغۀ يوه
فرښته ما سره ودرېدله ۲۴ او هغې راته ووئيل چې پولوسه،
يرېږه مه، تۀ ضرور د قيصر په وړاندې ودرېږه، او څوک چې
تا سره په جهاز کښې دی، خُدائ پاک به ستا د خاطره هغوئ
بچ کړی. ۲۵ نو اے سړو، خپله حوصله په ځائ کړئ. ځکه
چې زما په خُدائ پاک ايمان دے چې څنګه چې ما ته وئيلے
شوی دی، بلکل هم داسې به وشی. ۲۶ خو مونږ به ضرور د
يوې جزيرې په غاړه وغورزولے شُو.“ ۲۷ کله چې
څوارلسمه شپه راغله او مونږ لا د ادريه په سمندر کښې په
جهاز کښې يو خوا بل خوا روان وُو چې په نيمه شپه د جهاز
ماڼکيانو دا محسوسه کړه چې زمکه رانزدې کيږی، ۲۸ نو
هغوئ اندازه واخسته او ژوروالے يې څلوېښت ګزه وختلو.
او لږ ساعت پس يې چې بيا اندازه واخسته نو ديرش ګزه وه.
۲۹ هغوئ يرېدل چې هسې نۀ چې جهاز د ګټانو سره ډغره
وخوری، نو د شا طرف نه هغوئ څلور لنګرونه واچول او د
سحر کيدو دپاره يې دُعا وکړه. ۳۰ خو ماڼکيانو د جهاز نه د
تښتېدلو کوشش کولو. هغوئ د جهاز نه کِشتئِ سمندر ته
کوزه کړه او بهانه يې وکړه چې مونږ د جهاز د څوکې نه
لنګرونه اچوو. ۳۱ نو پولوس صوبه دار او سپاهيانو ته

ووئیل چې، ”کهٔ دا سړی په جهاز کښې پاتې نهٔ شی نو په
تاسو کښې به يو کس هم بچ نهٔ شی.“ ۳۲ نو سپاهیانو د
کِشتۍ پړی پرېکړل او کولاو يې پرېښودله چې ځی. ۳۳ د
سحر کېدو نه لږ وړاندې پولوس ټولو ته منت وکړو چې څهٔ
وخورئ. هغهٔ ووئیل چې، ”د تېرو څوارلسو ورځو نه تاسو په
شک کښې وئ او بې‌خوراکه وئ او تاسو هيڅ هم نهٔ دی
خوړلی. ۳۴ نو ځکه زهٔ تاسو ته خواست کوم چې څهٔ لږ
خوراک وخورئ، ځکه چې دا ستاسو د ژوندی پاتې کېدو
دپاره اهم دی، او ستاسو د سرونو نه به يو وېښتهٔ قدرې هم
ورک نهٔ شی.“ ۳۵ د دې وينا نه وروستو هغهٔ روټۍ
راواخستله او د هغوئ ټولو په وړاندې يې د خُدائ پاک شُکر
پرې ووئیلو، هغهٔ دا ماته کړه او په خوراک يې لاس پورې
کړو. ۳۶ بيا هغوئ ټول زړَور شول او په خپله يې خوراک
وکړو. ۳۷ مونږ ټول په جهاز کښې دوه سوه شپږ اويا کسان
وُو. ۳۸ هغوئ د مړېدلو نه وروستو د جهاز د وزن سپکولو
دپاره غنم سمندر ته ورګزار کړل.

## د جهاز تباه کېدل

۳۹ کله چې ورځ شوه نو هغوئ زمکه ونهٔ پېژنده خو د خليج
غاړه يې په نظر شوه، نو هغوئ فيصله وکړه چې کهٔ کېدے
شی نو په دې به جهاز وخيژوُو. ۴۰ نو هغوئ د لنګر پړی
پرې کړل او په سمندر کښې يې پرېښودل. او هم په هغه وخت
هغوئ د جهاز د چپُو پړی سست کړل او مخکښې بادبان يې
باد ته وخيژولو او هغوئ د غاړې طرف ته جهاز روان کړو.
۴۱ خو بيا جهاز شګلن ځائ ته ورسېدو او په زمکه
ولګېدلو. د جهاز مخکښې حِصه ولګېده او انښتې پاتې شوه

خو وروستونی حِصه یې د چپو په زور ماته شوه. ۴۲ نو د
سپاهیانو اراده دا وه چې قېدیان به ووژنو هسې نه چې په
لامبو وهلو وتښتی. ۴۳ خو صوبه دار غوښتل چې پولوس
بچ کړی او هغوئ یې له دې صلاح نه منع کړل. هغهٔ حُکم
ورکړو چې هر چا له چې لامبو ورځی هغه دې اول سمندر ته
ټوپ کړی او وچې ته دې ځان ورسوی. ۴۴ او نور به
ورپسې، څهٔ په تختو او څهٔ د جهاز په ټوټو ځی. او دغه شان
ټول په خیر سره وچې ته ورسېدل.

## پولوس رسول د مالټا په جزیره کښې

۲۸ ۱ هلته په خیر خیریت سره د رسېدو نه پس مونږ ته
دا پته ولګېده چې د دې جزیرې نامه مالټا ده. ۲ د جزیرې
اوسېدونکو مونږ ته خپله ډېره مهربانی وښودله. ځکه چې
باران شروع شوے وو او یخنی وه نو مونږ ته یې اور بل کړو
او ټولو ته یې تود هرکلے ووئیلو. ۳ نو پولوس د لرګو یوه
ګېډۍ راجمع کړې وه او هغه یې په اور واچوله نو د اور د تاو
په وجه د هغې نه یو زهریله مار راووتو او هغه یې په لاس
وچیچلو. ۴ کله چې د جزیرې خلقو د هغهٔ د لاس نه مار
ځوړند ولیدو نو یو بل ته یې ووئیل چې، ”دا سړے به خامخا
یو قاتل وی، هغهٔ کهٔ څهٔ هم خپل ځان د سمندر نه بچ کړو
خو خُدائ پاک د هغهٔ نه بدل واخستو او هغه یې داسې پرې
نهٔ ښودلو.“ ۵ خو پولوس مار اور ته وغورزولو او څهٔ
نقصان ورته ونهٔ رسېدلو. ۶ هغوئ دا ګُمان کولو چې هغه
به وپړسېږی او سمدستی به مړ شی، خو د ډېرې شیبې د
اِنتظار نه پس هغوئ ولیدل چې په هغهٔ هیڅ اثر ونهٔ شو نو

هغوئ خپل خيال بدل کړو او وې وئيل چې، ”دا هم يو خُدائ
دے.“ ۷ د دغه ځائ په خوا او شا کښې د دغه جزيرې د
حاکِم زمکې وې چې نوم يې پوبليوس وو. هغهٔ مونږ خپل کور
ته بوتلو او درې ورځې يې ډېر په درناوی مېلمانهٔ کړو. ۸
چې کله د پوبليوس پلار د تبې او د دستونو په وجه په کټ
بيمار پروت وو، نو پولوس هغهٔ له ورغلو، دُعا يې ورته
وکړله، خپل لاس يې پرې کېښودو او شفا يې ورکړه. ۹ نو
د دې واقعې نه پس د جزيرې نور بيماران هم راغلل او هغوئ
روغ شول. ۱۰ هغوئ مونږ ته په ډالۍ راکولو ډېر عزت
راکړو او څهٔ وخت چې مونږ رخصتېدو نو هغوئ د ضرورت
ټول څيزونه زمونږ دپاره په جهاز کښې کېښودل.

## د پولوس رسول روم ته رارسېدل

۱۱ د درېو مياشتو نه پس مونږ په هغه سمندری جهاز کښې
روان شُو چې ژمے يې په دې جزيره کښې تير کړے وو، او
دا د اسکندريه جهاز وو چې د هغې په مخامخ څوکه د جوړه
معبودانو کاستر او پولکس نښې جوړې وې. ۱۲ مونږ په
سرکوسه ښار کښې کوز شُو او هلته مو درې ورځې تېرې
کړې. ۱۳ بيا د هغه ځائ نه روان شُو او په جهاز کښې
ريګيوم ته لاړو او بيا يوه ورځ پس جنوبی بادونه شروع شُو
او په دويمه ورځ مونږ د پوتيلی بندرګاه ته راورسېدو. ۱۴
هلته مونږ څهٔ ايمانداران وروڼه وموندل او هغوئ مونږ ته
دعوت راکړو چې هغوئ سره يوه هفته ايسار شُو. او دغه
شان مونږ روم ته راغلو. ۱۵ د هغه ځائ وروڼو چې زمونږ د
راتلو خبر واورېدو نو هغوئ مونږ سره مِلاوېدو له د اپيوس
تر بازاره او د درېو سرايونو چوک پورې راغلل. کله چې

پولوس هغوئ وليدل نو هغۀ د خُدائ پاک شُکر وويستو او
ډاډه شو. ١٦ کله چې مونږ روم ته ورننوتو نو پولوس ته د
يواځې اوسيدو اجازت مِلاو شو او يو سپاهی د هغۀ د
څوکيدارئ دپاره مقرر کړے شو.

## په روم کښې پولوس رسول او يهودی مشران

١٧ درې ورځې پس هغۀ د هغه ځائ يهوديانو مشران
راوبلل. کله چې هغوئ راټول شول نو هغۀ ورته ووئيل چې،
”اے زما ورونړو، ما چرې هم د خپلو خلقو خِلاف کار نۀ دے
کړے او نۀ مې د خپلو پلار نيکونو لار پريښې ده، خو بيا هم
زۀ په يروشلم کښې قيد کړے شوم او د روميانو لاس ته
وسپارلے شوم. ١٨ کله چې هغوئ زما تحقيقات وکړل نو
روميانو غوښتل چې ما آزاد کړی ځکه چې زما په مقدمه
کښې ما ته د مرګ د سزا د ورکولو هيڅ وجه نۀ وه. ١٩ خو
کله چې يهوديانو دا ونۀ منله، نو زۀ مجبور شوم چې قيصر ته
اپيل وکړم، اګر کۀ زۀ د خپل قوم خلاف څۀ اِلزام نۀ لګوم.
٢٠ دغه وجه ده چې ما دا غوښتل چې تاسو ووينم او خبرې
درسره وکړم چې زۀ د هغه چا په خاطر په زنځيرونو کښې
تړلے شوے يم چې بنی اِسرائيل د هغۀ په طمع دی.“ ٢١
هغوئ جواب ورکړو چې، ”مونږ ته د يهوديه نه هيڅ داسې
خط نۀ دے راغلے او نۀ څوک زمونږ ورور د دې اِطلاع
راکولو دپاره دلته راغلے دے چې ستا په حقله يې بد وئيلی
وی. ٢٢ خو مونږ ستا نه اوريدل غواړو چې ستا څۀ خيال
دے، ځکه چې مونږ ته پته ده چې هر چرته د دې فرقې خلاف
خبرې کيږی.“ ٢٣ هغوئ د هغۀ سره د وخت مقررولو نه
وروستو په ګڼ شمير کښې د هغۀ کور ته راغلل. هغوئ ته د

سحر نه تر ماښامه پورې هغهٔ د خُدائ پاک بادشاهی بیان
کړه او ګواهی یې ورکړه او دا کوشش یې وکړو چې د موسیٰ
د شریعت او د نبیانو د صحیفو دواړو نه هغوئ د عیسیٰ په
حقله قائل کړی. ۲۴ ځینې خو د هغهٔ په وینا سره قائل شول
خو ځینو په هغهٔ باور ونهٔ کړو. ۲۵ نو د هغوئ په مینځ کښې
بې‌اتفاقی راغله کله چې هغهٔ یوه خبره وکړه نو هغوئ روان
شول. نو د پولوس هغه خبره دا وه چې، ”د یشعیاه نبی په
وسیله روحُ القُدس ستاسو پلار نیکونو ته ښهٔ وئیلی وُو چې،
۲۶ ”دې خلقو له ورشه او ورته ووایه، تاسو به یې په خپلو
غوږونو واورئ خو پوهه به پرې نهٔ شئ، تاسو به یې په خپلو
سترګو وینئ خو او به پرې نهٔ رسېږئ. ۲۷ ځکه چې د دې
اُمت زړونه سخت شوی دی، او په مشکله سره خبرې ته غوږ
ږدی او سترګې یې پټې کړې دی. هسې نه چې هغوئ په خپلو
غوږونو واوری او په خپلو سترګو ووینی او خپل زړونه نرم
کړی او ما ته واپس راوګرځی او زهٔ هغوئ روغ کړم.“ ۲۸ -
۲۹ پرېږدئ چې تاسو ته پته ولګی چې د خُدائ پاک دا
خلاصون غیریهودیانو ته رالیږلے شوے دے او هغوئ به
ورته غوږ نیسی.“ ۳۰ نو هغه هلته پوره دوه کاله په خپله
خرچه اوسېدو او هر هغه چا ته به یې هرکلے وئیلو، څوک
چې به هغهٔ له راتلل. ۳۱ او هغهٔ د خُدائ پاک د بادشاهۍ
بیان کولو او د مالِک عیسیٰ مسیح په حقله یې په زړهٔ ورتیا
او بغیر د څهٔ پابندۍ تعلیم ورکولو.

pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹